# ښځال ختګ څه والی؟

ښکو ښکی

ژوف ییوا

دافغان به ننګ مې وتړله تسوره

ننګ لا دغه زما خوشحال ختګ بس

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوشحال خټک څه وایی؟

لیکونکی

عبدالرؤف بینوا

۱۳۲۹

د کابل عمومي مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یادونه

دوه کاله دمخه مادا کتاب دیوه حساس ملګری په‌شخصی پیسو پـه هندوستان کی‌چاپ کړی و، هغه‌وخت چه‌دا کتاب دپـا کستا ن لـه لاری افغانستان ته راتیء، پا کستانی حکومت صرف‌په‌دې جرم چه په د ې کتاب کی دخوشحال خان له‌خولې پښتنو ته دپښتنو لیږ درس ور کړه شـوی دی دبین‌الاقوامی قرانزیت داصولو پرخلاف ئې ددې کتاب دوه لیم زره جلدونه ضبط کړل اولـکه دپښتنولیږ زړو دښمنانو چه خوشحال‌خان په ژوند بندی کړی و، دې دپښتنولیږ نویو غلیمانو دده افـکار په‌زندان کی‌واچول، مگر پښتو او پښتنولی‌حق‌دی اوحق څوك بندی کولای نشی، نوځـکه پښتو تو لنه غواړی‌چه دخوشحال‌خان دادپښتنولیږ درس بیاچاپ اونشر کړی. دا کتاب به‌هم په کـابل مجله کی پرله پسې چاپیږی‌او هم‌به لحاظته نشرشی. (بینوا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# پښتنو ته وايم

زه دا کتاب د پښتنو د ښوالي د پاره لیکم، او غواړم هغه ارمانونه چه د دوی د سعادت د پاره د پښتنو لوی پیاوړی شاعر او د پښتنو ملی قائد خوشحال خان خټک گورته له ځانه سره وړی دی، پښتنو ته واوروم لیکه دی چه پخپله وائی :

پښتانه چه بې ننګی کا څوك ئې څه کا
گورستان لره یه دروم له ار ما نه

گوندی وی چه پښتنو کښې شنوا غوږ ونه او حساس ماغزه پیداشی او د دې درد ناکو چیغو په اثر قول پښتانه له درانه خوبه را ویښ شی .

زه پښتنو ورونو ته کومه افسانه نه وایم، او نه د دوی د نیکونو پخوانی کارنامې اوزاړه افتخارات ورته شمیرم، بلکه زه د دوی د پښتنی ژوند هغو نواقصو ته ملتفت کوم چه خوشحال خان خټک د پښتنو د ملی مشر به حیث څو سوه کاله د مخه ورك کړی وو، او پښتنو ته ئې د هغو د اصلاح چیغی کړی وې او دې نواقصو تر اوسه هم د دوی پښتنو اله نیګرې سا تلې ده اوله بده مرغه ئې د دوی د قومی وحدت رسی شلولې ده .

پښتانه به ما وښی که زه له دوی سره د خوشحالخان له خولې سپینی او رښتیا خبری و کړم، لکه چه د پښتنو الی بومهم رکن چه متاسفانه اوس ئې د برلیز مراعات کیږی رښتیا رښتیا ویل دی، پخپله خوشحال خان وایی :

لخوان وم دایم زړه شوم په رښتیا رښتیا خبرو
عالم د لخان د ښمن کړم که د اعیب دی هم دی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله داچه زمونږ غواړم پښتانه لاتر ابده ډیل پهغوږ کښې ویدم وساتلی شي
نوسرنهئي دافتخاراتو اوبې ځایه غرور ملو» ویلهشي. پښتانه یا یه پوه شي
چهدری ډلیا برتولو قومونو سره پاته قومونه اوددنیا به هیڅ اولس کښې
دومره بدبختي نشته لکه تر چه دپښتنو به اولس کښې لیدلې کیږي .
ښکلو که پښتانهغواړي چهبه دې اتمې عصر کښې خپل ژوندلوم ژوندیء وساتي
او یاخانونه ددنیا دژوند یوقومونو پهصف کښې ودروي دری نه خورا مهم
مهم کارونه کوري او ددری دژوندون وظیفې ډیری درنې دي خدای دې
نه کړي کهاوس همزا وینې نشي اوهم دا سي دغفلت پهخوب ویده وي شك
نشته چهزریه دهشي له کته دنیستي کندې تهپرېوزي او نوربه ئې بیانوم
همخوك وانه وري .

( عبدالرؤف بینوا )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اهدأ

د پښتانه نوی نسل ته

چه

د خوشحال بابا نیمګړی

ارمانونه به دوی پوره کوی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دافغـان په تنـگـ مـی وتـړلـه تـوره
تنـگـیا لـی دز مانې خوشحال خټک یـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان وایي ،

# پښتني ننګه مه پریږدئ !

ځینې څه لویې دعوې لرم په زړه کښې
ولې څه کړم چه پښتون واړه بې ننګ دی

پښتنا چه پخوانی پښتانه خوداسی نه وه، هغوی پښتنی ننګه ترسره کول، د پښتنوالی مهم رکن باله، بې پښتنی ننګه ئې ځان واړه هر څه چه به کېدل خو کېدل به، مګر تیرو پښتنه به ضرور خپله ننګه پر ځای کوله، لږ وخت چه به د ننګ خبره منځ ته راغله نو پښتون نه پخپل سر بند ؤ، نه په مال او نه نور څه ...

څوك چه بې ننګه شو هغه د کور، کلي او کډ د نه پېغوره، بې ننګه سړی پښتون نه باله کېده، په بې ننګه زړی پلار او مور شرمېدل، پښتنو پېغلو بې ننګه مېړه نه غوښت، د ننګیالی پښتون نه هر ځای سنګونه کېدل، او هرچا به ئې ملګری او آشنائی غوښته، هر پښتون د ننګ لګزلمی و، که زور، دا زیار بوست چه یو ننګیالی پښتون شی او بله مند ستا و چه د یو ننګیالی سړی ښائی ځمن متصف کړی - ننګ څه شی ؤ ؟

په پښتو او پښتنوالی دو پدل، د خپل ناموس ساتل، د خپل وطن افتخار، شرف خوندی کول، او همت لرل، بل چا نه سړنه تېرول، خپلی خاوری نه پېژندی، څوك نه پرېښودل، د جنګ له میدانه تېښته نه کول، د چا نه مرئی کېدل، د بل احتیاج نه پدل، بل نه لاس نه غزول، خپل ګاونډی له هر راز مشکلا تو ساتل او کومك ور سره کول، غیرت در لودل، د خپل قوم د ژوند خیال ساتل، او نور ... دا پښتنی ننګ ؤ، او پښتنه هر ګډ قبلا و خو د بې ننګی نوم ئې پر ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وو، خوشحال خان خټک چه یو هوښیار مشر او بیا قومي حساس شاعر دی دپښتنو والي دامهم رکن ترهرڅه دپښتنو دپاره لازم او ضرور ګڼي، که پښتون په ننګ بندنه وي دهغه ژوند، ژوند نه بولي، وايي:

ننګیالي دننګ دپاره — په هر څه لګوي اور
چه په نام و ننګ اړ نه وي — که تل ژوي مخ ئې نور
سر په دارلګ شوي ښه دي — نه لګ شوي په پیغور

خوشحال خان یوازي دپښتنو دنیا دپاره ننګ ضروري نه ګڼي، بلکه دټول جهان بنسټ او اساس په ننګ او شرم ټینګ بولي، که دانه وي له پستي او بې ننګي څخه به دژوندون شیرازي سستي او دنیا به رانګه شي، دي وايي:

جهان شرم نام و ننګ دي
که دانه وي جهان رنګ دي

بلکه خوشحال خان هغه څوک چه ننګ تهاري له سره نرفه بولي، او وايي چه بې ننګه سړي به معنا کي یوه بې ننګه ارتینه ده:

چه د ننګ په چارو نرفه وي خوشحاله!
که ئې نروینې په ستر ګو هم ماده دي

هر پښتون ته وصیت کوي، چه په هیڅ وخت باید پښتني ننګ ته شا نه کړي او یو ننګیالي پښتون شي نو وايي:

خو دي توان توفیق رسیږي بیرون مشه
په هر دم د پښتانه له ننګ و نامه

داخود خوشحال خان وصیت تولو پښتنو ته و، مګر پخپله خوشحال خان څه کول؟ خوشحال خان څه عادي پښتون نهؤ، چه عادي فکرونه ئې کړاه او یا ئې پښتني ننګه یوازي دهغه کوه بدمه کړه!؟ مفهوم باله، د هغه سره دپښتنو دملي ژوندغم و، ځکه چه ده کتله چه دهغه دده غلو یه امپراطوري په خرا

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوش اوخروش کښې وه ، اوهر کله ئې د پښتونخوا غرونه اود پښتنو ملي ژوند تهديداوه ، او پښتانه ئې ورځ ، ورو ، دې ته را کاږل چه دا نکيا نو او پنجا بيا نوسره ګډ او په هغو کښې محزتې اوخپل ملي شته وا لي با يلي ، نو خوشحال خان تر هرې پښتنې ننګې دمخه خپل لحان نه ددې پښتنې ننګې نوسره کول تا کلي اولازم ګڼلي وه چه پښتانه و يې کړي اودوی خپل تيت اوپاتان ژوند نه ملتفت او په دې خبره ئې پوه کړي چه پښتنو ته يوقومي تشکيل لازم دی ، د پښتنو خاوره بايد دبل هيواد ضميمه نشي او د پښتنا نه دالوی قوم دبل چاتر حکم لاندې ندوی ، رښتيا همداده چه په هغه وخت کښې دامفکوره خورا لويه پښتنې ننګه بلله کېده . نوځکه خوشحال خان دې لوړو افکارو ناقراره کړی و ، اوددې افکارو دعملي کولو دپاره سر ګردانه ګرزيده اوغوښته ئې چه پښتون قوم بيدار او پخپلو افکارو پوه کړي ، دې وائي :

| | |
|---|---|
| چه نه لري ننګو نه | وئې مه وينې رنګو نه |
| دادننګ دپاره ګرزم | په دا هسې ګر نګونه |
| سدرحمت را باندې ښايي | په دا هسې آ هنګونه |

مګر خوشحال خان بې تجربې اوازم سړی نه و ، بلکه يوخ سياس و ، په کار کښې ئې تلوار ښه نه ګاڼه ، دخپلې مفکورې ، دعملي کولو د پاره ئې دپر وخت نه ضرورت و ، نو ځکه ئې دپلار دمرګه وروسته چه دی دقوم مشر شو دهند دمغولي پاچا شاه جهان اه اطاعته سر و نه غړ اوه ، خو سره ددې هم پښتنو پخپل منځ کښې پوره استقلال درلود اوخوشحال خان د پښتنو دپاره هيڅ وخت دبل چا مرئې نوب نه خو ښاوه اونه ئې مانه .

شاه جهان هم د پښتنو خاموشي غنيمت ګڼله د پښتنو په داخلي آزادۍ ئې غرض نه درلود ، مګر په (١٠٦٩) هجری کال چه اورنګ زيب عالمګير د شاه جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قابله زوی ، چه خپل پلار لې د خپل ذاتي غرض د پاره بندي کړ ، او پخپله په تخت کښېناست نو د پښتنو داخلي آزادي ئې هم په نه ستر ګه نه لیدله ، او هر کله به ئې غیر حق مداخله کوله ، دې مداخلې برخوشحال خان او د کټرو ډېرو پښتنو ډېر بد تاثیر وکړ او خوشحال خان ئې مجبور کړ چه اورنګ زیب ته ویاخېږي او خپله هغه پښتنې ننګه چه ترا رسه ئې یو ځای وه په ښکاره پرځای کړي ، لېکه چه خوشحال خان دهغه پدنیت پوهیده چه دې غواړي پښتانه دځان مرګی کړي ، او دوی له اینګلیا نو سره ګډ او یو هغوی کښې ئې ورک کړي ، نو دهغه سرد ئې په ښکاره برخلاف نروغ کړه او په هیڅ رنګ ئې هغه ته سر نه ټیټاوه ، هو! یوه پښتون ته نږدې لو به بې ننګی نشته چه خپله پښتنو اله او قومیت پریږدي او دپردیو دښمنانو نوکر او تابع شي ، خوشحال خان خپله قطعي فیصله داسې اعلان کړه :

بله هیڅ لیدله نشي یه دا منځ کښې
یا مغل دمنځه ورک یا پښتون خوار

اورنګ زیب چه دخوشحال خان پدنیت خبر شو ، نو لومړی خو ئې نو ښه په لافو اوشافو خوشحال خان ډوډه وی ، مګر خوشحال خان خود ویرې سړی نهؤ ، بلکه دپښتنې ننګې پرځای کولو د پاره تر خپل سر اوژوند تېر شوی ؤ ، نو اورنګ زیب خبره به څه تاثیر پرې کړی ؟ خوشحال خان ته دا خبره معلومه وه چه د پښتنو دښمنان هیڅکله به دې ته راضي نه کېږي چه پښتانه دې دیوې لخانه لې آزاده خاندان شي او خپله خاوره دې له هر ډول ظلم څخه جلا وساتي ، لېکن خو د پښتنو الې قانون پاداشه منله چه پښتانه دې د حسام لاندې شي او غیرت پښتون مشر شخص دې د مشرانو ته سرټیټ کړي او الاس پر نامه د درېغ د او دهغه د کلان شي نو لکه خوشحال خان چه پوهېږي او حسان پښتون ؤ خپلې پښتونې الې مجبور لاهو د د پښتنو دطرحې مقدمه کړي او پښتنو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووایی چه بله لاز نشته ؟ یابه د پښتنوالی دښمن دو کوی ؟ او یابه تاسي ور کېږی؟ او دافیصله به هم دتوری پهزور عملی کېږی لکه چه وایی :

پښتانه چه نور شه فکر کا ناپوه دی

بې دتوری خلاصی نشته په بل کار

خوشحال خان دپښتنو توره ستابی مگر فوری ئې دلحینو پښتنو ناپوهی ستر گونه درېږی اوپه دې خبره خپل افسوس ښکاره کوی چه دوی خو هوښیار نه دی ژرغو لېږی مبادا چه دښمنان ئې دخپلو ناوړو غرضو د پاره استعمال کړی اوله او دوی به هغې اوری مفکورې څخه چه خوشحال خان ئې عملی کول غواړی و گرځوی نووایی :

تر مغلو پښتانه په تسو زه ښه دی
که په پوهه پښتانه وی څه هوښیار

هو ! لحینې پښتانه خواران دخپلې ناپوهی له لېله همیشه دبل دپاره استعمال شوی دی او استعمالېږی ' پښتانه قوی او پهلوانان دی مگر ددوی قوت او پهلوانی دپروخت دنورو دفائدې دپاره صرف شوی دی ' پښتانه له جنگه تېښته نکوی مگر جنگ ئې دپرخل دنورو دگټې دپاره وی ' پښتانه دمرگ سره پهخورا خوښی مخامخ کېږی خودپرخله ئې مرگ دبل چا په خاطر وی حتی کله کله لحنې پښتانه دزمره ناپوه کېږی چه دبل په غولولو دخپل ملیت اودخپلو گرانو پښتنو ورونو دمفادپرخلاف استعمالېږی ' داله دې جهته نه دی چه دوی قصداً دا کار کوی بلکه پښتانه دپرپه زړو نو صاف خلك دی ' هروخت چه پردی شیطانان ددوی په رگونو ننه وزی نودوی غولوی اوددوی دضمیر دصفائی څخه بده استفاده کوی. دپښتنو دښمنانو غوښته پر پښتنو حکومت وکړی مگر پښتنوالی دانه منله ' نوخوشحال خان مجبور و

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپښتنوالی دقانون تابع اوسي لکه چه پښتون و او پښتون باید خپل لخانته قومي آزادي درلو: لای؛ اورنګزیب چه د پښتنو داحق نه مانه خوشحال خان ملي مکلفیت در لود چه مقابله شروع کړي او دې ملي مقابلې ته پښتنا نه راوبولي اوور ته ووائي:

په داهسې وخت چه وخت د نام و ننګ دی دابې ننګه پښتانه کاڅه ر فتار؟
مرګ لخما په پوهه ښه تر داژوندون دی دعزت سره چه نوی زیست روز ګار
آفریدی مومند شینواری ګوره څه کا د مغلو لښکر پروت په تنګسر هار

پښتنو زلمیانو چه د خپل ملي مشر داناري داوریدلې اوپوه شول چه پښتیا پښتنو ته یو مستقل آزاد ژوندون او قومي حکومت لازم دی او پښتانه باید دبل ترحکم لاندې نه وي اونه باید ددوی ګرانه پښتونخوا دبردګۍ لخمکې ضمیمه شي اونول په یوه سلا په خوشحال یسې رژان شول او دخپل ملي مقصد او پښتني ننګې دپاره ئې دپرې دپرې قربانۍ ور کړې او داورنګزیب په زړو لښکرو سره ئې سختې جګړې و کړې چه خوشحال خان هم دخپلو لخوانانو قربانۍ ستایي:

ما په ننګه د پښتون لخوانان قربان کړه
بیامې غوره غوره جمع ښه لخوانان کړه
چه په شپه راسره تول دو ، به زر ګونه
په سبائې له ماواره لخان به لخان کړه .
دسړی دلا سه مړه وی څه به ښه ؤ
لیونی کوته سړی مړه ګوره شهران کړه
چه شاهان لخوانان مې و مړل ها له مرد یم
که دهر یوه مې سا دی سل دمان کړه .
سبز خودا په خوشحال و شوه بیا تر کاله
ګوره څرنګه ښکاره شی دسبحان کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نر څه مودي وروسته اورنګ زیب ته دا ثابته شوه ترڅو چه خوشحال خان آزادوی پښتانه به زور اریه قوت ماتولی نشی ، نوله دې جهته دفریب او دبره اوتیتال دلاري ورته راوړاندې شو ، به غوره ژبه او احترام ئې دربار ته دمذا کرې دپاره وغوښت ، قسم او قرآن ئې ورسره وکړ ، که څه هم خوشحال خان تجربه کار سړی و ، مګر اورنګ زیب دده لخینو خپلوانو نه به پرر شو نونه وښندل چه خوشحال خان راضی کړی ، هغوی چه هم بنامه پښتانه خو به خوی اینګیان وو ، دپیسو به عوض کښې ئې خپله پښتنې ننګه نرشا کړی ده خوشحال خان ته ئې دپراسرارو کړ چه ضرور دمذا کرې دپاره دهلی ته لاړشی ، حان داورنګ زیب به قول او قرآن او دلخینو بې ننګو خپلوانو به منوره باور وکړ او بوازې پېښور ته ولاړ ، هلته دپېښور حاکم دهلی ددربار په اشاره داد پښتنو ننګیالی مشر بندی کړ ، او تحت الحفظ ئې دهلی ته واستاوه ، خوشحال خان دخپل دغه بند قصه په (۲۲۰) بیتو کی وبلې ده څنګه چه دا قصه به نظم او اوزده ده نو دلته دهغې خلاصه به نثر لیکم !

د « جمعې شپه ده » خوشحال خان دسهار خواته بدخوب وینی ، له خوبه راپاڅیږی ، وغسل وروسته سنت ادا کوی ، خلك په آرام خوب وینه دي ، خوشحال خان بوازې اشرف خان وبښوی او څه نصیحتونه پر ئې ناغه لیکلی ور کوی ، فرض لمونځ په مسجد کښې ادا کوی پر خپل آس چه « سیلی » نو میږی سپر ږی او دپېښور خواته دهغه ځای دحاکم دغوښتنې په اثر بوازې روانیږی « جمدر » ئې را اخیستی دی په « نوښار » کښې نمر باندې را خپږی ، ځانښت « پېښور » ته رسیږی دهغه ځای حاکم ته سړی استوی چه زه راغلم څه وخت حاضر شم او څه کار دی ؟ ځواب ورته راځی « ښه شوه چه راغلې ، سبا دیوان ته راشه ! » خو دا کیدی خو حاکم درې ورځې در بار نکوی او خوشحال خان هم په ځان خبر نه دی چه کیفیت څه دی ؟ د ګجرات شیخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دحاکم پښتنو ز ، او دبر کړیه غظ ئي درلود ، خوشحال خان ته وایی ا ترماراشه چه مشوره سره و کړ ، بیابه ثواب ته لحو ا خوشحال خان به پاك زړه یه ترې ورځی ، فوری شاخوا سپاهیان بلسدي راکړ لحسی اوخوشحال خان ئي مفت یه لاس کښیوزی :

لوز یه اورمغل ترما چاپیر شو یه هنر

مفت ئي یه لاس کښیو تم یه حکم دقدر

کوزئي کړم له کوته چه ئي کښیو تم یه جا

زرئي زایه پښو کړی پنځ سیری بیری کوتوال

دپښتنو ننګیالی مشر بندی کیږی ، دا خبر یه پښتنو کښي خپریږی او هرڅوك حیرا ټیږی ، دري ورځي وروسته د ننګیالی خوشحال خان لحبینی بي ننګه ترونه چه پښتنی ننګه ئي ترشا کړي وه دښمنانو ته ورځی آسونه او نور خلمتونه اخلی ، مګر نور ننګیالی اووښي پښتانه دغلیمانو مرګ ته تیارېږی اوغواړی چه دهغوی یه مقابل کښي وپاڅیږی ، خو پخپله خوشحال خان ئي منع کوی اوور ته وایی :

« یه شرا وشور کښي فایده نشته ، اولس تباه کیږی باید له صبر نه کار واخیست شی ا » دوي میاشتی یه پښور کښي بر تیریږی ، سوبدار له خوشحال خان څخه پنځوس زره روپی غواړی مګر دخوشحال خان غیرت دا چیرته منلی چه پیسی ور کړی ، او خان آزاد کړی . اووا یی :

دغوښتي پنځوس زره روپی یه سوبدار

ماوي در به نکړم یو پوچك نسه یو دینار

وروسته سوبدار دخوشحال خان ښی ننګو ترونو یه مشوره دپښتنو قومی سردارهند ته لیږی دینار (پښور) څخه ئي باسی امرتسر شپه دشاپیګ خان یه رباط کښي کښیږ [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library



«خیرآباد» ته‌لخی له هغه لحابه داتك ز سپند پوری وزی پر «پره» او «باباحسن ابدال» باندې ورلخی اوله هغه لحابه ز «پنډی» ته‌اوله پنډی‌ئې «ګکرتال» ته بیائی او په سبائی «لاهور» ته‌رسیږی په‌پای کښې‌دروژې دمیاشتې منځ ته په ۱۰۷٤ هجری کال دډهلی دربارته ورلخی! تردېر سوال وجواب وروسته په ضمانت خلاصیږی مګر دوطن اجازه نه ور کوله کیږی د کوتوال د کور ترڅنګه یو کور ورکوی چه هلته اوسی دشوال به‌میاشت کښې دسید میرحاکم خط در بنر نه راځی چه :

مه‌پر پږدیء خوشحال دده پرپښو ول دی اختلال
بیا به‌منځ کښې بروورت دخلاصی یه دپرجنجال

دخوشحال خان لخای تدبیر ګکری او بندئې سختیږی، تر پنځو میاشتو بند وروسته اورنګ زیب‌وایی چه «خوشحال‌خان به‌خلاص کړم‌خوچه خپله کډه له پښتونخوا څخه‌دهلی‌ته راولی !» امیر خان‌دد، کې‌ړا غواړی په دې‌وخت کښې اشرف خان دخان زوی دمغلو حاکم په کابل کښې‌بندی کړی دی، ترڅه مودې وروسته‌خوشحال‌خان «رنتبور» ته لیږی، هلته وا یی :

څو میاشتې په بندوم په دهلی کښې به عنا
اوس په رنتبور کښې بندی پروت یم یسکتنها

خوشحال خان دپښتنی ننګې دپاره څلور کباله بندی کیږی او خپلې سهوې چه دده دبند سبب شولې داسې ګڼی :

خدای و کړې دا چارې په ماوارده و کړې زړه
څو چارې غلط شوم چه می‌لوی کړ، احمق تره
بل چه دده لور مې امرا ته ګکړه دا ده
بل چه می‌په کور کښې څه کښې نه‌ښول سپین‌سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل مې چه يو کوټ محکم بنانه کړ په غره
بل چه مې په توره په خدمت غرور کاوه
بل مې چه مغل په ور کړمر کړنه غولاوه
بل مې چه په وخت ذنبوو ملک نه ولاوه
بل مې چه قوت د يو سفر يو ور کاوه
بل مې چه په اصل غوز يا خپل پښتون کانه

دخلورو کلو وروسته ايله کېږي، مګر هره ورځ به په دربار کښې حاضري ور کوي نو دخوشحال خان آزاد روح په دې قيدسخت ترفشار لاندې راځي، په ۱۰۷۷ هجري کال درجب د مياشتې په ٤ داسې شکايت کوي :

هره ورځ ورته در بار نه — کښې ره دا څه مشقت دی
دبل حکم برې زندان شی — چه په خپل حکم ګاډت دی
نه شيرين خوازه ياران شته — نه د چا سره صحبت دی
نه خپل ور کړل رانيول شته — نه خپل حکم حکو مت دی

په پای کښې په «آ کره» کښې د خپلو نورو ننګيالیو خپلوانو په ملګرۍ فرصت مومي چه وطن ته ولاړ شي او بيرته دپښتنې ننګې ترسر کولو موقع پيدا کړي ! »

داد خوشحال خان دبند هغه قصه ده چه ده پخپله ظلم کړې ده، مګر ده دبند په وخت کښې هم پښتنې ننګه هېره کړې نه وه، او په جېل کښې ئې هم دلحينو بې ننګو پښتنو دوينبولو دپاره دپښتولۍ له درده ډک اشعار ويلې دي، مثلا په (۱۰۷٤) هجري کال دبرات په مياشت چه ئې خوشحال خان بندي دلاهور په سيند ټراوه، ده دپښتنو دانتقام حس په دې الفاظو ويښاوه :

زمانې لهښو يارا نو نه مهجور کړم — څه بلا ئې مبتلا په دې ضرور کړم
زړه واده پښتونخوا يه ځای ميشته ده — خو يوزه دې زمانې يکښې منصور کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرگ هومره مهلت را کړه په جهان کښې  چه 'جمدر' دمدعی په وینو سور کړم
که ئې درست دمتو زور راته ښکاره کړ  بیا فلک سره کشتی پخپل دستور کړم
نه به بیا په غاړه کېږدم دننگ توره  نه به بیا په قوم کښې کښېنم نه به هور کړم
عجب مارمې جاروتلی نردوو پښودی  مگر لوی پاړو پیداشی چه ئې دور کړم
مست ماتیان خولی مزری په خنجیر کېږی؟  بویه د اچه لخان فلک و ته نربور کړم
په خپل آه مې باورشته اثر به و کا  رقیبان به اور لړو لی دننور کړم

تر برکال بند وروسته خپلو ناپوهو پښتونو له بندی خانی څخه داپیغورونه را استوی :

هغه خدای چه بندی کړی دی خوشحال  هم هغه به ئې خلاصی کا په هرحال
نام ولنگ ناموس که داد افغانی دی  چه ښکاره ئې شو په داد ور احوال
مخ ددرست غوری دی تورشی په تبی  بیا دوا ورو پښتو ژبی پسه دلبال
که دسمې که دغره دی یوسف زیه  همگی مزری دی مه ئې وه زر ول
دخپل لخان صفت به نکړم چه زه څه یم  لرو بر واره رو بیاه دی یا شغال
که خوشحال خان ختک وار بیا موندیه جهان کښې  خودبه وو ینې ددې چا ری مآل
مایه خپله په لخان کړی دی داچارې  چه مې ور کړه ونا اهلو دا منال
که په نحس طالع بند شوم عیب نشته  کله کله تندر هم نیسی هلال
چه همیش په یوه حال وی هغه خدای دی  په سر یو باندی تل نه وی یو حال
خلو پښت کاله می خوزه کامرانی و کړه  څه شو چرخ که مخالف شو یو نیم کال
نه پر کېږی نه فریاد کا نه چیچل کا  هرهوښیار مرغه چه لاندی شی نرجال
پښتا نه لره منصب نه دی غضب دی  چه تلاش دا ضا فو کا لابې دال
که هزار کالدی پښتون مغل به اشی  بویه داچه له زړه و باسی دا خیال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثنهاتي دمزري روغه که څوك غواړي  هيڅ د دې خبرې نشته احتمال
پښتنا نه اره شرې اندېرې بنه دي  نه اغو ستي دمغل دهجرې شال

کوم وخت چه اشرف خان هجري دخوشحال خان زوی چېلخاني نه خپل بلارته خط ليکلی، خوشحال خان په څه متانت هغه نه ځواب ورکوی، اوله کلامه ئې څرګندېږي چه دهغو دمغلو دبرو مظالمو هم د خوشحال خان څخه پښتنی ننګه هېره کړې نده او دپښتنولی هغه غرور ئې په سر کښېدی چه باید دهر صحيح پښتون په سر کی وی، هغه ځواب دادی:

په مردن پر وا دا ژنه يم  په زندان پسروا دار څه يم
اشرف خان دی رانه کښلی  څه خو خوش په خط دده يم
پنځه میاشتی يم په بند کښې  با با ډېر دا ده په زده يم
زو يه ما خو غم د تا کړ  چه نسه بنه ئې زه خو بنه يم
چه فلك سره سر با سی  په همت کښې همه زه يم

په هرصورت خوشحال خان چه له بنده خلاص شو او بېرته وطن ته راغی، نو بيا ئې د پښتنو دد ښوالی تحريك شروع کړ او خپل هغه وينې ز لميان ئې په هر لوری نه تيت شوی وه، دوباره پرلحان راغونډ کړل او په ټينګ عزم دد ښمنانو مقابلې نه ياڅېد، دا لحکه چه خوشحال خان خولا امری هغه وخت چه بندی ته ؤ، دمتجاوزينو په نيت پوهېده چه هغوی دپښتنو دبربادی خيال در لود، دپښتانه ئې نه پر پښودل چه لحانته خپل قومی حکومت او تشکيل جوړ کړی او با مستقله آزادی ولری نو پښتنو ته وايی:

پښتنو سره زده نو ر دی د مغلو  خبر دار ئې په ليتونو بك په يك يم
که سره که ناسره يا نه معلوم دی  په دا کار کښې په معنی لګه سحاك يم
په ناحق ئې په زندان کړ يو خو کاله  خدای خبر دی که بخپله ګناه ناك يم
همه زيست چه دمزل لمخې نه وی  چه ئې کا يه همه زيست پوری هاك يك يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخپل نام و ننګ چه راشم،لپو نی شم
خبر دار کله په سود و زیان دلګ یم

چه په طمعه داوروز غلی وشست نه
ګمان مکړ چه هغه نادان سړك یم

وبهناو ته سور مهر یم د زړو
په دلیل د نابینا لکه پوچك یم

هیڅ له قدره می وکړ ی خبر نه دی
که رښتیا وا یم دستر ګو مرد ملك یم

لکه باز به لوی لوی ښکار زما نظر دی
نه چه کرزی کونګ نیسی باد خورك یم

چه په غوښو ئی روز ګار هغه مزری یم
نه چه ولی دوښو خوری ما مزك یم

په دا سپینه زیره شرم عزت ښه دی
څه به نوری جاری کړم مګر خوردك یم

چه منصب می د مغلو خود یو ملك و م
چه منصب د مغل نشته اوس ملك یم

د فرمان د پروانسي حکم ئي نشته
شکر دا چه پخپل حکم پخپل وك یم

له نصد یق شته نه یاداشت شته نه توجیه شته
نه په فکر دسند نه دد ستك یم

هر کیدی به چه له ما سر کوزی غوښته
د هغه دسر یا توره یا کوتك یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه لره شړی اند پری بس دی
نه په فکر دمسند نه د توشک یم

آزادی دپه سادهسپینه جامه کښې
خلاص له غمه دزربفت اود میلك یم

دوښو ځو نګړی هسې راته ښې شوې
وایې ناست پهمحلو نود آهك یم

که او کره دیتو شنه په شلو نبوسپینه
دمغلو پلاو پاته دپر پرې دك یم

چهنیولی مې داهرو دننګ ونام دی
که له خپله هوډهواوړم کنیز کیم

[په بل غشی په توپك ویشتلی نه یم
که ؤ بشتلی یم خوبیا په خبل توپك یم]

ن خو قام راسره دیره جفا و کړه
کاندهٔ بیاد خدای د حکم و ته ځك یم

که ختکو را نه شا کړه مخ ئې تور شه
زه بوازی په تکیه دخدای شهر ك یم

مهمندی زما د کهې لاس د پښې دی
راضی من د اوریدیو په کو مك یم

کرلانی ، ځې بنی ځو چه پښتانه دی
زه دننګ په کارله واړو مشترك یم

دیری چینې چه تراوش وکا دریاب شی
چه لیده شم اوس خو دایم بو ډر لك یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کدمی عمر په شمار ه تر شپیته تیر دی
لایه کار دسواری لکه او زیک یم
دافغان په ننگ می وتړله تور ه
ننگیالی د زمانې خوشحال ختک یم

خوشحال خان دمتجاوزینو سره دپښتنی ننگ دپاره مقابله شروع کړه ، دیر سخت سخت جنگونه ئی ورسره وکړه ، دده پر اوزه دپښتنو ننگیالی زلمیان هم ولاړوه ، چه دپښتنی ننگی او د پښتنود آزادی دپاره ئې په خپلو سرو لوئی کولې ، لکه چه پښتنی ننگه ده او د ننگې په کار کښې خوله قندهاره تر انکه ټول پښتانه یو دی . تو پر متجاوزینو ئی ناتار جوړ کړ او په لومړی جنگ کښې ئی خلو بښت زره تاریه تار کړل ، دالکه چه خوشحال خان پښتانه پوهولی وه چه دښمنان غواړی پښتانه تباه او دلخان غلامان کړی او یا ئی دتورو دروازو نه ودروی نو پښتنو چه هیڅ وخت دچا غلامی منلې نه ده دغیرت او ننگ وینی ئې به جوش راغلې او دخپل استقلال دپاره ! چه ددوی طبیعی حق و ، نوري له ټکیو راوېستلې او دپښتنې ننگې دپرلخای کولو په غرض دزورور دښمن مقابلې ته وړاندی شول . پنځه کاله ئې دیر سخت جنگونه له دښمنه سره وکړل . او دخیبر دره ئی ددښمنانو په وینو سره کړه . خو په پای کښې اورنگ زیب په خپله مجبور شو دپښتنو جنگ ته راووت ، او یو کال داتك په غاړه پروت ؤ . خوشحال خان داورنگ زیب دغیبتلو لښکرو سره هم اوزه ور کړه په خپله دی وائی :

( اورنگ زیب راته یو کال وشو چه پروت دی
به صورت حیران پریشان په زړه افکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو د ننګیالیو لخوا انو توره او لخینی مشهور جنګونه داسې بیانوي

پښتنو لخلمیو بیا لا سو نه سره کړه

لکه باز منګلی سرې کا پخپل ښکار

سپینی توری ئې کلکو نی کړې په وینو

په اهار کښې شګفته شو لا له زار

د خیبر دره ئې سره کړله په وینو

په «کړیه» ئې هم روان کړدند و کار

تر «کړیه» تر «باجوړه» سمی غرونه

په لرزه په زلزله شول په بار بار

په هغه لوری چه کېږی پنځم کال دی

هره ورځ د سپینو تو روخر پهار

درست پښتون تر «قندهاره» تر «اټکه»

سره یو د ننګ په کارېږ و آ شکار

اول جنګ د لوړې شاد «تهتر و» و

چه خلو پښت زره مغل شول تار په تار

خو بندې لونی ئې په بند د پښتنو شوې

آس، اوښان، هاتیان اولجه قطار قطار

دوهم جنګ د «میرحسین» په «دوآبه» کښې

چه ئې وتکېده سر لسکه د مار

بیاله پسه د «نو شهره» د کوټ جنګ ؤ

چه می و کینې تر مغلو خپل خمار

بیاله پسه «جسونت سنګه» «شجاعت خان» ؤ

چه «اپمل» ئې په «کنداب» ویوست دمار

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږم جنګ «مکرم خان» و «شمشیر خان» ؤ

چه «ایول» کړل په «خاپس» کښې تار په تار

چه زما په یاد دی اوی جنګونه دا دی

د هلکو په هر لوری نشته شمار

همیشه فتح و نصرت ده لاتر او سه

پس له دا ده بیا تکیه په کرد ګار

اورنګزیب راته یو کال وشو چه پر ژت دی

په صورت حیران پریشان په زړه افګار

کال په کال ئې امراګان دی چه پریوزی

طو فانی چه شو ي لښکرې کوم ئې شمار

خزانې د هندوستان دی را خپرې شوې

سره مهران دی تنوزی په کوهسار

دا د هیچا په اتلس فکر ه نه وه

چه به دا کسا رونه شی په داد یار

د باد شاه دبد نیتی څه کمی نشته

په بدنیت ئې آزار واخیست د خپل پلار

بله هیڅ لیدله نشی په دامنځ کښې

یا مغل د منځه ورك یا پښتون خوار

که ګردش د اسمان دا دی چه لیده شی

که دخدای رضا په دا وی را غیږ وار

تر مغلو پښتانه په تو ره ښه دی

که په یو هه پښتانه وای څه هو ښیار

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل وخت چه شینوارو او اپریدیو او مومندو پښتنو دخوشحال خان ترمشر توب لاندې ددښمن لښکر ته ماتې ور کړه او طوفان ئې پرې جوړ کړ، دهرې اولجې او اسبابونه ئې لخې ونیول نو خوشحال خان پښتنوته وایی :

څه شینوا ری څه مومند څه اپریدی وه
چه ئې مات کړ دصوبې وا ده لښکر
دا طوفان چه په مغلو باندې ساز شو
په کښتن به او لجو هیڅ مکره نظر
که آسونه که فیلان که اسبابونه
په انبار انبار سپین زر وه یا سره زر
دا کینه به بوپه سله نري و باسي
که ئې لاس شي په جمله پښتانه بر
پښتنو څخه که شته څه عقل پوهه
اېل یاغي دی لخینې کاندی اوس حذر

منجاوزینو چه دپښتنو زور ولید، پوه شول چه پښتانه په ترره ماتولی شي او له په زور ورباندې حکمرانی کولای شي نو دبلې چارې په فکر کښې ولوېدل، هغه چاره داوه چه پښتانه په روپودلخان کړي اوله دخوشحال خان په بند کښې چه ئې له پیسو کار اخیستی و، اوس هم له دې لارې دخوشحال خان ملی منکوره سسته او بې اساسه کړي نو پښتنوته ئې رشو نونه شروع کړل داوخت و، چه لخینو ناپوهو پښتنو پښتنی ننګه هېره کړه او پښتنوالی ته ئې شا کړه، خپل پښتنی ننګه ئې په پیسو خرڅ کړ او بې ننګی ئې وا خیستله او په خپله دخپل کور ورانی ته چمتو شول، پښتوئې وشرمولهاد بېټ ورباندې پاته شو، دخپل ملی مشر خوشحال خان ملګری ئې پرېښو وله ددښمن ملاتړ شول؛ تېښته دی وی خدای ته له داسی ناپوهو پښتنو څخه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو ! پښتون هیڅکله په جنګ کښې له مغلو بېزې نه څوچه په خپله لحانه ته بلانشي، او هیڅ دښمن پرده برې نه دی موندلی مګر په چل او فریب په پښتنو کښې چه هر خت داسې ناپوه پښتانه پیداشوی دی چه خپل لحان ئې په پیسو پربل خرڅ کړی دی په هغو د پښتنو کور وران شوی دی ؛ دهند مغلو هم د پښتنو دبربادۍ د پاره دابنه لاره وموندله او لحینې پښتانه ئې په رشوتونو او منصبونو وغولول او په خپله ئې په منځ کښې سره واچول ، خوشحال خان چه له یوې خوا د متجاوزینو کمزورې لیدله اوله بلې خوا ئې دهغو د اچلونه کتله، نو داسې پښتنو ته ئې ویل :

مغلو ته چه ګورم هغه هسې مغل نشته
د تورو وارئې تېرشو اوس ورپاته یو قلم دی

پښتون په زرو تیسې په فریب په قیمتا لو نه
په مائې اثر نشي لا په ما دخدای کرم دی

نه مچیم، نه کار که چه به په ګورومرو ګرزم
بازیم باشاهین یم پخپل ښکارمې زده خرم دی

که ماغوندی نور هم وی په دا کار به ډېر خوشحال وم
چه ماغوندی نور نشته لحکه پروت راباندی غم دی

مګر دلحینو پښتنو ستر ګی د دښمنانو رشوتونو داسې بندی کړی وې چه نه ئې خوشحال خان په ستر ګو لیده او نه ئې خپله ناپوهی او بې ننګی ! فقط ستر ګی ئې دښمنانو په دسترخوان کښې وې او نور ئې هرڅه ترشا کړی وه، هغه زندۍ چه د دښمنانو د پښتنو د مرګ د پاره تیاره کړې وه دې بې ننګو پښتنو به خورا فخر خپلې غاړې ته پخپله اچوله ، خوشحال خان به ویل :

دا منصبونه دا انعامونه — واړه زندۍ دی واړه دامونه
پښتون مغل به سره دوست نشي — خوشحال ئې مه وینه دا انعامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان حیران و،چه څه چاره وکړی ، لحینې ناپوه پښتانه خوددښمن
پهمنصبونو بیخی لیونی شوی وو،څهسدا ونقل ئې پهسر کښی پاته نهو ، نهئې
پښتنې ننګ پهیاد، اونهئې دپښتنو الی نوم اورشوتونوئې توره لهلاسه غورځولې
وه نولحکه خوشحال خان مجبور و، دې پښتنوته طعنه ور کړی :

لیونی شول پښتانه په منصبو نه
خدایه اماژغورې له هسې غضبو نو

پښتانه لره لوی عیب دی که ئې ګورې
چه نا زیږی د مغل په لقبو نو

شرم ، ننګ ، نامونامو س ئې پهیاد نهدی
خو ویل کا دمنصب دڅ هبو نو

پښتانه که جنګ مغل سره په تیغ کا
هر ختک نیوی مغل تر جلبو نو

د ختک دننګ جر که نشته خوشحا له !
لاوتلی دی له کومو نسبو نو ؟

هر څومره بهچه دخوشحال خان طعنې زیاتیدلې هغومره بهدپښتنو ددښمنانو
رشوتونه اولقبونه ناپو هو پښتنو تهدیرول ؛ پهدې وخت کښې خوشحال خان
پهدیرو سختو الفاظو پښتانه ترنل اوورته ویل ئې :

دخپله قومی آزادی او دپښتنوالی دنیا اودپښتو نخوا لحکه مو ددښمنانو
پهزرو بایلله،څومره ناپوه یاست چهاوس لهباره سره کور ته درغلی اوتاسی
داوس دغاړې کنګړی اوز غیزه اولجه کوی ؟ لحکه چه دوی دڅو پیسو په
مقابل کښی دخپلو ټولو ملی مقاصدو او افتخاراتو تیرېدل اوخپل لحانته ئې
مستقل قومی حکومت چهترلو پښتنو یکښی دسر لوړی ژوند کولای نهجوړاوه
نولحکهخوشحالخان افسوس کوی چهدومره دیرپښتانهچهبوسرئی پهقندهاربل
پرد مغار دی څنګه عبث پراته دی وایی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



بادشاهی ئې د مغل په زرد بایله  د مغل د منصبونو په هوس دی
اوس له باره په خپل کور کښې ورغلی  په او اجه داوس دغاړی دجرس دی
بې ننګان دبې ننګی په کار وبار کښې  ننګیالی دننګ په کار کښې هر نفس دی
سر ئې هوری «قندهار» بل ئې «دمغار» دې  تر دامنځ همه مېشته واره عبث دی

دلته چه له لحینو ناپوهو پښتنو څخه هرې خوا ته بې ننګی وینې نو د پښتنو هره طایفه لحانته لحانته ترڅې او په ډېرو سختو الفاظو ئې تنبیه کوی وایی :

«تېرا» مې ولیده راغلم تر «سواته»  پښتون مې ولیده دالوی لوی ذاته
عقل همت مې دچا ونه لیده  په بیار ته راغلم ناست یم ملا ما ته

دا لحکه چه لحینو ساده د پښتنو د دښمنانو سره په زیست روزګار کیشوی او خپل پښتنی ژوندئې شاته کړی و ، خپله باداری ئې بایللی وه او د پردیو نوکران شوی وو ، او یا ئې خپښی ورسره کړیوه. رښتیا چه پښتنو ته د بر شرم لحای دی ، چه هغه چاته لاس به نامه به سلام ولاړ وی کوم چه غواړی پښتانه د لحان غلامان او لحمکه ئې د لحان مستعمره کړی .

د پښتون د قوم هره خطا او ګناه به و بښله شی مګر یوه ګناه ، هغه داده چه د وی خپله آزادی پریږدی او د بل چا تر لاس لاندی ژوند منی .

خوشحال خان ترهر څه لحینو ناپوهو پښتنو ته پردې خبره ډېر په قهر دی چه د دی د خورا پست او کښته مطلب د پاره خپل لوړ ملی مقصد پر ښې دی ، د دو ی ملی مقصد خورا جګ او مقدس دی ، لحکه چه خوشحال خان غوښته د پښتنو یو مستقل قومی حکومت جوړ کړی چه اول پښتانه پکښې په آزادی ژوند وکړی ، او دا به هغه وخت کی د پښتنو د پاره د ژوند او مرګ مسئله وه او اوس هم ده ، هو! پښتنو ته چه (حقیقی پښتانه وی) د پردیو تر لاس لاندی ژوند کول مرګ دی ، کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه چه په زښتیا پښتانه دی هغوی هیڅ وخت غیرله پښتون مشره د پردیو مشرانو ترحکم لاندی ژوند نه تیروی بلکه داسی خبره دلخان مرگ گڼی خو افسوس لحینی ناپوه پښتانه دومره تمیزی چه دخورا کښته مادی غرض دپاره خپل ملی اوعقدس مقصد پریږدی اودخوتنگو اوپیسو دپاره دپردیو نوکران اوغلامان کیږی اودنورو دمطلب دپاره خپل غښتلی زلمیان وژنی او قربانوی ئی دلحینو ناپوهو پښتنو داحال دډیر افسوس وردی او پښتنوا له پر داسی ناپوهانو پیټ اونفرین وایی چه هغوی ولی دخپل ژوند او آزادی دپاره خپل زلمیان نه قربانوی چه دنورو دگټی دپاره ئی وژنی. خوشحال خان چه لحینی داسی ناپوه پښتانه وینی چه دپیسو دپاره ترخپل ملی حکومت او آزادی تیر ږی او دنورو مستعمره کیږی نو په خورا قهر وایی :

که کعبه که ئې قبله ده خو تنگه ده  په پیسه پسې به در ومی تر فرسنگ
که پیسه دملنگی په لباس مومی  مصلي به د گیدر کا پسی لنگ

بل ځای داسې پېغور درکوی :

څه یوازی ننگ پهما راغلی نه دی  پښتانه ډیر دی پهغرونه په سمونه
یا به واړه دمغلو درم پر ږدی  یا به زه هم پهلاس واخلم در مونه
چه پښتور دا خوری دمغلو واړه سپی دی  دسگا نو پهخوله څه اخلم نو مونه

خوشحال خان وائی چه دپښتنا نو لحینو ساد گانو پښتنو نه دحلوا تال اینبی دی، که دوی پښتانه وی باید مچان نشی اوخپل اصلی مقصد پرې نږدی نو وائی :

پښتانه لکه مگس ورباندې گرزی  ورته اینبی دمغل د حلوا تال

اوحینی ساده پښتانه بد بختان هم هیڅ دې پردی لاس ته ملتفت شوی نه دی که نه وی خوشحال خان څه گناه کړې وه ؟ یوازی ئې داغوښته چه پښتانه په یوه مرکز سره داغوندشی، لخانته خپل ملی آزاد حکومت ولری، خو په دنیا کښی دپښتنو نوم محو نشی اوددوی پښتنی محکمه دپردی محکمی ضمیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشي اوددوی ژوند دنورو په ژوند کښی ورك نشي خوځنګه چه ځینی پښتانه دخپلې سادګۍ له کبله همیشه دنورو دلاس آله شوی دی او پردیو خلکودوی دخپلی ګټی دپاره استعمال کړی دی نودهندمغلو هم دځینو پښتنو لهدې سادګۍ څخه استفاده وکړه اوځینی پښتانه ئی دپیسو پهزور په خپل منځ کښی سره واچول ، خوشحال خان چهدنه درد حس کړی دی داسی افسوس کوی :

پهبل غشی توپك هیڅ وپشتلی نه یم
که وپشتلی یم خو بیا پهخپل توپك یم

همه و، چه ځینو پښتنو دبې ننګۍ توره ترملا کړه اودخپل ملی مشر سره ئې جنګونه دپردیو دفائدې دپاره ونبلول المړی خوبنګښو جګړه ورسره شروع کړه خوشحال خان دخپلو ځوانګیالیوزلمیانو سره چه ورپانه وه د پښتنی ننګ پر لحای کولو په غرض دخپل قوم بدی همه ومنله اودوی نه ئې ویل :

پهداڅه که دهبنګښ ، رانه ډنګ ډنګ دی
زه هم ښه یم دما هم برغو تر څنګ دی
عقل زورد «غوریهخیل» تر بنګښ زیات دی
غوریه خیل راسره هم ولاړ په ننګ دی
دبنګښ نه هو نیره زور ریښم نه تو رد
پهدا کوم تو کی لهماسره په جنګ دی
غوریه خیل اوبنګښ دواړه مغلی دی
همیشه ورته مغل و هلی انګ دی
هر ملځی دسر باز په هنر څه زده
چه پهدا هنر کښی سر ښند ی پتنګ دی
لاتر اوسه ئی ماغزه پهقرار نه دی
چا چه ماسره وهلی سر په سنګ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



( لايه خوب کښې په لرزه پرېوزي نه کېږه
چه دچا ترغوږ د مادنو ري شر لګ دي ؛
( کهزه دا دور مـي ګو رې هغه زه بـم
چه مي داغ په خاطر اينبي داورنګ دي ؛
( درست جهان مي و مغل و نه خبير ګـر
لحاي په لحاي ئې پښتا نه و نه ګانګ دي )
( لحيني څه لوئي دعوي لرم په زړه کښې
ولي څه کړم چه پښتون واره بې ننګ دي ؛

پښتون خوشحال خان چه تر هغه وخته داورنګ زيب په زرګونو لښکرمات کړي او نښتولي وو او هېڅکله ئې ماتې نه وه کړې او يه هر ميدان کې بريالي و او س دخپلو لحينو ناپوهو پښتنو دلامه مجبور شو غروته و خېژي او « ګنبت » بوجنګ چه په ١٠٨٦ هجري کال واقع شو داسې تصوير وي :

دښګنې په توره مات نه يم با ور کـړه
د « ګنبت » په جنګ مي ما نه آسما نې وه
چه مي ښه سواره دلحان دو راندي نکړل
هم پـه دا سبب را پښه پښيمـا نـي وه
چه مي تول دوراندي نه تلل په جلب کښې
همسکي د « حسن خپـلو » لـا دانـي وه
سل رحمت د « مهمنديـو » پـه تـنبه شـه
چـه ددېو چـارلـه مـاسره جـانـي وه
( چه په توره ئـې « شېر خان » پرېوست له آسه
پـه ميدان د « عـابدخان » (١) پهلواني وه

(١) عابد خان د خوشحال خان زوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه سردار دبنگش بر بووت ختك مات شه
په دا هسی رنگې چا ری حیزا نی وه
«عابدخان» چه په مردی راغی، له جنگه
وخپل پلا روته ئې ښه ار مغا نی وه
پرو کې پرو کی ئې دسر شا لونه ولاړل
په سرو وینو ئې څپره ار غوا نی وه
لاس به لاس ئې انتقام د بابا وا خیست
یه دا کار باندی سزا ثنا خوا نی وه
چه ئې جنگ په میدان کړ، بو خو سپاره وه
نورد وادو بخره نیښت تن آسا نی وه
دختکو یه سپر وباندی لعنت شه
په بوه جلوه ئې تپنه لحان لحانی وه
چه او له ما ئې گډه یه سپرو کړه
په سپرو کښې چار دجې د عثمانی وه
ښه لحوانان چه د گنبت په میدان ومړل
دهر لحوان په زړه کښې لنگه افغانی وه.
همگی لحوانان د ما دزړه ارمان دی
پکښې بیله د عبدل (۱) تانده لحوانی وه
دغلیم سره یه آس غاړه غړی شو
د عبدل دمړ تنو ب بخسره کافی وه
ما دا هسی جنگ هر گز لیدلی نه ؤ،
څومی عمر، څو ختك، څو می خبانی وه

(۱) عبدل هم دخان زوی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانان جنګ تمامه ورځ کانه ماتېږي
په یوه لحظه لمحه ماتي آنی وه

یا لښکر دنام ونګ دی یا دز : و
زما دا ټوله دننګ نه وه نا نی وه

همګی په یوه سیر را سره ټول وه
په یوه ساعت ئې ځکه پرېشا نی وه

چه نه دین وی نه دنیا جنګونه څوك کا؟
مګر سهله جنبازی جا نستا نی وه ؟

چه په خواست او په ضرور سره ټولېږی
دهغو لښکر و کله و دا نی وه

چه می داخله غلیم له ډکې خلاص شو
پرې یکبا ره دفلك مهر بانی وه

لکه ځادی چه وبازو نه ځان ځیر کا
هغه هسی دغلیم پر ا فشا نی ده

که زه روغ په ځای ولاړ وی غلیم څه و؟
دیر هار په کار مې درسته ویرانی وه

داخه مړه زما ځوانان نه دی په جنګ کښې
دا زما دننګ په کار کښې مهمانی وه

که می خپل که می دښمن مړی په دا کار کښې
په هر نو کی می حاصله کا مرا نی وه

سل، څلو ښت ځوانان می قتل په میدان شول
دا ختر په عرفه کښې قر بانی وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه بې ز خمه له میدا نه ځي نا مرد دی
زه زخمي لاړم د ځان نګهبا نی وه

یوه ټبښته تا مر دی بله مر دی وی
ودا نا و ته دا د وا ره عیا نی وه

انتقام و ته می ټبښت و ، له میدا نه
نه می باده د د نیا زند ګا نی وه

تل خونی مزری هم جنګ کا هم ځان ژغوری
دمز ری د ټبښتی څه بد ګما نی وه

پیغمبر چه له کا فرو نه فرار کړ
و کا فرته ئې په زده کښې تیغ رانی وه

که ظفر که هزیمت بیامی میدان دی
چه دپلار نیکه می بخره میدا نی وه

که ژوندی په دنیا پایم خودبه ګورې
چه په تیغ می څه ورا نې څه ودانی وه

دخو شحال اختیار تر واره بنګښ تیر دی
که څه ننګه دختک د کړ لانی وه

مګر دپښتون خوشحال خان داماتې لکه پخپله چه ده وویل دانتقام اخیستلو دپاره وه چه له دښمنه خپل انتقام واخلی ، اوبله داچه د خو شحال خان څه داسی مقصد نهؤ ، چه هغه به په یوه ماتې دده له مغزو څخه وتلای ، دده مقصد دپښتنو وینبوالی او دپښتنی ننګی پرلخانی کول ؤ ، نو ددې مقصد په لاره کښې چه هرراز مشکلات اوزحمات دده مخې ته راتلل ، ده په خپل ټینګ عزم او لوړ همت هغه او ارول ، اوله مخې ئې بیرته کول ، نو وروسته ترهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه د خینو بې ننګو پښتنو له بې ننګۍ څخه ئې لوئی پر پښوو له او کمه ئې و نیوله :

د بې ننګو پښتنو له غمه ما  لوئی پر پښوه و نیو له کمه ما
هغه ملامی چه په هوډ سره لوی غروه  په نا کام کړه ومغل ته خمه ما
دهغو د خولې کښې خبری اورم  چه خبره ور نه نه کړه سمه ما
دا هم ښه که په دا کار کښې هومره کاروی  چه که واخیست انتقام له کرمه ما

بیا د انتقام اخیستلو د پاره پاڅید او په ( ۱۰۹۱ ) هجری کال د رجب په میاشت ئې پر دوده ، نومی لحای د اسی انتقام له دښمنه واخیست چه له دښمن څخه ئې د کښت کامیابی هیره کړه او په دې انتقام اخیستلو د خوشحال خان اوده د ننګیالیو ملګرو له زړو څخه هم د کښت د ماتی غمه وو نله دلته د دې جنګ له قصې څخه چه خوشحال خان نظم کړې ده یو څو بیتونه رانقلوو ! دی وایی :

ا خو وانه خلی له غلیمه انتقام
مرد نه خوب کا نه خواره کا نه آرام
چه د ننګ اود ناموس اند ره ئې نشته
د هغه سړی به نه وی احترام
که همت او حمیت ، غیرت یکښې وی
قبر څښتنه نه بهتر کنه غلام
( په ورو ورو به قدم زدی ور باندې خیژی
په یوه لحله څوك نه خیژی نه بام
په طالب کښې که سستی نه وی باور کړه
د ژوندون او به ، به بیا مومې په کام
واده ورځې سره نه دی برابرې
کله درد ، کله دارو کاندی ایام

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمر دی دنا مردی تر منځ میل نه دی
تفاوت ئې په ذره دی یا په ګام
چه دبل تر لاسه ور غیء دبل شو
مرد په خپل لری دخپل فکر زمام
چه پهذات ئې پلار نیکه توری وهلې
بري جو د پیزی کار دتوری د صمصام
د «گنبت» غصه مي و و ته له دله
خدای چهرا کړ په«دوده» دبری کام
چه پهمخ ئې بری درومی «عابدخان» دی
پر هرځای دخپل بابا کا تازه نام
خدای ئې عمر دخپل پلار کړه کام ونام هم
په غلیم دی ئې لاس بر او سی مدام
غلیمان دې تري حذر خوری که پوهیږی
تېره تیغ ئې اژدها دی خون آشام
چهداهسی تورزن ورورئې خدای پیدا کړ
بري دی فخر کا همه ورو نه ما دام
دلښکرو کار خه هسې آسان نه دی
چه پرې هر سړی به مو می انتظام
چه رښتینی ترسر تېر بخښل، خوړل کا
دهغه دو راندی سر کښېږ دی انام
دمز ری بخره ور مېږ د نیسله کا ودی
گیدړ تر ودی ئې مړ ښزی په لحام

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمیدان هوسۍ به یو یـو تـازی نیسی
دو ډیـر غپ په کـلی ډېـر گرزی انعـام

د«ډوډي» حصارئي درست پەوینو سور کړ
په « ډوډه » بـا ندې چه وشو قتل عـام

پاس په غره بـاندی محکم ؤ، چا وهلی
د « کوهاټ» تر کوټ ئې بنه ؤ، استحکام

دخا وند پـه حـکم هسی فتـح و شـوه
چه ئې کـار شو پەدره ورځو سر انجام

دا وو کو تـونو کـار دخدای په حـکم
وار په وار شو پـه هفته کـښې انصرام

دتـو پـکو د ویشتـلـو پـه لـو گـیو
بل آسمان انـم پیـدا شـو کبو د فـام

دختـکو نـېزې هسی تلـې پـه ز غـره
لـکه ستن پـه خیـمه درو مـی دخیـام

دپرلخوانان غاړه غړی شول پەداجنگ کښی
کـه تقصیر نـه ؤ ، د تـو رو دسهـا م

« صفدر خان » لاچرې جنگ ایدلی نه ؤ
په دا جنگ ئې سر نېـزه کړه په خصام

د« گنبت» ارمان می درستله دله ووت
که شکست و، که پر هار و ، که دشنام

د « بنگش» بخره دیـالـی دخو کـی ده
نور دی نـه بـاسی نـو ره پـه نیـام

شوك چه خپل کسب پر ېږ دی بل کسب نیسی
تر هغه نـه بـه بـل نـه وی عقـل خـام

(c) ketabton.com: The Digital Library



که گاوزیه جنگ باتوردی جنگ ئې هېردی
چه یـه سرو خـوری ځیهـره د ضیغـام

که «بنگښ» څخه څه ننگ وای پرې به نکړای
مـا دده لـه دهکه باغـه یـو بـا دام

چه بې ننگی چاری کا به واړ و ورشه
لـکه را غـیء یـه بنگښو دا هنگـام

د بنگښو شا مت خپـل سـزا ئـی دا ده
چـه یـه غـوښو ئـې مړ پـښی ددو دام

هر کهـتر چـه د مهتر سـره سـتېز کا
د عـمل سـزا بـه مـو مـی یـه انجـام

هسی غـم مـا تم الـم ور بـاندی راغیء
رنا ورځ شوه د «کوهاټ» په عـالم شـام

د «کوهاټ» په عـالم واړه عا لم ډك شـو
د بنگـښو کـډه ولا ده تر «بـگرام»

که می پښه په «گنبت» وښوهېده څه شو
یـه همـت مـی ئـا بـتـی وه د اقـدام

د «دوده» په جنـگ کی بیاله میوډك شو
په «گنبت» کی چه خا لی دهغه جـام

ښه چه مخ د هغې سو بی را ښـکـا ره شو
چـه لیدلـه می یـه خوب او یـه الهـام

شپږ اوه زره «ختك» وه په داجنگ کی
په اولجه سره خـوشنو دشو هـر کـدام

د «گنبت» جنگ می په ننگ دپښتانه و
بـل غرض می په منـځ نـه و، نـه مرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې جنګ ناري به درومی په ملکونو

پرې خو ښېږی به همه پښتون ښام

چه ددې سوبی آواز وشی په هند کی

بیا به زغ شی دپا چا په خاص و عام

چه په نام پښتون غو ځېږی پرې خو ښېږی

اورنګ زیب هسی باد شاه دی د اسلام

تاسی ګورئ، سره له دې چه ځینو ساده پښتنو پښتنی ننګی نه شا کړې وه او د پښتنو دقومی مشرسره چه بې د پښتنو دلوړ والی او وینوالی ئې بله آرزو نه درلوده، جنګونه کول ـ خوبیاهم خوشحال خان د دوی په ماتې له زړه خوښ نه دی ځکه چه اورنګ زیب دهر پښتون یه مرګ خوښېږی، له همدې کبله خو شحال خان به ویل :

چه په نام پښتون غو ځېږی پرې خو ښېږی

اورنګ زیب هسی باد شاه دی د اسلام

او خو شحال خان دا جنګ خاص د پښتنی ننګی پرځای کولو دپاره کړی دی ځکه چه د ښګنبو ځینی ساده ګان د پښتنو د دښمنانو په پیسو اوچل ول غولېدلی وو. او پښتنی ننګه ئې هیره کړی وه . نو خوشحال خان مجبورو، د پښتنی ننګی په لاره کی دهر چا سره چه وی جنګ و کړی . اسکه چه وې ویل :

د « ګنبت » جنګ می په ننګ د پښتانه و

بل غرض مسی په منځ نه و ، نه مرام

که دانه وای ده به د ښګنبو له باغه یو بادام هم پرېکړی نه وای لکه چه وایی:

که « ښګنبو » څخه څه ننګ وای پرې به نکړای

ما دده له د که باغه یو بادام

بل ځای پردې حال افسوس کوی چه دی پښتنو د ننګ دپاره جنګیږی خو ځینی ساده پښتانه پخپله دده په مرګ یسې دی — وائی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه غلیم داو رنگ زیب یم　　سر په غره په بیابان
زه په ننگ دپښتانه یم　　دوی نیولی مغلان
د منصب په اضافه دی　　تل په ما پسی روان

خوشحال خان دابی زه داسی ساده پښتانه وهلای شم، خوبیاهم هر پښتون زما لحان دی، خپل لحان نه وهل کیږی:

دما لاس ور باندی رسی　　راواهه نشی خپل لحان

دپښتنو دښمنانو چه بیا دتوری په میدان کی څه ونکړل، نور شونوواو منصوبونونه ئې دومره زور ور کړ، چه په پای کې ئې دننگیالی خوشحال خان خپل لحوی «بهرام خان» هم دپښتنوالی له دائرې څخه وبوست او دخپل پلار په مقابل کی ئې کار لحینی واخیست داد پښتنو هغه لویه بدبختی ده چه پښتانه ئې هروخت تباه کړیدی. هو، نردې لویه بدبختی به چیرته پیدا شی چه دیوه ننگیالی پښتانه زوی پښتنی ننگه پریږدی او دپښتنو او پښتنوالی برخلاف دخو پیسو دپاره دپلار مخ ته ودریږی؟ پیسې په دنیا کی دهر چا په کار دی او هر څوك زیا ر باسی چه پیسې پیدا کړی، مگر هوښیار خلك ددې دپاره پیسې غواړی چه خپل شرف، ناموس، پت، شرم او عزت په خوندی کړی، خپل رنگ او نوم په ښه کړی، خولحینی ناپوهان دپیسو په حب اومینه کی دومره ډوب شی چه خپل وطن، خپل عزت او خپل ننگ په پیسو خر څوی او لحان نه ابدی شرم او بد نامی اخلی، دخوشحال خان زوی بهرام خان هم له دغو ناپوهانو څخه ؤ چه خپله پښتنوا له او پښتنی ننگه ئې ددښمنا نو په پیسو اومنصب بایللې وه او لحان ئې دپیټ اوشرم ورد گر زولی و دده ننگیالی پلار د پښتنو دآزاد حکومت فکر په سر کی درلود، خودی دخو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیسو غم لیونی کړی ولیونی لاخه‌چه د پلار مرګ او دپښتنو تباهی نه ئې ملا تړلې وه خوشحال خان دده په حق کی‌وا یی :

هنګامه ده‌لا په منځ کی — د مغل او د افغان
زه په نقش دخپلی چار — که څه شی سرو ساما ن
دی په وهم به وسواس کی — تل له مادی هر اسان
زه په لویو اندیښنو کی — دی په کور کی‌دی غران
چه دما سره څوك ټول شی — دده زړه شی نور لرزان
چه د ما دلښکر غټ شی — او به کیږی دده لحان
په دادوه ګاره خو ښیږی — دا احمق، سفله، نادا ن
چه زما سره څوك نه وی — بل چه‌سورمی‌وی دیګدا ن
چه زما له غمه دار وی — بې حسا به شی شادا ن
چه اساس دنوری کښیږ دم — دا نا مردئې کاغلطا ن
و مغلو ته مجبر اکا — چه‌خپل پلارمی کړداشا ن
چه زما سره بدی کا — پرې رحمت کا منلا ن
دی‌لاهر څه ورته وا یی — ورسره شی پاڅسی خوا ن
زه‌دده په کار خندان یم — دی زما په کار خندا ن
یا خو دی مه وی‌له ما نه — یازه مه وی په جهان
رسوا ئی شوه، ترمنځ بیښه — نه‌څه‌ورك نه ئې څه زیا ن
نظام پور لره اوس‌را غلم — دغه کوی دغه میدا ن
چه‌می وار ورباندی ساز شی — بیارا وداندی کا دوستان
وار د هری چا ری تیر شو — فکر اوی دی دا زما ن
هر چه دی هغه به و شی — څو لا حو له په شیطا ن
که کښینم نام اوناموس لحی — که پاڅم پا څی طوفا ن

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کش مکش کې تېرشو — په مـا عمـر را یـګـ ـان
د ګټـنې وخت تېـر پـېزی — وا ویـلا افـغـا ن افـغـا ن
مفـا جـات دی ئې نصیب شی — یـا ئـې تورمـار جـا نستا ن
چه هیڅوك پرې بد نـام نشی — هسـی ګـور تـه شـی ر وان

لـکه عاق دی عاق دی درو می
دیـن دنـیـا دواړه خسـران

کوم وخت چه بهرام خان خپل مشر ورور « اشرف خان » دهندد مغلو په بند ور کړ نو مغلو دی دسرداری په نامه سرلوړی کړ، خو شحال خـان داسی پېغور ور کوی :

تـاهـنر دسر داری تر ده بهرا مه! — سر داری دی پخپل دور کړه بد نامه
هـم تماهـی خپلخا نې لره بلا شوې — هم خپل لخان لره بلا شوې بدفر جامه
مشرورور دی په زندان کړ ته خانی کړې — داخانی دی شه په لخان پوری حرامه
نور دی نوم دما دزویو په شمار مشه — دخو شحال خټك وینا په دا تمامه

دخوشحال خان له وینا څخه څر ګـندېږی چه دخان لخینی نور زامن هم بې ننګه شوی دی اودده پـا که او قومی نقشه ئې ور ګډه وده کړې ده، لـکه چه وا یـی :

زویو می خوی دخټکو نور کړ — زما په نقش ئې پوری سورا ور کړ
وخت د ګټنی دنـام ونـنګ و — بـدو زامنو را څخه خپور کـړ

خوهغه زامن چه دخوشحال خان سره په اوږه ولاړوه، او دپښتنی ننګی دپرلخای کولو دپارهٔ ئې لخانونه قربانول، دډېرې ستاینی وړ دی اوخوشحال خان ئې هم هر کله ستایی لخکه چه په هغه وخت کښی دا کمه خبره نـه وه چه دپښتنو ددښمنانو رشو تونه په لویه پیمانه دساده پښتنو په منځ کی خپاره شوی وو، اوهری خوا ته سپین اوسره لخلیده مګر هغو ننګیا لـو لخلمو چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنی ننګه ئې پرځای کوله او د پښتونخوا د ځمکې او پښتنوالی د موجودیت دپاره جنګېدل، وچه دوډۍ ئې هم په ماړه نس نشوای موندلای، که دوی هم د دښمنانو نوکری اختیار کړې وای دوی به هم د ناز او نعمت خاوندان شوی وای، مګر دوی حقیقي پښتانه وو، او خپله پښتنی ننګه او پښتنی مځکه ئې په پیسو نه خرڅوله او نه ئې خپله آزادی د دښمنانو په نوکرۍ بدلوله، خپل د کاڼی کاڼ ئې د دښمنانو نریلاو خوښ د، چه یوله دې ننګیالیو ځلمیانو څخه عابدخان ؤ، خان ئې داسی ستایی :

داد کاڼی کاڼ دما دعا بد خان دی
د مغل پلاو دانو رو فر زندا نو
که داهو مرغ نا خلف وا ده خلف وی
نن به ما نوبت واهه دخر وا ز و

همدا رنګه خوشحال خان د پښتنو نور وینې زلمیان چه پر ننګه ور سره ولاړ وه ستایی، مګر په دې خبرۀ افسوس کوی چه لاس ئې نه رسیږی :

مغل پښتون سره یه پیچ وتاب دی
چه پښتا نه کورم خا نه خراب دی
ښه ښه ځوا نان شته په پښتا نه کښې
چه لاس ئې نه رسی خانه خراب دی

خوشحال خان د هغو ساده پښتنو به زیره پوری خاندی چه له ډېرې سادګۍ څخه د دښمن په منصب زده ترې او له دې نا خبره دی، چه د پښتنوا لی دښمن هیڅکله د پښتون دوست کېدلای نشی او نه هیڅ وخت ئې دا زده دی چه پښتون دی ښه شی، ځکه چه که پښتون ښه شی نو د پر دیو نوکری به پرېږدی ځان به وپېژنی او ځانته به د پښتنو آزاد حکومت جوړ کړی او دا فکر به وکړی چه نردې چه د نورو نوکرشی ولی په خپله د خپلې مځکې بادار نشو نو ځکه خوشحال خان ورته وایی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیره دي کله دپښتانه شي چه د مغل په منصب ئي زده شي
مغل کمزوری غلیم به رحم دی کله ئي زده وی چه پښتون ښه شي

په دې تر تیب سره دپښتنو دهغه وخت ددښمنانو له خوا په لحینو سا ده پښتنو کښې رشوتونه خپاره شول اولکه دپښتنو د هر دښمن چه عادت دی پښتانه ئي په خپل منځ کښې سره واچول، مگر بیاهم څنگه چه خوشحال خان یو وینې او آزاد پښتون ؤ په هیڅ توگه ئي دیر دیو مری توب نه مانه او نه دمغلو په منصبو نو غولیده ، ده له خپل لحان سره ملی مقدسه مفکوره دولودله او دائې عزم کړی ؤ چه تر څو ژوندی وی دخپلې دې لوی مفکورې له عملی کولو څخه به لاس وانه خلی، او په هره قربانۍ چه کیږی پښتانه آزاد اولوی پښتون جوړ کړی مگر لحینې بدبخت ساده پښتانه د کبر و تیږو و دیوا لونه وو، هرڅه چه به خوشحال خان راسمول نه راسمیدل، دی په خپله وایی ،

که هرڅو ئي سازوم رانه سازیږی
پښتانه دی د کبر و کانو دیوال

او لحکه په بوالحې سرد دښمن مقابلې نه ودرید او دپښتنو توله ننگه دده په سرختمه شوه یخپله وایی :

شرم دی، ننگ دی دارد سردی سمه مې پر پښوه لحای مې غردی
پښتانه واړه دمغل ښوروا خوری ماته ئي پاته دا شورو شر دی

خصوصاً چه دوه ننگیالی اوجنگیالی مېړونه ئي په جنگ کښې بایلل نوخوشحال خان بیخی بوازې دښمن پاته شو، یو جنگیالی مېړه پښتون «ایمل خان» اوبل «دریاخان» و، چه په غلیم ئي ښه زړوره ساده کړی وه، مگر خوشحال خان په دې تنها ئی کښې هم دخپل عالی مقصد څخه ستړی نشو، او ویل به ئي :

دمزر یو مړ نتوب په لښکر نه وی مټ ئي هر کله بوازی په خپل لحان شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزادی تر بادشا هیه لاتهـری کـا چه دبل تر حکم لاندی شی زندان شی
پهجهان دلنگیالی دی دادوه کاره یابهوخوری ککری یابه کامران شی

مگر دهندمغلو چهدخوشحال خان پوازي وجود هم لخانته لـوی خطر با لـه زیار ئي پوست چه په هردولوی دپښتنو دالوی اوویني قـائد له پښو واچوی؛ لحکه خوشحال خان خپل لحان هغه لوی بنامار گنی چه د دښمن تردم لاندي نه را لحی ،وایی :

پښتانـه واده لـکه مـا رو نه دی مغل دم کړی پخپل کـارو نـه دی
چه پهمارونو کښي لوی مار پیداشی پسي ئي غواړی که په غارو نه دی

نو مغلو داچاره وسنجوله چه خو شحال خان په خپلو پښتنو له پښو واچـوی او دپښتنو په تـوپك ئي مړ کړی، پهپښتنو کښي خوهم داسي سـاده پښتانه ډېروه چه دپیسو دپارهٔ ئي خو شحال خان لاڅه خپل پلار هم واژه، نودمغلو دپاره ئي په خوشحال خان پسي ملا وتړله اوپه خپله دخپل ملیت او پښتنوالی دورا ولو دپارهٔ آماده شول، کو م جساس اوویني پښتون چه دلحینوساده گانو پښتنو په تـاریـخ کښي داسي لـکي رینی نودپر متا ثـر پېژی :

تـاسي گو رئ، پښتانه تـل لـه خپله لاسه بـر بـاد شـوی دی همیشه دپښتنوا لـي او پښتنو دښمنانـو پښتـا نـه پـه خـپل منـځ کښي دخپلـو نـاوړو اغراضـو دپـا ره سره وژلی دی، خوپهداسي حال کی هم خوشحال خان خپلهدآزادی پاچاهی اعـلان کـو له :

گـوره څنگه پـاد شاهی لـکه خور شید کړم
یـك تنهـا پـه جهـان گـرزم لښکر نشتـه

پهدي وخت کښي د ننگیالی خوشحال خان عمر (۷۷) کـالونه رسیدلی ؤ خوبیائي هم دپښتنو دآزادی او دپښتنو دملی حکومت جوړ ولو چیغی وهلي مگر څنگه چه لهیوي خوادده عمر پای ته رسیدلی و، اوله بلي خوا لحینی ساد گانو پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دده ملامانه کړي وه، نو لکه دا پرېدې وغرونه وخوت او يو کال وروسته دې وجهان فومي آرزو ګانو سره دد (٧٨) کالو په عمر د ربيع الاول په ٢٨ په ١١٠٠ هجري کال سم له ١٦٩٠ عيسوي کاله په ډېرې نا کامۍ وفات شو ( انا لله وانا اليه راجعون ) او دلوی پښتون د جوړولو ارمان ئې ګورنه له خان سره يووړ لکه چه وايي پښتانه چه بې ننګي کا څوك ئې څه کا ګورستان اره به درومولا ارمانه خوشحال خان که څه هم له ارمانه ډك زړه ګورستان ته ولاړ مګر بيا هم دده جنګونو او زيار چه کو مه ګټه پښتنو ته ورسوله هغه ډېر ولو نه ده .

هو اخوشحال خان د پښتنو د آزاد حکومت په تشکيل کا مياب نشو او نه ئې ټول پښتانه د دوی د ساد ګۍ له سببه بريوه مرکز راغونډ کړی شول ، خو دومره ئې و کړه چه د پښتنو او پښتنوالی نوم ئې له محو کېدو څخه خوندی کړ او ځينې پښتانه ئې په دې وپوهول چه پښتون او پښتو نخوا بايد دبل چا ضميمه نشي او نه ډېر د يو نرلاس لاندی ژوند و کړی .

خوشحال خان بند ته ور کړ مګر دده بند بې تأثيره يا نه نشو ، بلکه د پښتنو په مغزو کښې ئې په غير مستقيم ډول دا فکر پيدا کړچه د پښتنو د ښمنان نه غواړی چه پښتانه آزاد ژوند ولری ، نوله دې کبله اکثرو پښتنو خپله لمنه د پښتنو له د ښمنانو څخه راټرله و ساتله او نه ئې غوښته چه له دوی سره په معاشرت کښې داخل شی او په هر ځای کې پښتانه د پښتنو د د ښمنانو مقابلې ته پاڅيدل او جنګونه ئې ورسره شروع کړل ، حتی د پښتو پرادب ئې اغيزه و کړه مثلاً حميد بابا وائی :

يو به نشم مغلوالـه در قيـب ستـا  که زو کړی وم رښتيا له پښتنې زه

يادا :

په داتول جهـان قراره قـرا ری ده  بـر حمـيد د غم مغل را وخـا تـه

عليخان وا يی :

پرې به نږدمه رقيب داستاو کوی نه  اپريدی شوم ومغل نه خـيبر نيسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان په پښتنو کښې ملي روح ژوندی وساته او پښتنی ننګې ته ئې ملتفت کړه او د پښتنوالی د دښمنانو د مقابلې دپاره ئې ډېر ځلمی وروزل. د خوشحال خان او وېنو پښتنو مخالفت له مغلو سره د دې خبرې د پاره نه و، چه « مغل » دی، بلکه د خوشحال خان یادنورو پښتنو مخالفت دهند له مغلو سره پردې خبره ؤ، چه هغوی د پښتنو پرحق تجاوز کاوه. د دوی طبعی حق آزادی ئې نه منله، حتی، د پښتنو پرمو جو دیت قائل نه ؤ، بلکه غوښته ئې چه پښتانه او د پښتنو مخکه په نورو پوري وتپاوی او پښتانه د خان پاپنجا بیانو مریان اونو کران کړی، ځنګه چه ځینی ساده پښتانه ئې هم په پیسو او منصبو غولولی وه، او پښتنی ننګه ئې د دوی له یاده اېستلی ده نو ځکه خوشحال خان او ځینی وېنې پښتانه د هغوی د بدنیت مقابلې نه باخبر دل او فقط پښتو او پښتنوالی او پښتو نخوا د موجودیت د پاره ئې د همت ملاوتړله او خپل ننګیالی ځلمیان ئې په دې لاره کښې قربان کړه، نو که د مغلو پر ځای بل څوك وای چه د پښتنو پرحق ئې تجاوز کولای هم خوشحال خان او نورو وېنو پښتنو د هغه مقابله کوله ځکه چه د پښتنو الی قانون دبل چا تجاوز نه منی هرڅوك چه وی. د هند تر مغلو وروسته د پښتنو مقابله د پرنګیا نو دلو بی امپراطوری سره هم د دې قانون په حکم وه چه تر سلو کالو ډېر نې دوام و کړ او پرنګیا نو ونه کولای شوه چه د پښتنو سرځا نته نیټ کړی، که څه هم پرنګیانو هم د هند د مغلو هغه لوی چال عملی کړ او ډېر ساده پښتانه ئې په پیسو او رشو تو او منصبو د ځان کړه او پښتنی ننګه ئې نړې هیره کړه. مګر هیڅ ئې و نه کولای شوه چه تول پښتانه په زور یا په زر د پښتنوالی څخه واړوی او د پرنګیانو ئې د عاکوی یانو کران کړی له هغه وخته چه پرنګیانو پښتانه د « ډیورند » د منحوس او فرضی خط په واسطه سره توټې توټې او جلا کړه نو خو را ډېرزیارئې د بوست چه هغه پښتانه چه پرنګیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یه‌زوردخان‌خوانه کش کړی وه ، له‌پښتنی ننګي واړوی او دپر نګی دنو کړی یامزدوری پست روح پکښې پو کړی او یاد پښتنو مخکه دپرد بومخکو ضمیمه کړی اودپښتنو دپښتونوالی‌روح‌وژنی ، مګر وئې نه‌کولای شوه چه په دې مقصد پوره کامیاب شی ، نه داوتکو په بمونو اونه درو پو یه‌خلطو ، کرنیل ریپنګتن چه دپرنګیانو بومنصبدارو ، ویل‌یه‌ئې چه یه‌هند کښې دپرنګیانو فوجی لګن ( خرڅ ) له کله له پنځه شپیته کروړه‌دی چه له هغه څخه بوویشت کروړه خاص دسرحد دپاره لګیږی ( ۱ ) نوناسې‌له‌دې خبرې نه انکار کولای‌شی چه پرنګیانودپښتنوالی او دپښتنو دبربادی‌د پاره د هندوستان دري یمه برخه خرڅ لګولی دی ، او داتول لګښت یوازې په عسکری مهم تو کښې نه‌ر ، بلکه یه‌دې کښې همه رشوتونه اوتنخا ګانی چه دپښتنو برسر اخیستل شوی هم شاملی دی .

مګر بیا هم یه‌پښتنو کښې پښتنی روح چارنه وژلای شو ، او یو دوی کی داسې دینې خلمیان پیداشوی دی‌چه دخوشحال خان دحریت خواهی‌روح ئې په قبر کښې خوشحاله کړی دی ، اوله هغه وخته چه پرنګیان هند ته را غلی ، اودپښتنو دبربادی‌د خیال ئې کړی‌دی بیاتر وسه‌هیڅوخت په‌آرامه کښېنستلی نه دی ، بلکه تل ئې دخپلې آزادی‌د او استقلال دپاره قربانی‌ور کړیدی دپښتونستان آزادو پښتنو خو هیڅکله نوپك له‌اوږو کوز کړی‌نه‌دی‌اوهم‌هغو دینو پښتنو چه دپرنګیانو ترلاس لاندې رو ، تل دخولې او قلم کوزاروته دخپلې آزادی‌د دپاره پردښمن کړی‌دی - چه‌دلته دمثال په‌ډول دپښتونستان دیوه شاه خلمی قربانی یادوو : په ۱۸۹۹ عیسوی کال مولوی میرا جان

---

(۱) سرحد برطانیه و افغانستان = دملك سبدال‌خان شینواری اثر = ۱۰۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کا کا خیل چه دزوند دپره برخه ئې په آستریلیا کښې د اوښانو په تجارت تیره شوې وه یوقومی تحریك شروع کړ ' ده لومړی د اسلام نشر او تبلیغ کاره چه دده په لاس څو آستریلیان هم مسلمانان شول او تر اوسه دده دلاس مسجدونه په آستریلیا کښې شته مګر یوڅه وخت وروسته ئې ناڅاپه په فکر کښې یو انقلاب او تحول پیدا شو او مذهبی تحریك ئې په انقلابی اوملی تحریك بدل شو. د آستریلیا په پښتنو کښې ئې د قومی تحریك شروع وکړه او یو جمعیت ئې د «مجلس وطن» په نامه جوړ کړ ' خو د آستریلیا حکومت دانګریزانو په اشاره دا وینې پښتون له آستریلیا څخه خارج کړ؛ مولوی میراجان امریکانه ولاړ' او هلته د کیلیفورنیا په خرا وشا پښتنو کښې ئې خپل تحریك ته دوام ورکړ ' دپر پښتانه ئې د لحان هم خیال او همفکره کړه اودخپل وطن دآزادۍ فکرئې ددوی په مغزو کښې کښېناوه ' څو ورو ورو د امریکا ټول پښتانه چه د آزادۍ په خوند او مفهوم ښه یو هېدلی وو ' په دې حزب « مجلس وطن » کښې شامل شول او وروسته ئې ددې مجلس نوم « غدر پارټی » کېښود او د کیلیفورنیا په پنځم لمبرو دستریټ 5. Wood Street California کښې ئې مرکز وتا که اوجدی اقدامات ئې شروع کړل.

په ۱۹۰۲ع کال ئې یو هیئت د محمد عزیز خان یوسفزی ترمشر نوب لاندې دامریکا څخه پښتونستان ته را ولېږه که څه هم دری پټ اودیوې بېړۍ دعملې په دودرارهی وه' خو چه سنګاپور ته را ورسېدل هلته دانګریزانو له خوا ګرفتار شول؛ محمد عزیزخان دپښتنو دپښ زلمی په غرغره ووژل شو او نور ملګری ئې په حبس دوام محکوم شول ' دا ددې آزادۍ غوښتونکو پښتنو لومړۍ قربانی وه چه دوطن دآزادۍ په لار کښې ئې ورکړه' اوهم دپرنګیانو د دیمو کواسۍ یوه نمونه ره ' چه دخپل امپراطوریت داستعماری

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر دپاره ئې اجرا کړه ـ مګر څه موده وروسته په خپله مولوی میرا جان دخپلو څو نورو ملګرو سره په ۱۹۰۲ ع کال کښې دخپل وطن اراده وکړه ، دجاپان او روس له لاری افغانستان ته داخل شو ، تیرا ئې د خپل تحریك مرکز وګرزاوه او د انګریزانو د تجاوز پر خلاف ئې اقدامات شروع کړه . دتیرا ایریدیو دی په خپل مشرتوب وماته ، څو شپې ورلحې ئې تیرې کړې چه پرنګیانو بوه حیله جوړه کړه او میرا جان ئې «چه په دې بهانه مونږ او ایریدی باید صلح او یوه معاهده سره وکړو ، مګر د معاهدې په شرطونو باید چه ستاسو مشر لاس لیك وکړی» جرګې ته وروغوښت ، خوچه میراجان ورغی ، انګریزی منصبدارانو ونیو او بندی ئې کړ ، دکه ایریدیو هرڅه شر وشور ، برغل او چپاو نه وکړه ! خومولوی میرا جان د پښتنو آزادی خواه زامی چه له هغه وخت څخه ورك شو ، نور ئې هیڅ پته معلومه نشوه ، او د انګریزانو دامپر یالیستی او استعمار خواهی قربانی شو . که دقت وشی د پرنګیانو داحیله هم عیناً هغې حیلې نه ورته ده چه دهندمغلو دخوشحالخان بندته جوړه کړې وه . ددې وینې پښتون نورملګری بندیان اوڅه چه پاته وه هغه بیرته روسیې او امریکا ته ولاړل (۱) دهغه وخت پښتانه که څه هم دهغو یه قدر رونو بوهېدل مګر او سنی حساس پښتانه باید دمولوی میراجان اودهغه مجلس یه نامه څلی جوړ کړی اودهغه یه نامه هر کال سال ګره ونیسی .

دا دپښتنو دتحریك یوه نمونه وه ، یه همدی ترتیب دمیرا جان ته وروسته نور تحریکو ته دپښتنو دآزادی دپاره په پښتونستان کښې شوی دی چه اکثر حساس پښتانه د پرنګیانو یه بندا وغړغړه ولاړل او کورونه ئې تالاشول چه وروستنی تحریك د محکوم پښتونستان دملی قائد خان عبدالغفار خان تحریك ؤ . دا تحریك لومړی د پښتنو داجتماعی اصلاح یه نوم شروع اوبو مجلس د «انجمن اصلاح

(۱) د کابل مجله ۱۸ کال ۲۱۷ - ۲۱۸ ګڼې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



الا فاغنه ، يه‌نوم جوړ شو ، چه يه‌دې جمعيت کښې ډېر وينې پښتانه‌راغونډاو دخپل قوم‌د آزادۍ‌د پاره‌ئې ملاوتړله ډېرې لويې جرګې ادغمې فيصلې ئې وکړې ،

خو ډېر ګيا نو حکومت چه‌د پښتنو دا بووالی او بيداری‌وليده نو ددې تحريک دخپه کولو د پاره ئې مختلفې پلمې را پيدا کړې اودا الزام ئې په پښتنو ولګاوه چه «سرخ پوش» کمو نيستيا ن دی ، ددې نه پس په‌پښتنو دوهره سخت مظالم شروع شول چه دهغو داوريدلو د پاره ډېر لوی زړه‌ضرورت دی ، ډېرانګی حکومت‌ټولې وسلې دنوپونه واخله ترنويکو اوماشين ګنونو پورې په‌پښتنو وچلولې او دتحريک مشران داستعماری حکومت سره‌دغداری‌ په جرم بندیان شول ، دا کنر وباخبرو خلقو يقين پيدا شو چه دوی به په غرغره کيدې شي ! په‌دې وخت کښې دمحکوم پښتو نستان دهنه وخت‌دحکومت يوډېر لوی رکن خان عبدالغفار خان ته‌نصيحت وکړ چه‌دهند وستان د کوم يوسياسی جماعت سره‌خان‌ملګری کړه ! خان‌داخبره ومنله اودقيد نه‌ئې يوه‌جو ګه هندوستان ته وليږله د هندوستان ټولو سياسی اسلامی جماعتونو داغټه زمه واری په‌سر وانه‌خيستې شوه‌اوداجر ګه بيرته نا کامه راغله‌خان عبدالغفارخان داجر ګه بيا وليږله چه د کانګرس مشران روښنی هغه‌و چه‌هغوی يو دم داملګر تيا اوډله منظوره کړه اودهغې ورځې نه پس دمحکوم پښتو نستان خدا ئی خدمتګا ری ډلی د کانګرس سره اړيزه په او زه د آزادۍ‌ په جګړه کښې ملګر تيا و کړه او د «لندن تايمز» په قول څومره کار چه دهندوستان آزادۍ غوښتونکو په څلويښت کاله کې کړی و ، سرخ پوشانو په پنځو کالو کې‌اجرا کړ ، ددې نه‌دا فائده سرخ پوشو ته ورسيده چه‌دهغوی مشران دمرګ اوغرغرې نه‌خلاص شوو ، اود کانګرس دملګر تيا په وجه د محکوم پښتو نستان په‌هغه برخه کې اصلاحات نافذ کړی شول ، خو بل طرف نه ډېرانګی حکومت نه‌دبهانې اوالزام يوه بله وسله په لاس ورغله اودا پرو پا ګنډ ئی شروع کړ ، چه کانګرس دهندوانو جماعت دی اوسرخ پوشو ځان هندو کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې برو پیکندې یاوجه لحینې ساده پښتانه پهسر خپو شوشکمن شول اوددوی دتحریك ختمولو دپاره خودغرضه خلقوته ښه بهانه پهلاس ورغله چه دپښتنو دا جماعت (خدائي خدمتگار) کمزوری کړی .

دا کشمکش روان و، چه دانگریزانو حکومت مجبورشو، هندوستان ته آزادی ورکړی اومالك پهدوو بر خوویشل شو، یوهندوستان اوبل پاکستان پهدې وخت کې دصوبه سرحد پښتنو دپو آزاد حکومت پښتو نستان آواز دخان عبد الغفار خان پهوینا اوچت کړ اودتولې انصاف پسندې دنیا یقین و، چه پرنگی دالحمکه خپل خپل حقدار ته پریښودی نو پښتنو ته به هم خپله لحمکه حواله کړی ، مگر دپرنگی حکومت داونه منله اوپه زورلې بواجبا ری قسم ریفرینډم (رایه گیری) پهپښتنو کې وکړه چه یا به پههندو ستان کې شامليږی،اویا به پاکستان کې-خان عبدالغفارخان که هرڅه چیغې ووهلې ولې خوندئې وانکړ، په دې وخت کې دافغانستان زلمی ټولو اك اعلیحضرت محمد ظاهر شاه دغوملی اوقومی احساساتو پهاثر چه دپښتونستان دپښتنو په حقله ئې لری دپښتو نستان پهپښتنوداجبر وته منلی شو ، ددوی دآزادی آوازئې اوچت کړ؛ مگر پرنگیان خوت خپل امپریا لیستی حس له کبله کانه وو، دافغانستان دحکومت داپاك زغ ئې وانه وریدلی شو ، اواجباری ریفرینډم شروع شو ، خدائی خدمتگارانو دریفرینډم نهخان مانی جن کړ ، اوپهرای گیری کې ئې برخهوانه خیستله اوهیڅ قسم غرض ئې پهرای گیری کښې ونه کړ، پهدې چل چه کوم وتوانه وغور زیدل دهغو څخه معلومه شوه چه ددې دومره نیاری باوجود اوسره ددې چه مخالف پهموقع موجودنه و ، بیاهم دخدائي خدمتگا را نو مقابلی دلې څهډیری زیاتی رائی وانه خیستلې مگر بیاهم دسرحد دپښتنو هغه مشران چه دخان عبدالغفار خان ملاتې مانه کړه لهوجدانی مسئولیت څخه خلا سیدلی نشی ددوی فرض ؤ چه پښتانه ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپرنګیانو په چل او حیله پوه کړی وای ، مګر له بده مرغه موږ نه دمخه وویل چه ځینې بدبخته پښتانه دخپلې سادګۍ له ، کبله همیشه دبل دګټې دپاره استعمال شوی دی او استعمالیږی .

تاسی غور وکړئ دخپل ځان دپاره بوقومی او پښتنی مرکزنه لری خو دنورو مرکزونه په خپلو وینو ساتی ؟!

پخپله دخپلی ځمکی دیوې لوښتې واک او اختیار نه لری ، خودپرنګیانو دګټې دپاره ئې د «العلمین» او ایتالیا میدانونه له جرمنی څخه ګټلی دی ؟! دپښتونستان دجوړولو او پښتنو داتحاد فکر ئې نه دی کړی . مګر نورو ته کشمیر وهی ؟! په دې حال لاهمه هیڅ ځانته نه ملتفت کیږی ،

خوشحال خان څه ښه ورته وایی :

ته خبر نه یې له ځانه　　څه په تا کیږي څه ، ها ! ؟
درته وایم نه پوهیږي　　څه غفلت اري ها ها ؟ !

رشتیا چه پښتانه ډیر غافل دی هیڅ ئې ځانته فکر نشته چه خاك په دوی څه لوبی کوی ؟ نن بړون چه دپرنګیانو قصه ختمه شوه ، داخیال کیده چه زموږ قوم به ضرور ځان ته متوجه او په پوه مرکز به راغونډ شی او دنپل رانلونکی ژوند دښه کولو دپاره به لاري وسنجوی او نور به نو دپر دیو دلاس بازونه نشی مګر افسوس دایتم دعصر پلوشوهم ددوی زړو توته لاره ونه موندله . . . که څه هم دا ګناه دپښتنو نه ده داد استعماریت غوښتو نکو پرنګیانو ګناه ده چه اوس لا هم دپښتنو له سره لاس نه اخلی ! تاسی وګورئ سیلون او برمانه آزادی ور کوی خو پښتانه به لاهغسی دربدره او بې مرکزیته دپردیو ترلاس لاندی ژوند کوی دمغلوالی پر ځای خوئې پرنګیواله ودروله اوس غواړی دپرنګیوالی پر ځای پنجابی واله اویا کومه بله توره بلا دری ؟ څله پښتانه نه پرېږدی چه خپله پښتنی دنیا جوړه کړی او پر پښتنی مرکز راغونډ شی ؟ آیا توره دښمنی لاهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته چه بیا پښتانه د خپل استعماریت ترفکر قربانی کړی ؟ اود پښتنو دښکلو لحلمیانو وینی دلحان دامپراطوری د پاره توبی کړی ؟

او بل چه پرنګیان داسی ښکاره کوی چه له دې خوائې خپلی ښې تولی کړی دی بیالاهم د پښتنو غم ورسره دی او نه غواړی چه د دې نه وروسته هم پښتانه د آرامی ژوند وکړی، نو غواړی خپل سمیعی دوستان او صادق شاګردان د پښتنو پرسر نازل کړی ، چه دوی د پرنګیا نو د کیلان وی او پښتانه به په هر نامه حتی د مسلمانی په نامه هم د لحان دغر ضونو د پاره استعمالوی او د دوی له قوت نه به کار اخلی ؛ کرم وخت چه ئې غرض دسره شو، نو بیا به پښتانه هم هغه شان تش لاس غرونو ته و لیږی او پرهغه څه به چه د پښتنو دښکلو لحلمیو په وینو ګټل شوی دی خپلې چرچې کوی، داده د استعمار چیانو دیموکراسی ؟!

خیر ، پرنګیان خو به خرد دا کارونه کوی ، لحکه چه دوی همیشه پښتانه د خپلو شو موغرضونو د پاره قربانی کړی دی، خو غم دادی چه بخپله پښتانه هم خپلی دې تباهی نه ملتفت نه دی .

علامهٔ اقبال د سرحد پښتنو نه څه ښه وایی :

ای زخود پوشیده خود را باز یاب — در مسلمانی حرامست این حجاب
رمز دین مصطفی دانی که چیست؟ — پاس دیدن خویش را شاهنشهی است
چیست دین؟ دریافتن اسرار خویش — زندگی مرگست بی دیدار خویش
بندهٔ حق وارث پیغمبران — اونگنجد در جهان دیگران
تا جهانی دیگری پیدا کند — این جهان کهنه را بر هم زند
اندکی گم شو بقرآن و خبر — بازای نادان بخویش اندر نگر
در جهان آوارهٔ بیچارهٔ — وحدتی گم کردهٔ صد پارهٔ
بند غیر الله اندر پای تست — داغم از داغی که در سیمای تست

(c) ketabton.com: The Digital Library



میر خیل ! ازمکر پنهانی بترس — ازضیاع روح افغانی بترس
زانش مردان حق می‌سوزمت — نکتهٔ ازپیر رومآموزمت:
«رزق‌ازحق جومجو از زیدو عمر — مستی‌ازحق‌جومجواز بنگ‌وخمر»
شکوه کم کن ازسپهر لاجورد — جز بگرد آفتاب خود مگرد
عالم موجود را اندازه کن — درجهان خودرا بلند آوازه کن
برگ وساز کائنات ازوحدتست — اندرین عالم حیات از وحدتست
در گذر از رنگ وبو های کهن — پاك‌شو از آرزو های کهن
پور آذر کعبه را تعمیر کرد — ازنگاهی خاك را اکسیر کرد
تو خودی اندر بدن تعمیر کن — مشت خاك خویش را اکسیر کن

علامهٔ اقبال دخیبر په‌ښ مرکزی د سی افسوس کوی:

خیبر ازمردن حق بیگانه نیست — دردل او صدهزار افسانه ئیست
جاده کم‌دیدم از و پیچیده تر — یاوه گردد درخم وپیچش نظر
سرزمین کبك او شاهین مزاج — آهوی او گیرد ازشیران خراج
لیکن ازبی مرکزی آشفته روز — بی‌نظام‌و ناتمام‌ونیم سوز
فربازان نیست درپرواز شان — ازتدروان پست تر پرواز شان
آه قوی بی‌تب وتاب حیات — روز گارش بی‌نصیب ازواردات
آن یکی اندر سجود این در قیام — کار وبارش‌چون صلوة بی امام
ریز ریز ازسنگ او مینای او — آه از امروز بی فردای او

هو،دنور ومرکز ونه دپښتنو په وینو گټل‌شوی‌خودوی څوک نه پریږدی چه‌دیوه قومی مرکز خاوندان شی !!دنورو کورونو به ساتی اودهغوپه‌ورونو کې به ولاړوی ،مگر خپل کور به‌ئې وران ازهیڅ دجوړولو خیال به‌ئې یه سر کی‌نه‌وی!!دنورو ننگه به‌پرلحای کوی خوخپله نژدې دی‌چه‌بی ننگه شی !! نورونه لوی لوی ملکونه گټی خوخانته یوننگیا لی کلی هم نه جوړوی خوشحال خان بی‌ننگه کلی ځنگه شه‌پیژا ندلی‌دی چه وا یی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



مه وئی همی کلی چه دچر گو کو لمي خو ر بنه

شل خمبي په کو ر کی دنهستو لـه غمه مر ینـه

بل فکر ئي هر دی خو پـه غـم دزړو پـو ل د ي

نـرښکـي ئـي واده خـوتنـکـي تنـکي لـر ینـه

دهـر ئـي مـلـکـان دی پـکـښي ښه ملـك هغـه دی

هرچه بي تنـکی کا د چـابدي رشـوت خور ینـه

کښینی په مسجد کـي د سودو نه کـا خبری

یـادشـورد لـور دولـو رونـو ویـل کـړ ینـه

لس کالو نه تیر کـا په یوه جـا مه خـیر نـه

کوز وجود برمنډ په سر خیره کښـیږدي زریغـه

خـانـدی پروانـه کـا شـرم نه لری د تـپښتی

دهـري بـي شـرمیـه دژو نـدون دپـاره ولـ یـنـه

جنگ لره چه ورشی نورخه هیڅ نه کـا بي ټپښتي

جوړ چاروسله تپښتی سمکه ور ورنه نه د ر ینـه

نوم دو دانـی ویـر ان ښهـر دی خـو شـحـا له

لاتري ویران مه شه وریغ په وریغ ده کمـتر ینـه

هو خوشحال خان دپښتنو پرنگه ولاړ پښتون ؤ، دپښتنو بي ننگی چه به ئي هرلحای ولیده زړه ئي درد کا وه، او دپښتنی ننگي په لاره کي ترسر مال اولاد اوهر څه نه تیر و، ددي خبری دا ثبات دپاره همدا خبره بس ده چه په ۱۰۸۹ هجری کال دده لحلمی زوی «نظام» نامی د ۲٦ کالو په عمر لحوا نمرگ شو، پـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان باندی پښتنی ننګه درمری کرانه وه چه به هغه وخت کی ئې نور ټول غمونه هېردی بوازې داغم کوی چه «نظام» ولی دپښتانه پرنګه مړ نشو چه له تلګه قبر ته لحی ـ تردې زیات به دننګیا لیتوب حس دپو لږ پیدا کیږی چه دسړی زلمی زوی ئې ومری خودی ئې به مرثیه کی وایی :

کشکی لحوان دپښتانه پهنګه مړ وای

نه چه کور لره روان شوله تلتکه

توله مرثیه داده :

لحه داغونه زدې په زړه باندې فلکه !

چه «نظام» دې له ماپلکا خوائې دکه

خدایه ! ته خو ستمګر نه یی دا څه کړې ؟

خلقه دې په دا کار کړه هکه پکه

په لحد کښی هغه مخ خوری په چینجیو

چه دهیچا پرې پېرزونه وه لحوا نکه

کشکی لحوان دپښتانه پهنګ کښی مړ وای

نه چه کور لره روان شوله تلتکه

چه دقام پهنګ کښی ومړ هغه زویه

په عالم کښی دخپل پلار غاړه کا لکه

نو پښتانه که څه دپښتنو الی حس لری باید ددې ننګیالی او جنګیالی پښتون مشر وینا ګانی پهغوږ کښې ونیسی او پرې عمل وکړی لحکه چه دخوشحال خان ددې ټولو خبرو مطلب او خلاصه دایوه جمله ده چه وایی :

پښتنو ! پښتنی ننګه مه پرېږدئ !!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (٢)

خوشحال خان وایی :

# اتفاق وکړی ، نفاق پریږدی !

که توفیق د اتفاق پښتانه مومی
زورخوشحال خان به دوباره شی په دا لحوان

دپښتنو یوه لویه بدبختی چه همیشه ئې دوی تباه کړی دی اویائې تباه کوی دپښتنو په خپل منځ کې بې اتفاقی ده بې اتفاقی هغه بدمزمن مرض دی چه دپښتنو قوی ، بدن ئې کمزوری اومړ کړ نه ئې نژدې کړی دی ، بې اتفاقی هغه بد چنجی دی چه دپښتنولی دوني تپنګې ریښې ئې سستې کړې اوداونه ئې اوس دچپه کېدوخواته کښه کړې ده ، بې اتفاقی هغه بده بلاده چه په هرمیدان کښې ئې پښتانه مغلوب کړی اوپښتانه ئې دنو رو دلاس بازان او ددښمنانو دکټې دپاره استعمال کړی دی ، بې اتفاقی هغه شیطان دی چه دوه پښتانه ورونه به جنګ سره اچوی اونه پرېږدی چه دوی په کډه دپښتنولی په جنت کښې ښه او آرام ژوند وکړی ، بالاخره بې اتفاقی دپښتانه ملت هغه لویه ناپوهی ده چه به هیڅ وخت کې ئې پښتانه پرېښی نه دی چه لحان اوړ کړی یا دنیا په ژوندیوقومونو کې حساب شی اودا اوس چه پښتون قوم ترټولو قومو پاته دی یوه پر لوی علت ئې هم دا بې اتفاقی ده ، لحکه چه یو قوم یا یو ملت دیو جسد غوندې دی ، نو که دجسد ټول غړی په کډه سره دیوبل کومک ونګړی اوپه عمل کې سره متفق نه وی ، هغه جسد هیڅکله دنورو ژوندیو جسدو په شان ژوند کولای نشی ، بلکه دپر زړه داسې مړه شی چه نورنه ئې څوک نوم هم په نومونو کې وانه خلی .

پښتون خوشحال خان چه دملی طبیب په حیث دپښتنو ټول ملی رنځونه کتلی اومعاینه کړی دی یوه ډېره لویه ناروغی ئې همدا بې اتفاقی بللې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه د پښتنو ملي اتحاد ئې شلولی او دوی ئې له هر چا نه تیت کړی دی، خوشحال خان د پښتنو هره چاره تر مغل ښه کښې، مګر دا چه مغلو یا نورو لوبې په کړی دی یوازې دې اتفاقی نتیجه اواثر بولی او پښتنو نه ددوی هغه زور جلال او برم ورپیا دوی چه د اتفاق او یووالی له کبله ئې منډلی ؤ، دی وایی :

هره چار دیښتا نه تر مغل ښه ده — اتفاق ورڅخه نشته دپر ارمان
د «بهلول» او د «شیرشاه» خبری اروم — چه په هند کښې پښتانه وه بادشاهان
شپږ اوه پیړۍ ئې هسې پادشاهی وه — چه په دوی پوری درس خلق وه حیران
یا هغه پښتانه نور وه دا څه نور شول — یا دخدای دی اوس دا هسې شان فرمان
که نو فیق د اتفاق پښتا نه مومی — زور خوشحال به دوباره شی په دا لخوان

بې اتفاقی د پښتنو کوروران کړی دی، که نه اوس به د دنیا له خورا لوړو او ژوندیو قومونو څخه وای .

هو! ملتونه او قومونه په پوهو او نګیالیو اشخاصو ژوندی کیږی او د مدنیت لوړی درجې ته رسیږی. هر ملت او هر قوم چه د پر عقلمن او کاربګر اشخاص لری هغه ملت او قوم تر هغه ملت چه د کار اشخاص نه لری د پر پرمختګ لحسی او د تیټو قومونو د راهنما اولاربښو ونکی حیثیت مومی .

تر کومه وخته چه پښتنو برجسته اشخاص در لودل او په بوه اتفاق وو، په دهلی او اصفهان کښې ئې د شهنشاهی نغاری ډاګولې، خو کو وخت چه ئې دې اتفاقی بلا په کور لنوتله نو میالی او د کار مشران ئې یا له منځه ورک او یا په خپل کور کښې ئې تر ګرېوانو سره ونیول کورنی برخلافی، بدی او تربګنی ئې شروع کړې، هم هغه وخت د دوی شهنشاهی څه، چه خپله خاوره ئې هم نوتې نوتې شوله او پښتا نه د نو رو، در وازو نه ودر پدل، کوم د فکر خاوند چه به په پښتنو کښې پیدا شو خپلو دروندو او تربرو به له پښو و پنو او مغزی به ئې ورمات کړ دا لاخه چه په دې به ئې فخر هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه. خودې ته ئې فکر نه وا چه دیوه پښتون ورور مغزی مانول خپل مغزی مانول دی، هر پښتون چه دخپل مشر یا خپل پښتون ورور بده غواړی هغه که یوه شی په حقیقت کښې دلحان بده غواړی؛ لحکه چه په لاس کې که یوه ګوته هم درد کوی درست لاس بنه کار نشی کولای. هم داسبب دی چه خوشحال خان دپښتنو له دې بد بختۍ څخه چه کور په کور سره جنګیږی ډیر سخت متاثر شوی او دپښتنو دابد خوی داسې غنلای

پښتا نه واړه بد خوی دی  کور په کور کاندی غور لحی
یو چه سر کاندی په پورته  بل ئې وو هسې مغزی
د مغل دستر ګو نه ئې  اې خوشحاله نن اغزی

خوشحال خان چه د پښتنولۍ او پښتنو د آزادۍ دپاره جنګیده د پښتنو ددښمن ګریوان نه ئې دانتقام دپاره لاس اچولی و اړدې وچه ددښمن ګریوان پاره کړی او پښتنو ته ملی آزادی وګټی مګر ډیر افسوس دی چه دپښتنو نفاق اوبې اتفاقی دخوشحال خان لاس ددښمن له ګریوانه وکیږ او په خپله لحینی ساده پښتانه دده لاس پیچلو ته تیار شول، ددښمن په منصوبو او وغولیدل مګر دهغوی په چل پوه نشول؛ دښمن پښتنو ته بیچاره و، خو دخپلو رشو توپه زورتی پښتانه په خپل منځ کښې په جنګ سره و اچول او ددوی ترمنځ ئې دبې اتفاقۍ او نفاق اوربل کړ؛ خوشحال خان له داسې پښتنو څخه په دې ډول شکایت کوی:

چه مغل و نه مسی و نرله توره  درست پښتون می وعالم ته بنکاره کړ
اتفاق په پښتا نه کښې پیدا نشو  ګنه ما به دمغل ګریوان پاره کړ
سره یو تربل اخته دی په خپل کور کښې  په نفاق ئې غم وما ته اجاره کړ
دمغل په منصبو لو غره کیږی  یك باره ئې مخ په نفس اماره کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادولت ورته گسمـلی و' پـه تـوره  دا زما دتوری نقش ئې آواره کړ
پهمنصبچه غولولـ نه کـاتورخه کـا؟  مغل خدای وپښتنوته بیچاره کړ

دښمنانو هروخت دپښتنوله بې اتفاقۍ څخه استفاده کړې ده' کوم دښمن چه عربښتی دی پښتون مات کړی او بائې دلوړ والـی مخه ونیسی هغـه هیڅکله په توره پښتنو نه نه دی راو راندې شوی؛ که را وراندی شوی هم دی سو به ئې نه ده وړې' خو پښتون چه همیشه تباه اوبر باد شوی دی' دخپلې بې اتفاقۍ او کور په کور جنګوله سببه شوی دی' دښمن ددوی منځ کښې شیطانت کړی' دسپین ګونداو تور ګوند' غلجی او درانی' مشرقی والی او جنوبی والی اوقندهاری والی خبری ئې شروع کړی' تربګنی ادترپوردلی ئې دپښتنو منځ نه راوستلې' نورنو دخیبر پرغونډۍ سلامت کښېنستلی دی. او پښتنوهم دخپلې سادګۍ له امله یوله بله د کورو په درانۍ لاس پورې کړی دی او پر ډېره جزوی خبره ئې ترمرګه سره رسولی دی' کورنی جنګ نه قبیلوی جنګو نه شوې او قبیلوی جنګونه اولسی جنګو ته رسېدلی دی او په اولسی جنګو کښې' دډېرو پښتنو کورونه وران' مځکې خرابې' زلمیان مړه شوی دی مګر هغه دښمن چه داد نفاق تخم ئې پاشلی دی همهغسی دخیبر پرغونډۍ روغ سلامت ناستوی نو کان سره جنګوی او دپښتنو پرجهالت او سادګۍ باندی خاندې. لکه نو خوشحال خان دپښتنو دې سادګۍ داغ داغ کړی دی او په پخوانیو پښتنو پسې نول کـړی:

که رښتیا وایم «شیرشاه» داهسی نه و'  لکه مونږ یونه پیداله کوهستانه؟
دختکو دنفـاق لـه نـا پـوهـیه  یاچه غم لرم لـه خپله خا ندا نه
پښتانه چه بې ننګی کـاخوک ئې څه کـا  کورستان لره به درو موله ارمانه
داداغونه چه خوشحال لری پهزړه کښې  رغېدل به ئې پهتا کېږی سبحانه!

پښتانه هیڅ فـکر نه کوی چه داکور په کور جنګونه' دخپـل پښتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



وردر دپښو خاوري ایستل ' دخپل تربور سره بده تربګنی کول' څه فائده لری ؟ ترڅو به داناوره دودونه دپښتنو کور ورانوی؟ څله پښتانه اوپښېږی اوخپل دوست اودښمن نه پېژنی ؟ په دنیا کې هرڅوك دخپل قوم سره الفت اومحبت کوی' حتی ځاروی اوحیوانات هم دخپل جنس سره دښمنی نه کوی' ټول انسانان غواړی دخپلو خپلوانو سره خپلوی و کړی' خو غیرله پښتانه څخه چه حتی لحنی نا یوه پښتانه دوطن له دښمن سره دومره دښمنی نه لری لکه په خپله دپښتنو سره ئې چه لری' نو لحکه خوشحال خان ورته وایی :

بدخوئی به دخپلوانو سره څوك کا چه په خپله پخپل لحان نه پسندی اندوه
ما چه ولیدل انلس زره قوم مه دخپل ذات سره الفت کاهر کړ وه

خوشحال خان دلحینو پښتنو تیټوالی اوداچه همیشه په بلا لرې دی اودهیڅ ترقی او آرامی منځ لیدلای نشی داټول دنفاق نتیجه بولی او ددای پښتنو په باب کې وایی :

چه په دیو کښې یو ښه وی دهغه دسر جلا ددی
یو دبل په کمی ناست دی لحکه تل په سلا یا ددی
په نفاق ئې واده ورك کړل که شجاع دی که جوا ددی
نه دپلار په ویل کار کا نه په نغته داستا ددی
اول زه دانور له پسته . څو شته وا ره دهیدا ددی

دالا شکر کړ ه خوشحا له
چه بند ه نه دی آزاد دی

په پښتنو کښی بې انفاقی اکثره دتر بګنی او تر بورولی په نامه پیدا کیږی مګر تر بور څوك دی ؟ تره (کا کا) تر بور یعنی دکا کازوی او تر بګنی یعنی له دې لاری څخه خپلوی ـ مګر له بده مرغه اوس چه په پښتنو کښی د تر بور یا تر بګنی نوم اخیستل کیږی نو که اروید ونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتون وی فوری ئی دښمن او دښمنۍ مفهوم مغز ته راځی ـ داولی ؟ دالحکه چه لحینې پښتانه ساده کسان دی خو په عین سا د کسی کی دپاك او صافو وزرونه خاوندان دی؛ او دپښتنوالی هر دښمن شیطان چه ئې په رګو ننه ووت اودی ته ئې دبل پښتون ورور په باب کښی شیطانی و کړه دهغه خبره منی او نور ئی په غرض پسی هیچ پوښتنه او فکر نه کوی چه د اشیطان پهدې شیطانت کښې څه څه پټ اغراض اری ، او دده سره ئی څه غمخواری ده . نو بی فکره دتربسکغۍ څخه د ښمنی جوړه کړی اودخپل پښتون ورور سره پرنه څه بر خلافی او بدنیتی شروع کړی چه پای ئی و ینو تو یو لو او کور درانو او ته ور سپږی لکه پرنګیا نو چه په دې سل کاله کی له همدا سی شیطانته کار اخستی او د پښتنو کورئې وران کړی دی، حو غضب لادادی چه خپل تر بور مړ کړی یائی کور وران کړی بیا په دې کار ونو لحالته نور بالی او تنګیالی هم وائی. خوشحال خان داسی پښتنو ته و ائی:

ورته وایه توره کښېږده په صندوق کښی

هرسړی چه مړنی وی پـه تـلبـرو

بلکه خوشحال هغه څوك لحوانمرد کښی چه دخپل پښتون ورور سل بدی ترشا کړی او په دې دول خپله لحوانمردی څرګنده کړی :

که لحوانمردئې لحوانمردی په دی هلـه دی

سل بدی چه هواره کـړې دخپـل ورور

خوشحال خان وایی هغه نا پوه پښتون چه دپښتنو ورور نو ترمنځ نفاق اچوی ډیر نالائق دی ، یا باید اصلاح کړی شی او یا باید دپښتنوله منځه وو بستل شی، لحکه چه دپښتانه او پښتنو الی دپاره داسی پښتانه دجهالت او ناپوهی ، بربادی او تباهی مکروبونه دی :ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه یه ورو نو کښې نفاق کانا لایق دی
پاتې ښه کړه پاتې مه کرزوه نور

دخوشحال خان زړه لاپردې خبره ډېر درد کوی چه لحینې بدبخته پښتانه دپښتنی ننګ په کار کښې هم نفاق ګری او اتفاق نه سره کوی، حتی خوشحال خان امید نه لری چه په پښتنو کښې لس تنه هم په یوه زړه او دیوې لارې مله پیداشی:

لس به مه سره ونسه وینې په ننګ کې
که درست ملك سره یره کړې تر نور سنګه

ناسې فکر و کړی، په یوه لوی اولس کښې چه لس تنه پریوه لارسره روان نه وی او هر یو لحانته لارو لری نود داسې ملت او قوم پای به څه وی؟ ضرور به ئې پای بربادی، تباهی، دنوروغلامی، مځو کېدل او تبېدل وی. دنیا به په سپك نظر ورته کوری او ورپوری خاندی به، دپردو دلاس آله به وی، کتی نه ئې دوی خوری به ئې نور ذلیل، خوار، وزی، تیری، لخ او بربند به کړی دتر بګنی له غمه به سر کرو او ته وزګار نه وی، کار به لحینی پاته ددښمن لاس ته به احتیاج او په کاڼه مغزی ولاړوی.

ددښمن دپاره به خپل ورور وژنی او ددښمن دپاره به دخپل ملی مشر مخا لفت کوی ... داسې قوم که غواړی، و پېژنی، نو دپښتون اولس نه راشی، او ددوی کور په کور بې اتفاقی، او جنګونه و کوری، تاسی به ووینی، چه دپښتنو ملی مشران په سل کښې انیا دخپلو لحینو ساده پښتنو دلاسه یامړه، یاورك او یا بې قدره شوی دی، لحکه نوخوشحال خان وا یی:

په بل غشی تو یك هیڅ وینتلی نه یم
که وینتلی یم خوبیا به خپل تو یك یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان د پښتنو بې اتفاقۍ نا کام کړی او دده لوبې لوبې نقشې ئې کښې وډې کړی دی، حتی په ملیونو پښتنو کښې زر جنګیالی زلمیان نشی میندلای، دالحکه چه نفاق له پښتنو څخه د کږو تیږو د ډوال جوړ کړی دی چه هر څوئې سموی نه سمېږی، د خوشحال خان دژوند هغه غنیمت وختونه چه ده باید د پښتنولۍ او پښتونخوا دپاره په کښې د هر لوی لوی قومي خدمتونه کړی وای، د کورنۍ بې اتفاقۍ په اوارولو کښې تېر شول، دی داسې افسوس کوی:

یګانه خوا نان که زرله ما سره وای  نور زما ؤ، په پنجاب باندې یرغال
که هر څوئې سا زوم رانه سا زېږی  پښتا نه دی د کږو کانو د ډوال
خدایه عمره مهلت ور کړې په دنیا کښې  چه کاږه کارونه سم کاندی خوشحال

خوشحال خان تعجب کوی چه دیوه پلار زامن څنګه بودبل په لحان اخته دی؟ شور اوغوغائې دڅه دپاره ده؟ بله چاره نه وینی نو دعا کوی چه ګونډی خدای د پښتنو د اتفاق ورك ا پر لحای ئې اتفاق ور کړی، :

دیوه پلا ره زو و لسی  سره تل شور وغوغا
که څلوېښت دی که پنځوس دی  سره واړه شا په شا
مال و ملك دولت می ژغوره  په داحال کښې ربنا
اتفاق یکښې با قی شی  د اتفاق ئې شی فنا

خوشحال خان هغو پښتنو ته چه د بې اتفاقۍ له کبله ئې خپل یردی کړی دی داسې وایی:

خپل دی یردی کړل یر دی به خپل نه کړي
خصلت دی بدنو خصلت به بل نه کړي
غم دی په برخه شو بنا دی به تل نه کړي
چه نا قابل ئې لحان به قابل نه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان ددښمن په مقابل کښې د پښتنو دنا کامۍ یوه مهم سبب همدا بې اتفاقی گڼی ارښتیا همداده که پښتانه یخپل منځ کښې اتفاق سره ولری هیڅوك ددوی د نرقۍ او لوړ والی مخه نیولای نشي. که څوك پر پښتنو غالب شوی وی نو هغه وخت به شوی وی چه دښمن ددوی له بې اتفاقۍ څخه کار اخیستی وی، او دوی ئې په خپل منځ کښې بوله بله سره اچولی وی همدا نـکنه ده چه خوشحال خان ئې یا دوی :

بخت دمغلو پښتانه نه پر پـښ دی  چه اتفاق و کړا په نوره زړه کښې دی
گنه که څه هومره پښتانه نـه دی  چه ئې په یاد کړا دمغلو زړه رېږ دی

خوشحال خان ددې دپاره چه پښتانه ښه پوهشي چه بې اتفاقی ددوی کوز وران کړی دی او که پښتانه ښه آزاد اودنوری دنیا دانسانانو غوندی ژوند غواړی نو باید سره متحد اومتفق اوسی، بودبل ملاتړی، بودبل سره کومك و کړی اوتول اولس په یوه سلاد پښتونخوا او پښتنو دژوند داوداوالی دپاره زیار وباسی، زحمتونه و گالی، خپل کمزوری ورز نه قوی او خپل ناپوه ورونه پوه کړی، خپلو بې کار ورونو نه کار پیدا کړی او خپلی شادی خمکی ودانی او خپل وران کورونه جوړ کړی . . . . . نو دملت اوقوم دافرادوژوندداس د گوتو سره مشابه کوی، وایی که یه لاس کښې یوه گوته هم ندوی نوری گوتی یوره کارنشی کولای او یا که یوه گوته خوږوی نوری گوتی هم ورسره دردمنې کیږی او یا که گوتی په خپل منځ کښې کومك سره ونکړی ویه اتفاق ونه خوځیږی په هر کار کښې ناکامه پاتیږی :

دقوم یاد ملت دافرادو هم داشان مثال راوړی ووایی :

پنځه دی گوتی دی که یوه نـه وی  دنورو گو تو چاره دی څه وی ؟
دلاس خوبی ده په پنځه گوتـی  چه سره جوړی وی کار به دی ښه وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپښتنو پەهره قبیله کښې داسې دېرې بې لحاظه تربګنۍ اوګوندۍ شته چه لەبده مرغه ئې پښتانه ددنیادنوی ژوند څخه لیرې ساتلې دی او پخپل منځ کې سره اختەدی، دالاڅه چه دلحیثو پښتنو بدۍ اوګوندۍ پەبوه نسل باندې نه تما میږی څوڅو نسلەدنور ګوند اوسپین ګوند غلجی اودرانی خبرې باتیږی اوممکن چه ادس پەپښتنو کښې داسې دښمنان هم سرەوی چه شلم نیکه ئې کوم تربور وژلی وی اوشلم نمسی ئې بدیالی او دهغه بل نیکه دنمسی وینو ته تږی ناست وی؟! دایه کوم دمن ، کوم مذهب ، کوم کتاب ، کوم انسانیت کښې روااوراغلی دی چه دوه انسانان بیا خصوصاً دوه مسلمانان ، پەتیره بیا دوه پښتانه وروڼه پەسووسوو کلونه نسل بالنسل پەزرر کښې بوبل ته کینه سره وساتی اود یوبل وژلو تەدی تیار شی ؟؟

خدای خوداسې خلك نەخوښوی، رسول، دخدای خو لەداسې کسانو څخه نفرت لری ! انسانیت هیڅکله دا منلی نشی ! مسلمانی خو انسانان ورورولۍ ته رابولی ! ټول آسمانی کتابونه انسانان صلح اواتحاد تەامر کړی دی ، پښتنوالە خوهیڅ دبې اتفاقۍ دخبرې اوریدلو ته تیاره نەده تونه یوخبر اونه پوهیږو چه لحیثو بدبختو ناپوهو پښتنو دابدۍ تربګنۍ اوګوندۍ له کومه لحایه اود کوم عقل اوعلم پەمشوره خپل منځ تەراوستلې دی ؟؟ په نەداد عقل مشوره ده نەدعلم، خاص دناپوهۍ اوساده ګۍ له کبله دپښتنو منځ ته بې اتفاقی راغلی ده اودپښتنو پښتو ، پښتنوالە اوپښتو نخو ئې ورانه کړې ده نو لحکه خوشحال خان لەخدا یه پښتنوتەداسې اصلاح غواړی :-

خدای دی ورك دپښتنو کادادرې تو که

بوبد جهل ، بل بد قیست ، در یم نفاق

دبوه ملته یابوه قوم څخه داسې ناوړه خوبونه وتر کول او قوم دلوړ والی خوا ته بیول دقوم دمشرانو کاردی چه خپل ناپوه کشران پوه کړی دهغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



له‌مغزو څخه دبې اتفاقۍ فکروباسي مګر دبر افسوس خبره خوداده چه اکثر دداسي بدو خوبو رواجوونکي پخپله لحيني مشران وي او داهغه مشران دي چه شخصي غرضونو دوي داندې او کانه کړي دي او دهمدې شخصي غرضو توله کپله دملي او قومي ورور سره بلکه دخپلو خپلوانو او خپښانو سره مخالفت کوي، داسي کسان دخپل شخصي غرضونو دپاره هري بې ننګۍ اوبې پتۍ ته تياروي حتي ملي ګټې او فائدې هم ترشخصي غرضونو قربا نوي ترپښتو پښتنوالي اوقوم تېرېږي مګر ترخپل شخصي غرض تېريدلي نشي نوځکه خوشحال خان دې خو دغرضو ته وايي :

کام دزړه که هر څو ښه دی ترايما نه دی ښه نه دی
چه ئې دا اند ښه نه وي هغه کس سړی په څه دی
ته ئې ويش وينې په ستر ګو غافل وپش نه دی او ده دی

تردې وروسته نوخوشحال خان داتفاق فايدې اوصفتو نه بيانوي، پښتنو ته وايي چه اتفاق ګلزاردی او نفاق خارزار که تاسي غواړئ چه خار کشان اوسئ له نفاقه مه لېرې کېږئ او که دګلو مشتاق ياست نو داتفاق لاره ونيسئ :

چه درست ګلزار دی دا تفاق دی چه درست خارزار دی ګنده نفاق دی
خاردی به بخره د خار کشانوشي هوسيار دګلو دګلزار مشتاق دی

دخلقو دولت په اتفاق بولي خوارهغه څوك ګڼي چه نفاق يه بده لاروان وي خوپردې افسوس کوي چه پهژو ند کښې ئې هيڅ بوداسي ملګري چه يك رنګ وي نه دی موندلي، نووائي :

دولت دخلقو يه اتفاق کښې دی هغه بدبخوارشي چه يه نفاق کښې دی
زوندشوم بو يارمي يکرنګ ونه ليده زده مي تراوسه يه اشتياق کښې دی

اول خو يه پښتنو کښې ددوی دبې اتفاقۍ له سببه مشران نه دي پيداشوي که پيداشوي هم وي دخوشحال خان غوندي به دخپل قوم دلاسه وړك يافرار شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی، که له‌دې نه‌هم راتېر شی نوبیا پرېږد وواوری دخان اوملك او حاکم په نامه لخان لحینې درك شی، دغریب قوم غوښې به خوری او داصلاح فکر به‌ئی له‌سره به‌سر کښې نه وی، نو لحکه خوشحال خان پښتنو ته پوه مشران غواړی چه‌دپښتنو له منځه بې اتفاقی ورکه کړی اودنا پوهو مشرانو له لاسه اولس وران وینی دی وائی :

خدای چه‌ورك کاښه‌مېړونه‌به‌اولس کې  پېښوی هغه او لس‌ونه بیانګه
یا به کوز په کور اخته‌شی به‌میرخیو  یا به‌ملك‌ومغل‌ور کاندی‌بې جنګه

خوشحال‌خان‌دپښتنو دبې‌اتفاقۍ غم خوړ، چه دبې اتفاقۍ اوښ‌دده د کور مخ‌ته‌هم چوك شو او دنفاق بلا دده په خپل کور ورننه وتله‌دده زامن ئې له‌دده څخه بېزاره کړه اودده د کور نې دیوو الی رسېږ ئې وشلوله، نو لحکه خپلو زامنو ته په قهردی، وایی :

زمازویه دننګ نه دی نمر بتار دی  پرې پوهېږم چه همه‌واره مردار دی
نه‌ئې‌اویه اندېښنه‌نه‌ئې‌لری کاږشته  د مغلو و طباخ و نه بیا ر دی
د منصب دا ضافوخېری کا ندی  په عزت‌په حرمت کله‌خبر دار دی
اتفاق یکا نګی ئې سره نشته  هنګی روان په‌بېله بېله لاردی
نه‌دنوم دی نه دشرم‌نه دننګ دی  اندېښنې ئې دنا کس د ناسر دار دی

دنیا دیری بنادیږ دهغه قوم دی چه‌اتفاق ولری، زحمتونه او غمونه‌هغه چاله دی چه‌یادروغ وایی‌اویا په نفاق اخته‌دی خوشحال خان وائی :-

خوخو بنادیږ دی په‌دا آفاق کښې  واړه به‌بیا مومې په اتفاق کښې
خوخو غمونه بیا محنتونه دی  یا به دروغ کښې یا به نفاق کښې

په‌دوه رنګی کښې فائده نشته، که‌پښتانه سود غواړی باید په‌خپل منځ کښې یك رنګ اوسی دخوشحال‌خان هم‌داغرض دی‌چه‌وایی :-

(c) ketabton.com: The Digital Library



آفت که کوري په بې ننګۍ کښې دی  نکبت دد هر په دل ننګۍ کښې دی
ماله دو ورنګو فا نده ونه لیده  که سوددی سود خو په بکرنګۍ کښې دی

خوشحال خان د پښتنو د پاره داسې د اتفاق د نیا غواړي چه په هغه کښې د پښتنو هره طبقه کښته لوړه، بډایه او غریبه طبقه په آرامۍ او سر لوړی ژوند وکړی داسې اتفاق نه غواړي چه یوه طبقه ئې په خپل منځ کښې ولړی مګر له بلې طبقې بدوړی او یازده نه ور تړدې کوی، ځکه چه هره طبقه پر خپل ځای او خپل کار کښې لاز مه او محترمه ده حتی خوشحال خان دنا یوهانو طبقه هم بیکاره نګني بوازی دو مره خبره ده چه هغه باید ورو زله شی لووایی -:

که نادا نان دی که هو بیا ران دی  ګمان دا مکره چه بیکا ران دی
خوازه ترخه ئې واده یکا ر کنه  چه پیدا شوی په دا بسا ران دی

خوشحال خان وایی که څه زنونه به یوه اتفاق کوم سخت کار ته اقدام وکړی هغه کار به که څه هم دغره په شان سخت وی د اتفاق له بر کته نرم شی :

دوه زنونه چه یوشی غربه هم پاره پاره کا
خار تر بکرنګو چه نعمتونه راښکاره کا

* * *

مشورت او مصلحت: کوم وخت چه د پښتنو منځ کښې اتفاق راغی، نو دوی مجبور ریږی به هر کار کښې د یوبل سره مشوره او مصلحت وکړی نو هر کله چه کار ته به مصلحت او مشوره شی نو ور به هیڅ نپسکر نیا په کارونو کښې ونه وینی او چه کار ونه سم شو د پښتنو د اوران ژوند به هم سم او پښتانه به په منځ وړاندی ولاړ شی او د جهان په ژوند یو قوم و نو کښې به شمار شی! ځکه چه د ژوندون ټولو کارو نو اساس په مشوره او مصلحت بنادی او له آدمه تردې دمه هر مهم کار چه پای نه رسیدلی د مشورې او مصلحت له بر کته دی نو هم د اسباب ؤ چه پخوا نیو پښتنو به په هر کار کښې خصوصاً به قومي کارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې جرګې اومر کې کولې د پښتنو مشر اوسپین زیری کدبه هر څو پوه او هوښیار هم؟ له خپلو ملګرو اوخپلو کشرانو سره به ئې مشوره کوله به خپل سرئې کارو له نه اجرا کول. مګر هغه وخت چه د پښتنو به منځ کې دبې اتفاقۍ او نفاق بلا را ګډه شوه او کور به کور، کلی به کلي، قوم به قوم بدی شوه نو پښتانه نو ئې نو ئې او هره توته پر بیلو بیلو لارو روانه شو، نه کشرانو د مشرانو پرخبرو غوږ نیوه او نه مشرانو د کشرانو سره مشوره کوله نو نتیجه داشوه چه کشران له مشرانو څخه پـه نفرت شول او لـه مشرانو څخه مستبد ان او ظالمان جوړ شول او پای ئې همدې نیټوالی ته را ورسیده چه اوس ئې وینو الحـکه نـو خوشحال خان اول داتفاق غلبلې ووهلې اوورو وسته ئې د پښتنو پر له بله سره مشوره اومصلحت مهم او لازم وباله بلکه دی د کائناتو بند و بست هم په خبرو ګڼی چه وائی:

بند و بست د کائنات دی په خبرو  یو تر سلـه صد فه شه سل تر زرو

خوشحال خان د پښتنو دپاره مصلحت بوقومی فرض ګڼی او هلته چه څلور پښتانه د مصلحت د پاره سره کښېنی هغه ځای ددوی په مصلحت نو رانی بولی او که په اخلاص څلورنه په اتفاق لاسونه پورته کړی او دعاد کړی د هر راز فتح او نصرت ور پرانیت کیږی - نو ځکه وایی:

دنمانځه تـر قضا ګـر نـه د اقضاده  چـه قضا شی د څلور و مصلحت
نورانی کـا هغه ځـای چـه سره کښېنی  دپرینه څلور هوښیار په مشورت
به اخلاص چـه په دعـا لاسونه هسك کا  ور به پرانیت شی د فتح د نصرت
بې کنګاشه به هیڅ کار په لاس وانه ځلی  چه خبر دی د کنګاش په برکت(۱)

خوشحال خان په هغه کار کښی چه بې مصلحته و شی هیڅ برکت نه وینی دده په نـزد خیر و بـر کـت هـلته دی چـه مصـلحت وی- دی وا ئـي:

(۱) کنګاش نر کی کلمه ده چه مشوري او جرګې نه وایی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر کار کښې مصلحت شه  خپل پر دې نه نصیحت شه
چه لر برلـه مصلحـت شـی  کـله خیر بـر کـت شی

مصلحت او مشوره هغه څوك نه کوی چه خود پسند وی او هرڅه ئی د لحان خوښ وی داسې خلك که مشران وی که کشران په اجتماعی دنیا کښې دوې پیسې قیمت نه لری داسی کشر نې سره و هسی مشر مستبد بل کیږی، خو هغه څوك چه هوښیار او پوه وی هغه به هیڅ کله نه بې سره کیږی او نه مستبد او نه به یوا ز ی په خپل عقل او فکر دومره غره وی چه د هیچا مشوره که څه هم مفیده وی نه اروی دالوی جهالت دی. لحکه نو په پښتنو کی متل دی «هر څو چه هو ښیار بې کم عقل پوښتنه ا» خوشحال خان هم وایی :

چه د خپل عقل وبل کا هغه کله خرد مند دی
چه پو ښتنه مصلحت کا هم هغه د عقل بند دی
چه مې فهم فکر و کړ په دا خپله دانائی کښې
بل نادان راښکاره نشو که نادان دی خود پسند دی

خوشحال خان دهغه چا د ضرر ضامن کیږی چه په مصلحت کارونه کوی دالحکه مصلحتی کارونه ضرر نه لری او وایی چه سړی په یوازی سز رسـنم کېدلای نشی همدا راز پښتو متل دی چه « له یوه لاسه تك نه خیږی» خوشحال خان خپل ضمانت داسی بیانوی :

که سړی په مصلحت کښې لربر نشی  زه ضامن چه د ذه کار به ابتر نشی
درستم د مړ نتوب خبـری او رم  ولې څوك به بې لښکره صفدر نشی

هغه څوك چه بی مصلحته کار کوی که څه هم ډیر دولت و لری بر کت به ئی ونه وینی او هرڅو که ئی بخت بیداروی بیا به هم په ژوند کښې بې ندامته بل څه ونه گوری نو خوشحال خان وایی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څوك چه كار كابى مصلحته  هيڅ به‌ونه‌خوري برله دولته
كه‌بخت ئى هر څو كار ونه‌ساز كا  خالى به‌نه وى له ندامته

مگر پخپله مصلحت هم دانائى اوهو ښيارى غواړى خه‌آسانه كار نه‌دى خوشحال خان وايى :

چه كار دچامشكل شى به‌تدبيرو بله كښېنى
دا كارخه‌اسان نه‌دى دا نائى دولره بو يه

خوشحال خان مصلحت دتوپك پەشان اود سرى مقصد دهدف غوندى گڼى هدف چه څوك ولى هغه بايد اومرى دير خيرشى پس‌له هغه گذارو كرى ! همداشان څوك كه‌غواړى خپل مقصد ته‌ورسيږى اومرى بايد مصلحت اوغور وكرى بيانو اقدام شروع كرى ' خوشحال‌خان دامثال څنگه‌ښه‌واضح راوړى :

مصلحت لكه تو پسك دى  ستا مراد لكه نخچير
كه‌دى ښه گذار په كاروى  قراول ئى كا ښه لخير
په‌گذار كښى‌هو ل مكره  په خپل لحان او سه خبير
نور ماشه كړه‌بالدى كوزه  ارو بر مكره لطير
زه خوشحال خټك ضامن يم  كه خطا دى شى يو تير

تردي لحايه چه‌دمصلحت اومشورت خبرى رارسيږى نوخوشحال‌خان‌بيرته داتفاق خواته گرزى اودپښتنوداسى اتفاق اويو والى غواړى چه‌تول پښتانه پەيوه زړه ' په يوه خوله ' پەيوه قومى اوملى لاره سره روان شى اوتول پەيوه سلادپښتو' پښتنوالى اوپښتونخوا دلوړ والى دپاره‌ملاوى وتړى اودننگ به كار كى پټ اوښكاره لەقندهاره ترانكه سره يوشى نوداسى :

درست پښتون لەقند هاره ترا نكه
سره يودننگ به كار پټ اواشكا ر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو پښتنو ! وینې شیء !! دنیا ډیره ګرندۍ برمخ روانه ده ـ
په دنیا کښې یوازې تاسې ترهر ملت اوهرقوم نه وروسته پاته شوی یاست !
حال داچه په بخوانیو زمانو کښې ددنیا ترډیرو ملتو دمخه واست !
خو تر څو غفلت ؟؟ خو تر څو دخپل کورورا نول ؟؟
خو تر څو خوب ؟؟ خو تر څو ناپوهی ؟؟
خو تر څو بې اتفاقی ؟؟ خو تر څو دښمن په خوله غولیدل ؟؟
خو تر څو تر بګنې او ګوندی ؟؟ خو تر څو دغلجی او درانی خبری ؟؟
پریږدیء خدای ته و ګوریء دا بدخو یو نه پریږدیء لږ دنیا ته و ګوریء وینې شیء !!
خپله پښتو ، پښتنواله او پښتونخوا پخپل لاس مه ورانویء !!
دخوشحال خان داله درده د که ناره واروییء چه تاسې نه وایی :

پښتنو ! اتفاق و کړیء ، نفاق پریږدیء !!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان خټک

# (۳)

# د پښتنې خاورې سره علاقه ولرې !

دپیپلو پاڼې خوره په غړه کښې او سه

نه چه پاڼ د هندوستان خورې زما جنده !

پښتانه چه هر ځای وي د پښتنې خاورې سره علاقه او مینه لري نو خو بو ازې مینه درلودل کفایت نه کوي باید هر پښتون د پښتنې خاورې د ساتنې د پاره دزړه وینې او دروزنې د پاره ئې د تندې خولې توئې کړي۔ مرګ او منې مګر دبل چا تجاوز پر پښتنې خاوره ونه منې او په دې هم باید هر پښتون پوه شي چه پښتنې خاوره بوازې هغه ځای ته نه وېل کیږي چه دې او دده کورنۍ پکښې اوسي بلکه هر ځای چه پښتانه اوسیدلي وي او د دوی د نیکونو په هډونو هغه مځکه راپور ته شوې وي هغه پښتنې خاوره ده۔ نو یو پښتون چه د پښتنې خاورې په هر ګوټ کښې اوسیږي باید د ټولې پښتنې خاورې سره علاقه ولري د پښتنې خاورې دیو سر پښتانه باید د بل سر له پښتنو سره د زړه رابطه وساتي په خوښۍ ئې خوښ او په غم ئې غمجن وي .

که د پښتنې خاورې په یو ګوټ کوم مشار راشي باید ټول پښتانه په هر ځای کښې چه وي په یوه سلا دهغه فشار دلېرې کولو د پاره ملاوتړي او که ضرورت وي د خپلو پښتنو ورونو د آرامۍ د پاره خپل سرونه هم پر میدان کښېږدي او با که کوم د پښتنو او پښتنوالی دښمن پیدا شي چه وغواړي د پښتنې خاورې څخه کومه توته جلا کړي، نو په داسې وخت کښې د ټولو پښتنو ملي فرض دی چه د دوا کاري میدان ته حاضر شي او په هره قربانۍ چه وي د خپلې پښتنې خاورې څخه د پردیو مردار لاسو نه لنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی او پ ي له زدی چه پښتنی خاوره توتي توتي شی او یاد نورو د خاوری سره ئي څوك ګډه کړی .

ملی مشر خو شحال خان چه دمتجا وزینو مقابلي ته ملا تړلي وه د همدي مقصد دپاره ـ مګر لحینو هغو نا پوهو پښتنو ته چه په پردی پان غولیدلی وو دوطن او پښتنی خاوری مینه داسی ورپیا دوی :

که هي بو لحله رسید و شی ترسینده نوردی مه وینم په نورو ستر کو هنده
نه به ستر ګي دسړی په چا خوږي شی نه ئي ما ته په اوبو شی دچا تنده
دبیپلو پانه خوره په غره کښي از سه نه چه پان دهندوستان خوري زما جنده

بل وخت چه به لحینو ساده ګانو پښتنو دبل هیواد تعریفونه کول او یا به ئي تر پښتنی خاوری بله خاوره ښه ګڼله، خوشحال خان په ډیر قهر دهغوی خولي ورما توی او دبل ترچنبا ګل دوطن خار ښه ستایی :

خدا په ماتی هغه خولي کړي چه به وایی هندو بار ښه
ښه په هند کي چنبا ګل دی نردا ګل دوطن خار ښه

خوشحال خان چه خپل پښتنی حکومت په خپله پښتنی خاوره کښي نه وینی او په هند کښي نظر بند ګرزی نو هند پرده دوزخ او دبل حکم پري زندان دی لحکه نو وایی :

هند په ما بـا ندی دوزخ شه که په نور عـالم جنت دی
دبل حـکم پري زندا ن شی چه په خپل حکم عا دت دی
نه خپل ور کړل رانیول شته نه خپل حکم حـکو مت دی

خوشحال خان هیڅوخت دهندو ستان دعیش وعشرت، نازو نعمت په وطن کی خپله سپیره پښتونخوا او پښتنی خاوره هیره کړي نه وه، تل ئي لـه هغه لحایه خپلی پښتنی خاوری ته سلامونه رالیږل او دائـي آرزو وه چه کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهئي دخپلو غرو سرې اوبه په نصيب شي، اوخپله دا آرزو په داسې الفاظو کې خر ګندوي :

که ګذر په «خيرآباد» وکړي نسيمه !
يادي کښې وشي د «سراى» دسيند به سيمه
به بار بار سلام زما ور ته عرضه کړه
ور سره زما دلوري څو تسليمه
ابا سيند وته ناره وکړه يه زوره
و «لندى» ته وينا ورا يه حليمه
ګوندي وي چه بيا مې ستاسې جام نصيب شي
په «ګنګا، جمنا» به نه ؤ له قديمه
که دمند دهوا زار کړم څو به زار کړم
د اوبو بلائي لا بده عظيمه
که دلهر او به څښې کولمې يې با سي
هم دهر کوهي اوبه نه وي بې بيمه
چه سرې اوبه دغره نشته په هند کښې
ترې تر به که وا نه دك دي له نعيمه
همېشه به په هند نه اوسې خو شحا له
عاقبت به عاصي وو زي له جحيمه

داتوله غندنه ددې دپاره وه چه خوشحال خان پښتنو ته دپښتنې خاورې مينه اومحبت وښيي اوددې ته وتړايي چه پښتنې خاوره دپښتنو ده اوپښتانه بايد په خپله پښتنې خاوره کې واوسي، نه داچه ددوې خاوره دپردو دخاورې سره ګډه شي لهکه چه پښتانه دخپلې پښتنې خاورې خاوندان دي، اودخپلې پښتنې خاورې واک بايد دبل چاپه لاس کښې ورنه کړي اوپښتانه بې خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنی خاوری بل ځای نه آزاد ژوند کولای شی اونه په پردیو وطنو کښې دپښتون قدر کېدلای شی څنګه ښه لنډی ده :

مـو لادی خپـل وطـن تـه بـو زه
پر دی وطـن د مړو قـدر کمو ینه

دپردی وطن بوټی او خا شاك لا په سړی خو لې لـګوی، یوه پښتنه انجلۍ چه له پښتنی خاوری جلا شوې ده دپردی وطن نفرت داسی څر ګندوی :

مـوری ! لـنډی کمیس را و کـه
پردی وطن دی ترخی خولې رالګوینه

خوشحال خان هم په پردی وطن کی خوښ نه دی، خوښی ئې یوازی په خپل وطن ده چه وایی :

دخوشحال دزړه خوښی نشی بې سرایه
خپل وطن ئې پر هرچا بالدی کشمیر کړ

دپښتونخوا سپېړې ولی لاهم پښتنو ته چندن وخاوری ئې مښکـو عنبر او کـانی ئې دسرو زرو په شان قیمتی دی ـ خوشحال خان وایی :

دوطـن ولـی چنـدن اګـر دی  خاوری ئې واده مښکو عنبر دی
که ئې سرای اورو وته سنګېږدی  کـانی ئې واده ماته سره زر دی

لحینی نا پوهان چه دخو پیسو، یا دکوم منصب دپاره ئې خپلی خاوری نه شاه کړې وه اودنورو دنو کوی، په غرض به ئې له خپل ګران وطن څخه کوچ کاوه خوشحال خان ئې دا سی تنبیه کوی :

درزی لا ګز لری، مقراض سو زن لری
یوجمدر کوتـی خو شحـال خیرن لـری
کوچ ئـې آسان دی مشکل هیڅ نـه دی
غـم د یـا را لـو در د د و طـن لـر ی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو، څوك چه حقیقی پښتون وی هغه باید دوطن درد واری اود وطندارا نو غم ورسره وی ، او څوك چه دوطن درد لری، یاد وطندا رانو غم ور سره وی هغه هیڅکله پښتنی خاوری نه پرېږدی او نه د نورو نو کری منی ، اوغیر له خپلې خاوری څخه نور هرځای باندی سقروی، لکه خوشحال چه وایی :

نور جهان سقرشو باندی سرای دار القرار دی
کله به خوشحال دار القرار اره ور د رونمی

خوشحال خان چه د پښتنی ننګی پر ځای کولو او د پښتنی خاوری د آزادلو دپاره د مغلو بندته لحان ور کړ او به رنتبور کښی ددښمن په لاس کښی بندی ؤ ، نود پښتنی خاوری مینی او عشق ئې په زړه کښی داسی لمبې وهلې چه ویل به ئې :

پښتنې جونې دې زلفی باد ته نیسی
چه شمال ئې وی راوړی په رنتبور کښی

بل وخت چه د پښتنو د ننګی دپاره غړه، په غړه ، په لوړو ژورو سر ګردانه د پښتنی خاوری د یوې ترتې په نندا ره ئې هم زړه خو شحاله دی او لحان دفلك منت بار بولی چه وایی :

لامنت لرم په داهم له آسمانه نندا ره دا باسیند له «میر کلانه»
په «تیرا» په «سوات» په خوږه ور به ورشوم بیامی کوم لوری نه نه بیایی آسمانه

د « لنډی سیند » او « بادې » اوبه د شربتو غوندی په خوشحال خان خوږې لګی اود « ماترې » دغره لرو والی داسی ستایی :

یا اوبه د لنډی سیند یاد بادې دی چه په خوله می تر شربت لګی شیرینی.
دماترې غاښی لېږغ درومی و آسمان ته په خانه خانه لنډیزی باندی سپینی

خوشحال خان د پښتنی خاوری په اکثرو سیمو کی ګرزېدلی دی او تولی سیمی ئې ښه ستایی. خصوصا خپل ټاټوبی « سرای » ئې ښه خوښ دی ، تاسی ګورئ د سرای جغرافیائی وضعیت څنګه ښه بیانوی :-

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمت به اگوری شه چه ئې ونیوه لحای سرای
چه بنه فهم ئې و کړې باور و کړه لحای لحای دی
تور غرئې د هودې دی تر تیر ا یوري سم تللی
نیلاب ولندی دوادو عجب سره ینبی پسه پسای
پرې سازه لویه لار دهند وستان وخرا سان ده
گذر ئې داتك دی چه ترې ترس کاشاه گدای
هنر فیض ددې جهان شه چه یادیبزی پرې رادرومی
چه ملك ئې بارانی دی شه بهار لری های های
که سوات که اشنغر که پیښور دی داملکو نه
رجوع لری و ده نه فیض ور درومی دهر لحای
یه هر لوری ئې ښکار شته دشاهین دباز اوهرشه
واه واه کاله پانه ئې چه ئې ښکاردی دلربای
لحوانان ئې چاق، دزست، چست وچلاك دی په هر کار کښې
خوښی ستر گی سپین اوسربلنده بالا دی په نمای
آسمان لحنی جدا کړلاس دچا رسی آسمان نه
خو شحال له سرایه نه دی جدا شوی په خپل رای

له دې نولو شخه داخر گندیبزی چه ننگیالی پښتون خو شحال خان ختك دپښتنی خاوری سره دیر زیات عشق درلود او هم ئې پښتنو ته ویل .

ښې دی تر منبکو د وطن خا وری
نودې اوبسه دی دوطن وا وری

❀ ❀ ❀

پښتنی خا وره کوم لحای ته و یلی شو ؟

---

دمخه موو ویل چه په هر مغه لحای کی چه پښتانه د کلو کلو راهیسی میشته وه او یا میشته دی او دپلرو اونیکونو هدیره ئ جوړه ده هغه پښتنی خاوره بلله کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



له اسلام قلعه او ها مون ( سیستان ) څخه را نیو لي ترا با سیند پـو ری اودآموله غاړی څخه بیا تر بحیرهٔعرب اوله بلی خواله چترال څخه تر بحرهند پوری پښتانه پراته دی خود پښتنی خاوری لحینی توتي انگریز انو په غیرحق دیخوالی هندوستان او ننني پاکستان سره گډي کړی او هغه ئي دډیو رنډ دمنحوس اوفرضی خط په واسطـه له پښتنی خاوری څخه جلا کړی دی ، مگر اوسیدونکی ئي بیاهم پښتانه دی اوهیڅوك نشی کولای چه ددوی زړونه له پښتنی خاوری څخه بیل کړی. بلکه نن سباوینو چه هغو تولو پښتنو خپله خپلوا کی غوښتي ده او غواړی لحانونه په آزاد پښتونستان کی شامل کړی –

داځکه چه دوی پښتانه دی اوله پښتنی خاوری سره علاقه اومینه لری نه غواړی چه ترابده نو ددوی دپلار اونیکه هډونه دنورو ترپښو لاندی وی او یاد دوی واك دنورو په لاس کی وی او دائي طبعی حق هم دی.

دانك دسیند څخه مخ په کښته جنوب ته دملتان اوسیند په خواؤ کی اوبیادا باسیند نه مخ په لمر لوېدو او دشمال خوانه پلر کنی پلر کنی پښتانه پراته دی برسېره په دي دپنجاب اوسیند په صوبو کی داباسیند په نمرخاته غاړی دپښتنو داسی اولسونه پراته دی چه اوس هم پښتانه دی، خپله ژبه اوروایات ئی ساتلی دی لکه چچ، عیسی خېل، ساغوری، داؤدخېل، مکهړ، میان والی، ډېرهٔ غازی خان په پنجاب کښی ـ او بنکـارپور، جیك آباد په سینده کښي. لنډه داچه له چترال څخه نیولي مخ په جنوب تر بحرهند پوري د پښتنو غټی غټی قبیلی پرتي دي چه دځینو قبیلو نومونه ئي دادی : ـ

یوسفـزی، مندڼ، زاړه سوانی یعنی اتمانزی، نارخیل، چارخیل، اکازی، مشوانی، ماموند، سلارزی، اوتمان خیل، مومند، صافی، رانی زی، محمدزی، خلیل، خټك، اپریدی، شنواری، ورګزی، توری، بنګش، بنوڅی، وزیر، دور، مسعود، نیازی، بیټانی، سدوزی، نورزی، اچګزی، کاکړ او نور ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغو غټوعلاقو نومونه چه دپښتنو داقبیلې په کښې اوسېږی اوانګریزانو غوښته هغه سره توتې توتې او جلا کړی دادی :ـ

ګلګت، هونزه، نګر، یسن، چیلاس، (دجمو، او کشمیر مربوطات) ګبر، بګرو، سیو، پالس، جالکوټ، تندیار، کاګان، اګره وور، اوګي، تیکری، اکازدره، سیند کری، امب در بند، چترال، دیر، سوات، باجوړ، ارنګ برنګ، مهمند، پېښور، مردان، کنداب، ګیا کبل، کوهات، تیرا، کورمه، وزیرستان، (دمیرانشاه وانه) بنو، دیرهٔ اسماعیل خان دډیره غازی خان غربی برخه، ټول بلوچستان چه په قلات، لس بیله، خاران کویټه، هرنائی، سیوی، چمن، او پښین، ژوب، مشتمل دی (۱) چه یه دی ترتیب یه دې علاقو کښې تقریباً او یا لکه یعنې اوه ملیونه پښتانه دی چه یه یوه سیمه اویو ځادز کی سره اوسېږی او ژوند تیروی، علاوه دا فغانستان له خاوری داتولی علاقې پښتنی خاره بلله کیږی او دخوشحال خان سره داتولی خاوری دآزادی اواتحاد غم ؤ، مګر څنګه چه پښتانه دغفلت په خوب بیدهوه نو ځکه ده ورته ویل :

سرئې هوری قند هار بل ئې دمغا ر دی
تردا منځ واره مېشته همه عبث دی

خوشحال خان یوازی دهغو پښتنو د آزادی زیارنه پوست چه دی پکښې اوسېده بلکه داتولو پښتنو اتحادئې مقصد ؤ، غوښته ئې چه یولوی پښتون جوړ کړی. نوځکه ئې پر کابل چه داوسنی افغانستان مرکز دی هم دانه پېرزو کېدله چه پر دی متجاوزین حکومت باندی وکړی او پښتانه پکښې خواروی نودائې :

---

۱ـ د کابل مجله ۲۱۷، ۲۱۸ ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابل میوې خوراك دی دطوطیا نو
پرې خواره شول تور کارگان له هندوستانه

بل ځای د کابل سره خپله پښتنی مینه داسی څرگندوی ،

نور باغونه دنو روز په وخت غوړ پېژی  په اهار کا غوړ بده د کابل باغ
ستاله باغه یو گل ما لره دولت دی  نه په سل رنگ گلونه ډېل باغ

د گوری چه خوشحال خان د کابل یو گل د نورو د سلو گلو سره نه برابروی همدا شان کابل چه د پښتنو مرکز دی د دهلی ترښار ښه گڼی او د دهلی ورانی تر کابل دمخه غواړی مثلاً وایی :-

چه لا ښهر دهلی شته نوخو شحا له
څه فائده که وران په آمسره کابل کړم

همدې مینی مجبور کړی ؤ چه کابل نه راشی او په ۱۰۸۰ هجری کال ئی په کابل کې خپل پښتنی احساسات څرگند کړی دي چه وایی :-

پوره زر انیا گلونه په کابل کښی
داغزل می په بیاض باندی تحریر کړ

خوشحال خان چه په پښتنی خاوره د پر دیو متجاوزینو مظالم لیدل نو بې له دې ئی بله چاره نه لیدله چه یا باید مقابله و کړی او یا غرونه وخیژی نو وایی :-

دا کشور له سر تر پا په کفرستان شو
یا می ځای کړای غاړی غرونه یا غزا وی

خوشحال خان په پښتنی خاوره کی د پښتنو دښمنان کتل چه د پښتنو بیخ کازی او بر بادی نه ئې ناست دی ، یا پردی وه چه د خپلو په جامه کی ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لحانونه ښکاره کوله او یا په خپله لحینې بدبخته پښتانه وه چه دساد گی له کبله ددښمنانو په رشوتونو او منصبو نو غولیدلی وه نوخوشحال خان پښتنوته داسی لار ښیي :-

رخنه گرد ملك پرې مېزده په خپل ملك کښې
به حکمت به زر وزور به لښکرو نه
وروراوزوی دملك په کر کښې قتل کیږی
نور به وا ړو باندې جوړ شوه محضرو نه

بلکه دخوشحال خان دوطن رخنه گرد استونی مار کښې او دستونی مارخوډېر خطرناك وی :-

رخنه گرد ملك په خونه کښې ماران دی
چه ماران دخونی شته خو بی کدا مه

په دې ترتیب خوشحال خان د پښتنې خاوری سره مینه هر پښتون نه وصیت کوی اووایی :-

« دپښتنی خاوری سره علاقه ولری !! »

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان وایی :-

# (٤)

# علم او هنر زده کړی ؟!

چه ئې علم هنر نه وی لحینی تښته
بې هنر سړی که وګوري لاشی دی

دپښتنو یوه بدبختی په کورنه ده چه سړی ئی غم وخوری دپښتون زوندون سرتر پایه بدبختی ده، هرڅه نه چه ئی ګوري هغه د افسوس او صلاح وړ دی په هره چاره کښې پښتون تر وینې دنیا وروسته پاته دی، که لحینو بې ننګی ته مخ کړی ده اتفاق ئې هم نشته، که اتفاق نه لری په علم او هنر هم لکه چه ښایی خبر نه دی چه دا بدبختی ئې د تولو بد بختیو سربلله کیږی، بلکه دپښتنو د تولو بد بختیو سبب همدا بې علمی او ناپوهی ده، که لحینې ناپوه پښتانه پښتنی ننګه پریږدی او د نورو د ګټې دپاره استعمالیږی یا که په خپل منځ کې سره خوری او د اتفاق نه لری، یا که ئې لحانته فکر نشته او د تولو پښتنو د اتفاق مفکوره نه تعقیبوی. یا که په یوه مرکز نه راغونډیږی او قبایلی تفرقې ئې منځ نه راوستلی دی، او یا که ئی لحمکی شادی دی او ښه ښه ښارونه ئې نشته، یا که په نس وږی او په تن لخ دی او نور ...

ددې تولو سبب دادی چه علم او هنر نشته او په دې وینه دنیا کی چه څوك علم او هنر نه لری هغه پرژوندیونه حسابیږی او نه دژوند به حق څوك ورته قائلیږی، که قائل هم شی نو داسی ټیټ ژوند به کوی لکه نن چه ئې پښتانه لری، حقیقتاً تربې علمه ژوند مرګ په زر درجې مهتر دی. خدای تعالی چه په قرآن کریم کې فرمایلی دی چه :-

«هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون»

«آیا برابر دی هغه کسان چه علم لری او هغه کسان چه علم نه لری» دانسانانو د پاره لوی درس دی چه باید د علم خوانه توجه وکړی لحکه هغه انسان چه علم لری همیشه مخ په پورته لحی او د دنیا او اخرت ګټې حاصلوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهغه انسان چه نا پوه دی تل مخ په کښته روان اودنورو دلاس محتاج وی :

خوشحال خان چه دپښتون دې لوی نقص ته ملتفت دی نورو ته وا یی :

علم تا بیا یی په پورته ' جهل تا بیایی په کښته

یا عیسی لره ور درومه ' یا قارون ته لخان وسپاره

بلکه خوشحال خان هغه څوك چه علم اوفضل نه لری که څه هم دپاچا پر تخت ناست وی بولخناور اوحیوان بولی اودانسانانو له دلې څخه ئې نه شمیری دی وایی :

چه ئې علم ' فضل نه وی چه په تخت دپاچا کښېنی

یا یو ایښ دی ' یا لپوه دی ' یا ئې گاؤ خرشماره

راشی ' چه پو دار دې جهان ته په دقت و گو رو څه دخدای عالم دی چه په دې خاورینه مځکه کی سره ښوری ' رازراز لخناوران ' رازراز خلخندې ' راز راز حیوانات اوانسانان دمځکې په سر موجود دی ' لخینې غټ او لخینی واړه مگر دځمکې حاکمیت دچا په لاس کښې دی ؟ دانسا نانو اا داولی ؟ آیا انسانانو دمټ په زور او په خپل قوت داحا کمیت حاصل کړی دی ؟

آیا تر انسان نور غښتلی او غټ حیوانات نشته ؟

شته خومگر بیاهم ولې انسان دا نول مغلوب کړی دی ؟

دالحکه چه انسان پو هه اوعقل لری ' دمټ زور نه دی عقلی اوعلمی قوت دی .

همدا راز به دانسا نانو په منځ کې وگورو ' نول ' انسانان دوه لاسونه دوې پښې ' دوې سترگې دوه غوږونه ' یوه خوله لری ' مگر داڅه سبب دی چه لخینې انسانان پرنورو حا کمیت کوی او بیالخینې ملتونه نورو ملتونو ته احتیاج دی اودهغو سلامی کوی ؟ داهم که مونږ په غورو گوروغیر له علمی نفوذ اوقوت څخه بل هیڅ سبب او عامل نه لری ' هرڅوك چه په علم کښې لوړ وی هغه په هرشی کښې لوړدی او هرقوم چه علم نه لری هغه نل تیټ او ذلیل دی ' نن ورځ انسا نانو دعلم په زور هوا او دریا بونه مسخر او دځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



تابع کړی دی، دعلم اوهنر له بر کتمه په هوا الوزی او په دریابو تنه وزی غرونه سوری کوی او دسیندونو مخ بندوی . مگر دابوازې دصورت او مقو په زور نه دی شوی اونه کېږی، بلکه دعلم اوروحی قوت په زور دا حیرت را وستونکی کارونه پای ته رسوی خوشحال خان هم وایی :

دصورت په زور قوت غرونه ماتېږی  که خبر یې د کوه کن په زور قوت
چه دروح قوت پیداشی قمر شق کا  په هر لوری ئې په مخ دروهی نصرت

خوشحال خان دهغه چا په حال افسوس کوی چه غوږ، خوله او ستر گی لری، مگر څه نه زده کوی. دی داسی سړی له ازله « سیه گلیم » بولی چه عاقبت به ئې ندامت په برخه شی :

که په خوله، په غوږ، په ستر گو څه زده نه کړې
نور ورد رو مه از لی سیه گلیم یې
پیر، استاد، مرشد به واړه در ته شا کا
که یه جهل مرکب کښې مستقیم یې
عاقبت به دې یه برخه ندامت شی
چه داهسی دجاهل سره ندیم یې

دلته خوشحال خان دپښتنو ناپوهی ته مخ را اړوی او گوری چه دامرض په پښتنو کښې نرهر قوم دیر دی، او نه پوازی بچیلې ناپوهی ته نه ملتفت کېږی بلکه فخر یه کوی نو خوشحال خان داسی پیغور ور کوی :

درست جهان په ناپوهانو سره ډک دی
ولې زیات که په کښې وگورې افغان دی

ناپوهی خولا ناپوهی ده، مگر د لحینو پښتنو نردې اندازې د پوهی سره جوړه نه ده چه خپل لحان پوهول هم نه غواړی او نه ئې زده دی چه کوم هنر زده کړی، دا خوخو سببونه لری چه مهم ئې دا دی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- لحینې پښتانه چه څه لحکه یاخو پیسې پیدا کړی، نو دائې فکر نه ورشی چه په ژوندون او دنیا کښې معراج همدغه شی دی، دې نه رسېدلی یو انور نو علم او هنر موخه به کار دی؟ او بردې اندازې دچپل دې ناقص فکر تابع شی چه حتی خپل اولاد هم علم او هنر زده کولو ته نه پرېږدی،

او دهغوی رانلونکی ژوند ور خرابوی دا تا پوهان دې ته فکر نه کوی چه ژوند بوازې پیسې پیدا کول نه دی او بیا که د پیسو سره علم نه وی داسې پیسې څه په درنه خوری، بله داچه هر انسان په یوه جامعه یا ټولنه کښې اوسی هغه یوازې خانته مسئول نه دی بلکه جامعې او ملت ته هم مسئولیت لری او باید همیشه ئې دلحان دغم سره د ملت غم هم ورسره وی. تو خپل اولاد دې دپاره چه پلار ئې پیسې لری د علم او هنر څخه را کړزول د جامعې او ملت سره خیانت دی، لحکه چه یوازې د پلار پیسې ملت ته دومره ګټه نه رسوی لکه د اولاد تعلیم خصوصا چه پلار ئې ناپوه د ولتمند وی، لحکه خوشحال خان وایی :

احمق که هر څو دنیا دولت لری　　دولت به بای کا چه حماقت لری

که د پر نادار وی شکر دی کا ندی　　که خوی ئې ښه وی علم حکمت لری

بل ځای دولتمند سړی د علم او هنر خوا ته داسې را بولی :

دولتمن دی به هنر په علم مت کا

که هر څو بنا یسته مخ وی بیا پساله شی

او همېره همه بولی چه تر دینا راوزر د مخه د خپل هنر په غم کښې وی :

مرد به غم د خپل هنر کا　　نه د زر نه د د یسنسار

که هر څو زور وروی، یا د پر زر لری، چه هنر نه لری، خوشحال خان ورته یه سړی توب قائل نه دی، که پلار وی که زوی د رته وایی :

هنر چه نه لری که دی پسر دی　　سړی ئې مه بوله یو ګاو خر دی

که هر څو زور لری که هر څو زر لری　　تر دا همه واره بهتر هنر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه پلرونه باید په خو پیسو یا خو جریبه ځمکه ونه غولېږي په خپله هم دعلم په تحصیل پسې شي، او خپل اولادهم له علمه محروم نه کړي پیسې یا ځمکه خو څوك دعلم په تحصیل نه ځني اخلي مګر که علم زده کړي نو داسې انسانان به شي چه هم ځانته اوهم خپل قوم اواولس نه به نافع وي :

۲- ځنې نا پوه پښتانه بیا په خپل نسب و کورنۍ غولیدلي دي وائي ما نه هم دابس دی چه دپلانې خاندان یم، یا پلانې زی یم، تر څوچه زو ندی یم خلق به په درنه سترګه راته ګوري او زما احترام به کوي نور نو علم نه څه حاجت دی ؟ دوی دېر غولیدلي دي اونه پوهیږي چه اوس موږ په داسې عصر او داسې پیړۍ کې ژوند کوو چه نور به نو یوازې دخاندان په نوم څوك تیرنشي او راتلونکي کلونه لاتر اوسه هم ډېر وېښ دي . دوی څله خپل ځانونه دملي ورونو له ټولې څخه باسي ؟ حال داچه تردي وروسته پوسړی دهر څومره لوړ خاندان څخه چه وي که علم او هنرونه لري په دوي پیسې به ئې څوك وانه خلي. خوشحال لاهغه وخت ویلی دی :-

که په اصل څوك سید یا شهزاده وی
چه هنر وو څخه نه وی مه ئې ستا یه

نو ای دخاندان او نسب خاوندانو ! راشئ، اوس تردي خوشي او بابیزه خبرو تېر شو . او هغه اصلي او ضروري چاري ترسري کړو چه غریب وطن او بیچاره ملت ئې راتخنه غواړي علم او هنر زده کړي، چه دوطن او قوم په درد وخوري. سناسې ترشا پاته قوم دزئې، نسب یا خاندان په نامه لوړ بدلای نشي علم او هنر ته ضرورت دی چه دوی لوړ کړي .

۳- دپښتنو پخوانیو مشرانو هم نه دی غوښتی چه پښتانه پوه یا دعلم خاوندان شي ؟ ځکه چه دپښتنو ځینې مشران یا ظالمان حاکمان یا مستبد خانان او یا ځنې خیرات خواره سپین ږیري او یا لنګ دهلي ملنګان وو . دوی هر یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل نفوذ دقیام اوهمیشه توب دپاره قوم جال سانلی ؤ ، لحکه چه که قوم دیوهی اوعلم خاوند شوی وای نوهر خوك ئي دلحان مشر نه تا که اونه ئي مانه .

وائی چه فرعون له خپل مشاور څخه پوشتنه و کړه چه : « زه خپله خدایی خنګه وسانم ؟» مشاور ئي ورته ویل : « خپل قوم یه جهل او ناپوهی کښی ساته لحکه نرخو چه دوی ناپوه اوجاهل وی ستا خدائی به منی ، خو که پوه شول له به نه ئي له به ستا خدایی ! »

نو پخوا به پښتنو کی هم لحینی داسی مشران پیدا کېدل چه دخپل قوم سره ئي هم داوضعیت دراود، لحکه خوشحال خان پښتانه دداسی کسانو جهالت نه ملنفت کوی او ورته وایی :

ملا ئی یه دهر تحصیل شی — شاعری ده له حکمته
ملکی خو باد شاهی ده — خانی هم له سلطنته
بیری لا لو یه پایه ده — ده له دهره ربا ضیته
مفت آسان کنی دا واده — پښتانه له جهالته
هر سړی ور ته ملا وی — چه به یاد کا خو آیته
چه پیر ؤ هغه شاعر دی — قافیه غلطه کړته
هغه سک ور ته ملك وی — چه کلی ودی له محلته
خان هغه چه ترب برو زی — به زا تکه کښي دهی لته
پیر هغه چه یسی دزو هسی — خو سر تسوری به دالته

دخوشحال خان مقصد دادی چه پښتانه باید به پټو سترګو به هرچا یسی چه دوی ترلاس ونیسی دهی نشی، خپل لحانونه باید پوه اوعالمان کړی اودعلم له رویه ښه اوبد سره وپېژنی. هو، خوشحال خان نادان او بی علمه سړی هم دلحان دپاره بلابولی اوهم دجهان دپاره، به خپله، تردانا لحارپیژی او نادانان ترلحان لحاروی دایی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دا نا دی زه لخا رېږم　　نادا نان واده تر ما

نا دا ن لخان لره بلا دی　　هم جهان لره بلا

چه نادان و کا، داورنه　　هسی نه کا اژدها

بې علمه سړی گاؤ خر بولی، نود گاؤ خر به څه بر کت وی :

چه نه ئې دبن وی نه ئې دولت وی　　نه ئې په علم ښه خوې خصلت وی

سړی ئې مه بوله بو گاو خر دی　　د گاؤ خر به څه بر کت وی

خوشحال خان د علم زده کړه په کوم وخت پوری نه تا کی، بلکه دده دا نظریه ده چه علم به هر وخت او هر سن کښې چه وی باید زده کړه شی حتی دی په خپله وائی چه :

« که کوم ورځکی ماته څه راوښیی پرما به ئې ډېر منت وی »

نو گو یا خوشحال خان بې علمه پښتنو مشرانو نه توصیه کوی چه علم زده کړی که څه هم له کشرانو څخه وی او وائی :

هغه استاد گڼه چه درته څه ښیی　　کشر هم مشر ئی چه درته ښه ښیی

په سپینه زېره به ئې منت لرم　　که ورو کی راشی راته څه وښیی

دده په نظر کښې بې سواده سړی چه خط نه لری، لیکل او لوستل ئې زده نه وی دا انده مثال لری :

چه خبر په هنر نه، هغه کسم عقل

چه د خط ستر گې ئې نه وی هغه کور

خوشحال خان پښتانه وینی چه قدرت هر څه ور کړی دی مگر دوی کار نه لخنې اخلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کرلو او آبادو لوحمکې لرې خودوی له اوزې مرې نو وایي :

څه کم عقل ناڼا نان دی  دا پاڼده بې بصار نه

نعمتونه په خپل کور کښې  مرې له لوزې له هیبته

خوشحال خان چه یو خوا دپښتونخوا غرونه وینې چه له هر راز کانو څخه ډک دی او زر خیزی مځکې ئې شادی برتې دی او بل خوا ګوری چه پښتون قوم وږی تږی، لوڅ لغړ، خراب حال پروت دی او هیڅ هنر نه لری چه یا خپلې لحمکې وداني کړی او یا له خپلو معدنو څخه کار واخلی نو زړه ئې درد کوی او پښتنو ته وایي :

کانې لعل دبدخشان، کیاه کیمیا ده

چه ئې نه پېژني ته، ګناه دچا ده ؟

بل ځای هنر دسرو زرو په شان ګڼي چه د دنیا په هیڅ ځای کې خپل قدر او قیمت نه بایلی او هنرمند سړی په هر ځای قدر لری، وائي :

هنرمند سړی په هر دیار عزیز وی  په هر ځای قدر قیمت لری سره زر

او دهر چا قدر پخپل هنر بولي :

دهر چا قدر قیمت په خپل هنر وی  د ګڼي قدر ځر ګند د ګڼي خوند کا

ربښتیا هم که پښتنو علم او هنر درلودلای اوس به د دوی قدر قیمت ټولې دنیا نه ځر ګند ؤ، او ټولې دنیا به ئې احترام کاوه. اوس چه علم، او هنر نه لری د دنیا تر ټولو قومونو وروسته پاته او خوار قوم دی، او د دنیا علم لرونکو قومونو ته په یوه سټن هم محتاج دی. که پښتانه پوه وای دوی به هیڅکله غیر له پښتو له دبل چا مشر توب منلی نه وای، که پښتانه پوهیدلای دوی به هیڅ وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبل چادپاره لحانونه وژلی نه‌وای لکه‌ن برون چه‌ئې وژنی ، که دوی پوهه درلودای دوی به دپښتنی خاوری بوه‌لو پشت هم دبل چاتر حکم لاندې پرېښی نه‌وای ، که‌پښتون قوم‌عالم وای نوخپل‌ملی مرکزیت به‌ئې پېژانده اوپربوه مرکز به‌راغونډ شوی ؤ ، اوآزاد پښتونستان به‌ئې تشکیل کړی وای ، که پښتانه دپوهې خاوندان وای دوی به‌له خپل منځه نفاق‌ورك کړی ؤ ، اوپه بوه اتفاق به‌ئې دخپل ژوند دښه کولو غم خوړلی ، که دوی علم در لودای دوی به‌هرشیطان نه غولولی اوپه هرچا پسې به‌له تلای ، که په پښتنو کښې هنروای دوی به‌ولی‌دهرچاوره‌ته دیوې ستنې دپاره ولا رته وای ، څله به‌دو په‌نس وزی اوپه‌تن لوخ وای ؟ پرڅه به‌ددوی ښېرزه دنوری دنیاد کنډوالو سره برابر وای ؟ ولی به سرتور سربېلی پښې کړخپدای ؟ داتول له دې جهته دی چه پښتانه علم اوهنرنه لری ، نوځکه خوشحال خان وایی :

« علم اوهنر زده‌کړی ! »

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان وایی :

# (۵)

# تور یالی او مرنی او سی ؟!

لل کتنه ده دنیا ری  که کابل دی که کشمیر
مرنی دی چه یادیږی  په سندر و یا په وبر

دیښتنو متل دی وایی : " زور چه زور ورشی عقل مرور شی ! " داخبره له حکمته خالی نه ده؛ زور او قوت دقدرت او طبیعت خوی او دد نیا دژوند مداردی که تاسی کائناتو ته و گورئ، یا دزړو او اوسنیو انسانانو په ژوند کښې لحیرشئ یا حتی ځاروبو او حیوانانو ته دقت و کړئ، تاسی ته به ښه شان څرگند یږی، چه زور او قوت هرځای او هر کله جا کم دی، هره اوبه کره چه دځان سره خو ږدې کړي ساتی او په خپله جا ذبه ئې را گیږی کړی دی یا انسانانو چه یو په بل حکمرانی کړی او یا ئې کړی او یا ئې یو دبل ښارونه تالا کړی او یا ئې تالا کوی، یا حیوانات چه یو بل خوری او یا یو له بله وږیږی داټول هغه طبیعی حکم دی چه په قوت او زور کښې پروت دی او تر څو کائنات او دنیا او ژوندوی دقوت مفهوم ور کېدلی نشی . کله کله (خصوصاً) په دې عصر کښې لحینې انسانان لحانونه غولوی او وایی چه دقانون قوت تر هر قوت پورته دی مگر که له دوی څخه پوښتنه وشی چه ستاسې دقانون نگهبان او ساتندوی څوك دی ؟ ضرور باید ووائی « نظامی قوت » تو بیا هم قانون په خپله قوی نه شو او دبل قوت په زور قوی کیږی : خو دقوت او زور څخه هم غرض دا نه دی چه انسان باید ددې دپاره قوی شی چه بل وخوری بلکه مقصد دادی چه انسان باید دو مره قوی شی چه بل ئې ونه خوری او دا دژوند اساس دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوت او زور بوازی په غټو جسمو او غټلومتو کښې نه وی ' په ربښو مغزو کښې لاهو دی مثلا کرم ملت چه ډېر پوهان لری ' ډېر کاریګر لری ' ډېر مخترعین لری ' تخنیکي قوت ئی ډېر ښه نو دا ملت پرنورو ملتو په هر قوت کښې اوړ او پر مخ لحی په بل عبارت قوت او زور په دوه ډوله ویشلای شو ' یو معنوی قوت بل ظاهری او مادی قوت ' د معنوی قوت دپاره خو علم او هنر لازم دی چه دا خوشحال خان پاتې دمخه تاسې ته رویل ' او د ظاهری قوت دپاره وسله او صحت لازم دی چه د خوشحال خان لامېرانه هم په دې ردیف کښې راولی چه په دې فصل کښې همه هنوانو نه زبحث لاندې نیسو :

توره :- د پښتنو په اصطلاح توره بوازی د غه توسپنې چړې ته نه وایی ' بلکه عموما توره دوسلې په معنا راځی او ا کثرا لاهم دمېرانې او شجاعت معنا ور کوی ' مثلا کوم زلمی چه ښه جنګ کوی او په جګړه کښې پهلوان دی نو ورته وائی : «تورزن زلمی» دی او تور بالی هغه چاته ویل کېږی چه په جنګ کښې مېړه وی که څه هم دا جنګ په توره نه وی په ټوپک وی ' نو دلته هرځای چه خوشحال خان توره یاده کړې ' باید د توري مجرد شکل مراد نشی بلکه په ډېرو ځایو کښې له توري نه مېرانه او جنګ غرض دی ' لکه خوشحال خان پښتنو ته وا یسی چه « سکه ژوند غرانده تور بالی اوسیء » داهم لکه چه خوشحال خان د پښتنو سره نور هیڅ مادی او معنوی قوت نه ویني چه دوی ژوندی وساتی ' نه مخترعین او پوهان لری ' نه ئې اقتصادیات دومره ډلوړدی چه توره دنیا دوی نه داهمیت او ژوندی قوم په سترګه وګوری نه ماشین خانې او کاریګر خلك ډېر لری چه له دې لاری ژوند وکړی ' نو بې له توري بل هیڅ زور او قوت نشته ' چه د پښتنو ژوند او د پښتنو آزادی او پښتنواله خوندی کړی ' له دې جهته پښتنو ته وائی چه «توره ټینګوی» په همدې توره به خپل ژوند ساتی ' بل فکر تاسې ته نه ښایی .»

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه چه نورخه فکر کا نا پوه دی

بې دتوري خلاصي نشته په بل کار

که کشمیر یو وخت د پښتنو پالاس کښې ؤ او یا کابل د پښتنو مرکز دی خوشحال خان ناول د توري د کان او کښنه برلی او هغه کسان په سندرو کې ستایل کېږي او بائي په مرګ ویر خلك کوي چه په توره مېړانې ' نود ابی —

کل کښنه ده دتوري نه کابل دی که کشمیر

مېړ لی دی چه یا دیږي په سندرو یا پسه و یر

خوشحال خان چه د پښتنو دژوند دپاره بې له توري بل ثوت نه وینی ' او د پښتون دپاره تر هرڅه همداد توري هنر دیر ضروري او ښه هنر ګڼي چه وائي:

چه څر ګنده سربازي ګاندی دتورو

زه خوشحال ختك تر سر هنر چار شم

دده به عقیده په دنیا کښې یوه ټکیه د خدای ده او تر خدای رالاندې بیا د توري ' تورخه که پښتانه کوی عبث دی که ئې د توري نقش کښېنوست ثول کاروانه سرته رسېږي او د پښتنو خلیو که سرخزمیري تر زامې لاندی هم شی لا به دخپلې پښتنې هودی څخه راته وږی او خپله پښتنې ننګه به پرلخای کړی:

یا تکیه دیوه خدای دمیا د توري به جر ګیمر کو نشی کار تمامه

که دی نقش دتوري کښېنی راته غوږ کړه

کامر وا به شي هاله نه هره کامه

ښه لخوانان به خپل مرګ بري نږدې له لاسه

که ئې سر شي دخوني مزری تر زامه

په جهان کې چه دملوقانو نه راغلی دی او لخینو اولسونو پر نورو اولسونو حکمرانی کړی دی او دهغو ملکونه ئې نیولی او دلخان کړی ئې دی ' داخه دخدای پرپار نه دی شوی بلکه جنګونه ئې کړی دی ' وینې ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیولی دی ' قربانۍ ئې ورکړی دی ' او که پښتانه نوادی چه خپله پښتنی خـاوره د نورو له تجاوز څخه وساتي او یادنـو رولا سونه له خپلې پښتنی خاورې څخه لنډ کړی او یادخپلې پښتنی خاورې لخې توتې بېرته دلحان کړی او دپښتنو یولړی متحد ملت جوړ کړی ' نو باید نور بالی اوسی او دهر تجاوز لخواب ته حاضر اوهرې قربانۍ ته آماده وی ' لکه چه ملکرنه پاهنته ناساتل کېږی اونه خپل حق پهمره خوله څوك له چا اخیستلی شی ' خو شحال خـا ن همدا وائی :

چه ونه وهی پهدوارو لاسو تو ره  چا ملکرنه پهمیراث نه دی مولدلی
چه ترسرو ترمال نه نشی پهعشق کښی  څوك دجرنو پهپالنګ نه دی ختلی

دمغلو پهدوره کښې چه پښتانه ژوندی پاته شول او نوم ئې ورك نه شو هغه دخوشحال خان دپښتنی توري صدقه وه '

دا لاڅه که څښی پښتانه ئې ننګه شوی نه وای پنجاب پهدم دنوی ؤ لکه خوشحال خان چه یادونه کوی :

د اهمه دما دتو ر ي صد قـه ده  پښتانه چه پهکښی خوری سیورغال
یکمانه لخوانان که زرلهماسره وای  نورزما ' پـه پنجاب باندی یرغال

خوشحال خان هغه څوك کـامیاب ولی چه په توره قوی وی ' اوهم تورزن سړی به هرلحای کښې مخدوم اودعزت خاوند کښی. لحکه چه دهمدې تورزن سړی به مېړانه قوم ' اوملك ساتل کېږی نو وائی :

چه پهتوره ترك تـا زی کـا  هغه هر کله کـا مکـا ر دی
موردې نشی باندې بـو ر ه  چه مېړ و نه د کار زار دی
څوك چه شته ترشرقه غر بـه  دتور ز نو خـد متـکـا ر دی

هغه پښتون چه تور بالی نه وی پښتون نه بلل کېږی ' پښتون لاڅه خوشحال خان ئې مرد هم نه کښی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه پهخان سړی نو رزن وی　　بل ګټا ر نشته نر دا ښه
ګهمین و ی په نور زنو　　خونا مر د وی هم لا ښه
که نهدا وی نه هغه وی　　هغه څه دی وچ وابنه
چه داور لمبه پر ې را شی　　و ا ښه سیځی بلا ښه

په پور ته بیتو کې چه خوشحال خان نامرد سړی وچ وابنه ګڼلی دی ، دقوت اوضعف پوښه مثال دی ، لکه چه وائي ، لکه وچ وابنه چه داوردلمبې مخ ته تکیه کېدلای نشی همداشان هغه پښتون چه نور زن نه وی که چېرې دده په خاطره کوم خطر راشی نو دی هم هغه شان دوچ وابنه غوندې له منځه ځی او که ټول پښتانه په دې لار کې ې قرنه شی ، نو ضرور دزمانې دحوادثو په مقابل کې ئې نوم ور کیږی او دهستی له کوره به دنیستی ګورته ولاړ شی لکه نو خوشحال هر پښتون ته توصیه کوی چه باید په وسله مین وی ، که نه وی نو ددهٔ اودبې ننګی ښځی فرق نشته وائی :

چه مین په و سله نه و ی　　مرددې نه وائی خپل لحانته
لاس دې سره کاستر ګی توری　　لحان دی دجوده وی لحوان ته

څنګه چه په دیرو وختو دهر کی کاردپاره یوه نمونه لازمه وی ، چه د هغې نمونی له رویه کار پښې او تکمیل شی نو خوشحال خان هم ددې دپاره چه پښتنو ته د تور یالیتوب یوه نمونه و ښیی ، لحان تمثال جوړوی چه پښتانه باید ددهٔ تور یالیتوب دلحان سرمشق و ګرزوی او درس لحنی داخلی او حقیقتاً هم هغه جنګونه چه خوشحال خان دپښتنو دننګ دپاره ددښمنانو سره کړی دی دستایلو وړ دی دی دتورو په میدان کې لحان داسی ستائي :

دتورو په میدان کې چه سوداوی دسرو او
هغه زمان مې ګوره تل به سوروی نه زما آس

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل‌ځای دخپلې خوښۍ او خوشحالۍ وخت داسې څرګنده وي :

د خوشحال ختګ خوښې په هغه وخت وي

چه بر ښېنا د سپینو تورو وي د زغرو

بل‌وخت چه‌ئې په اورنګ زیب زده سود کړی اوله‌جنګه فاتح راګرزیدلی دخپلې تورې نقش څنګه ښه‌ستائي :

تراور نګ‌باد شاه‌مې‌رویست تا ودبند او د زندان

نقش مې کېښاوه د تورې په هند و په مسلمان

خوشحال خان دقوم دغلیم سره داسې‌تورې وعلې دی او دومره ئې‌دارولی دی چه‌به‌خوب کښې لاهم‌دده دتورې له‌ترنګ څخه ریږدی اوله کټه لویږی.

لایه خوب کښې په‌لږ زه پرېوزی له کټه

چه‌دچا تر غوږ زما د تورې شر تګ دی

خوشحال خان دمینې اومحبت په‌دنیا کښې هم‌له‌خپل تور یالیتوب اوقوت څخه ترېدلی نشی اوهلته هم‌غواړی چه‌پښتون مین ته‌تر تورو میناتو امتیاز ورکړی‌او داسې‌نه‌دی چه«ترسیده‌ترسیده‌بوسه»غواړي‌بلکه‌په‌ښکاره‌ناري‌وهی:

زه‌خوشحال کمزوری‌نه‌یم‌چه‌بدوار کړم

په‌ښکاره ناري‌وهم‌چه‌خوله‌ئې‌را کړه

خپلې معشوقې ته‌په‌څه غرور خطاب کوی :

یابه سر دخپل ور میز بسه و ینو رنګ کړم

یا به ښکال کړم دغه ستا شونډې ملوسکې

یادښو زلمیو زغ دی بسه مسید ان ښکښې

یا د ښو دلبرو لحی په جهان کړکی

بل‌ځای دمعشوقې له‌خولې خپل تور یالی توب څرګندوی چه وایی :

مګر تا څخه‌سامان‌دسلطنت دی چه‌به‌هوډمی‌سپینه‌خوله‌غواړي‌ختکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوشحال خان عشق هم پښتنی عشق دی یعنی ساده اوخپلی ؛ کومه غلا اویته نه لری، نه درقیب څخه پهېزی اونه ښېرا ورته کوی ، بلکه په ښکاره توره وراخلی اورقیب خپلې مقابلې ته رابولی ، نووایی :

په درست جهان به توی یودها غوندې رسوابل
ورځم توره در کښلې چه مین وار وم پـه تا بل

خوشحال خان نه دتورو ځمیدان «های و هوی» درمره خوند ور کوی انکه د زوی دزېږېدو سندرې نوځکـه وایی:

یاد ښـوزو پـو سندری دی د زوو
یا دتورې پهمیدان کـې هوی وهای دی

دجنګ پههنرونو کښې خوشحال خان ډېر مهارت اوزښتې تجربې لری، مګر ترټولو هنرونو چه خوشحال خان خوښ کړی دی یوهنردی، دی وایی : کـه پـه جنګ کښې هم ، دایـوهنر چادرلـود هغه کـا میـاب ارفـانـح کېږی ، هغه یو هنر کوم دی ؟ « ترسره تېر پدل »

نو وایی :

مزری توب بویه د تورو په میدان کښې
پـه خالی میدان هر پـو ګیدهمزری دی
که دجنګ په کـار کښې ډېر دی حکمتونه
چه د سر سر فه ونه کـړی نور بری دی

خوشحال خان عقیده لری چه دسړی وېره ترهغه وخته ده چه ترسر تېر شوی نه وی کوم وخت چه ترسر تېرشو توره وېره نو نشته، پښتونه همداوصیت کوی :

مردی دې هیڅ ده که په زړه شېر نه ئې
څه خو و شه کـه زړور ډېر نه ئې
تـرسر چه تېر شی وېـره هیڅ نـه وی
وېره دې هو نېرۀ چـه تر سر تېر نه ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ځای وایی :

مست‌هتیان خرنی مزری توري و کښلي
که د سر وېره دي نشي کار آسان دی
تنګبالی چه د اخلاص توره پسه لاس کا
دېر لښکر ئې ترهمت پوري کاروان دی

خوشحال خان‌وایی: سړی ته دا یوه څښه وینې بلا دی چه به غم کې‌ئې دی که‌نه دی نور څه نشته :

دا یوه څښه دلحان وینې بلا شو ي
چه سړی سره ئې غم په هر زمان شي

خوشحال‌خان پښتنو ته وایی: چه هیڅکله ترهغو ارام مه کښېنئ خوچه دخپل غلیم څخه انتقام وانه خلئ دی دانتقام سخت طرفداری دی کـه هرڅه کېږی‌خوودي شی مګر پښتون به‌دپښتنوالی له دښمن څخه انتقام‌اخلی :

که تل توري غشي خوری ماتي دجنګ وړی
مرد بـه سوړنـه شی پـه زړه لـه انتقا مـه

انتقام‌خوبه‌ضرور دیوي تمدی په‌عرش کښې‌ئې‌اولویه تمدی دخوشحال‌خان په‌نظر کښې داده چه دپښتنو په‌حقرقو څوك تجاوز کړی دي تجاوزلحواب باید ډېرشدیدور کړشی لحکه چه‌پښتنواله دهېچا تجاوزمنلای نشی اوداتجاوز که‌دپښتنو پرلحان وی یاپر پښتنی‌خاورووی‌یا که دپښتنو پرآزادی‌وی یادپښتنو پرمال وی تول دپښتنواله په نظر کښې یودی اوخوشحال خان دادپښتنوالی حکم د پښتنو غوږته داسې رسوی :

که په توره ئې لحواب ور کړې مر دی ده
که وجود دي څو کب آزار کاندی په‌چوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیره پښتون که هر څو په ناز او عزت کښې شي، بیا هم خپله پښتنواله نه هیروی او د متجاوزینو د انتقام غم به وزړه ته ګرځي، د چا سره که نه وی هغه او د خوشحال خان په مذهب کښې نامیږ ننګه خبر نه دی، وایی:

کډئې کښېنوي په باغ کښې — مرد به و نه کا آرام
څو پوره په غلیم نه کا — هره چار د انتقام
فراغت کا خبر نه دی — نا مردان به تنګ و نام

لکه څنګه چه تورپالیتوب هر پښتون ته خوشحال خان لازم ګڼي همداشان ئې پښتنو مشرانو ته ضروري بولي بلکه څوک چه دقوم سردار وی هغه باید د پښتنې ننګې پرځای کولو د پاره د خپل سر پرواهم ونکړي دی وایی:

سر دې نه غړوی خوشحاله — د بلا نه چه سردار دی

بل ځای وایی:

دسردار دریاست ونه په وینو — په لړشینو داعدا کاتمرونه
بې د تیغ له آبه نوري او به نشته — چه جنګجوی سر مساده کا تترونه

هوا دزړه توري هغه څوک باید وهی چه د مشر توب با تاج وتخت خاوندان وی د بیسو نوکران د خپل غرض د پاره توري وهی، خوشحال لخکه وایی:

هغه چه توري دبری به وخت وهی — هغه ئې واده دبل په بخت وهي
سپاهیان دطمع د خپل مقصود وی — دتنګشې توری څښتن د تخت وهی

یا دا چه:

سر داری لره بویه دادري تو که
بو همت . دوهمه توره، بل اخلاق

او خوشحال خان به دې ترتیب د هر پښتون د پاره تور پالیتوب فرض ګڼی چه د پښتنوالي او پښتني خاوری او پښتنو دژوند او بقا د پاره هر کله قربانیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او فدا کاری ته حاضروی داسی نه چه یا پنجابیان یا انگریزان یا نور ددوی پرحق تجاوز و کړی او پښتنی مخکه چه دوی دپلار او نیکه یه هډو نو یه کزو کزو راپورته شوي ده دپښتنو دلاسه باسی او لخنی پښتانه دلخان نو کران کوی مگر دانور پښتانه نو همداسی لاس ترزنی ورته ناست وی او زدی ژړي ورته کوری او یا خپله مخکه له نورورا گرزولی نشی مگر خپل تور یا لیتوب نو پریوه بې وزلي تربور ښکاره کوی۔ خوشحال خان وداسي بې ننگوته خنگه ښه وایی :

یاد مرد غوندي شمله ددستار پریږده

یا په سر کړه الکه ښځه میز رو نسه

نو که څوك پرینه تریخی لری باید عبرت واخلی .

* * *

## مړنی څوك دی ؟

مړانی یا مړانی پخوا په پښتنو کښی ډیر لوی مفهوم درلود چانه چه به وویل شو " مړه سړی دی ! " نو دا سړی د هغو نولو خو یونو خاوند بلل کیده کوم چه دیوه حقیقی پښتون سړه لازم ؤ ' اوډي سړی نو په پښتنو کی یو خاص امتیاز او مقام لاره مگر له چاخخه به چه دمړانی صفت ورك شواوورته ویه ویل شو "مړه نه دی!" نو دپښتنو لی دد یر و اوصافو څخه به محروم باله کړه . خوخبره ' دلته وه چه دا " مړانه " کرم داسی شی نهؤ چه ل چا به سړی نه ترکاوه او یا به ئی له سړی څخه اخیست بلکه دا یخپله دسړی کارؤ چه دیوه مړه خو یونه به ئی یه لخان کې پیدا کړه بیا ه نو خلکو ورته مړه وایه ' او نه څوك پوازي په خپرو مړه کیدای شو مړونو چه به څه ویل هغه ئی کړل خوورو سته ورو ورو چه صحیح پښتانه له منځه ولاړل دمړانی هم نش نوم پاته شو. خواوس خوئی هغه نوم هم دپرلیز ارویدل کیږی ' خوشحال خان هم کښل چه له پښتنو څخه دا مهم صفت ورو ورو وروځی او نش نوم ئی اوریده ' نو پښتو ته دا مړه داسی معرفی کوی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرد به نشي پـه گفتار　　څو پیدا نکړی کـر دار
چه‌دی وښکنځی مردنه‌ئی　　که له تانـه وی په دار
چه څه دی خوانتقام دی　　د مر دانـو کـارو بـار
عفو هور نه لحای لر ینه　　چه نه عیب وی نه عار
چه غیرت ورڅخه نه وی　　هغه مرد نه دی په کـار
هـم مهره لری هـم زهـر　　ښه مـردان وی لکه مـار
چه هم تندر هم باران وی　　نـر هغو مـر دانو لحـار
مرد به غم دخپل هنر کـا　　نـه د زر نـه د د ینـار
مردبه غم کـادخپل شرم　　دعـزت د اعـتـبـا ر
نا مر د فخر په‌نسب کـا　　مر دنه هور لری نه پلار

که سړی لحیرتی همدا پورته تعریف بس دی چه‌پښتونه‌مهره سړی وښیی او پښتانه ملفت کړی چه ارس صحیح مهرونه دیر لږدی، لحکه اوسنی مهرونه خبرې دیرې کوي، مگر عمل او کارئي هیڅ نشته، د انتقام حس خو بهتر یکښې مړشوی دی، که‌ئي څوك کور تالا کړی، لحماي ئي واخلی، وینې ئي وڅکی، زوی ئي مړ کړی، غرمری څوك نشته چه دي ظالم ته‌ووائي «ولی؟» نو به‌بوه قوم کښې چه د «ولی» سړی نه‌وی له دا سې قوم نه په نوره مهر انه څوك غواړی؟ دخوشحال خان په اصطلاح دداسې چاچه‌ار اوښکې تول تینگې تینگې لری، خپله هره مهر انه حتی قومیت په پیسو خر څوی، نه دشرم غم ورسره وی نه‌دعزت او اعتبار!؟ څوك په‌بیزو او شادو داسې لوبې نه کوی لکه پیسې چه‌ئی به‌دری کړی زلمیان ئي دپیسو دپاره قربانی کیږی، سپین زیری ئي دپیسو دپاره استعمالیږی. وطن ئي دپیسو دپاره پر دی کیږی، دي چاته به څنگه مهره وو پالی شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو شحال خان هغو پښتونه چه میړانه یې ازې په ښو ښو کمالیو کښې لټوی داسې پېغور ور کوی :

که مردی دې په دستارده په منډ وسه
سکه مردی دی مبارك برېتونه برسه

مړلی هغه څوك بولی چه په غم کې مردانه وی او د سختۍ په ورځ لاس اوپښې سره ورك نه کړی او وار خطا نه شی :

مردان هغه دی چه همت ناك وی  پهره چار کې چست و چالاك وی
که غم بري راشي پروا دغم نه کا  خوازه له هره چا په زبست وزوالك وی

بل ځای څنګه ښه وائی :

داده زړونه فراغت وی په ښادی کښې
چه به غم کښې مردانه شی زړه هغه

پښتون میړه باید هرڅم خیال نه وی او نه ئې خپله اراده دبل په ارادې پورې تړلې نه وی خاك به هرڅه هرڅه وائی خو پښتون میړه به خپله اراده اوعزم ترسره کوی اودد. زړه به دخلکو به خبرو لرو بر کېږی نه ' نو ځکه خوشحال خان چه صحیح او میړه پښتون دی خپل زړه داستقامت داسې مثال راوړی:-

دما ام دبرې خبرې لور په لور توری لښکرې
زړه مې نه خوځی له ځایه غر خوهسې وی که نه؟

بل ځای دخپل زړه لوی والی داسې بیا وی :

د جهان غمونه واده پکښې ځای شول
شکر دا چه زړه ئې لوی را کړو ما هم

خوشحال خان وایې په سربو کښې فرق دی' ټول یوشان نه دی او نه ټول میړونه یوراز زړونه لری' خوخوك چه رښتیا میړونه دی دهغو زړونه ډېر کلك وي اودژوند دهر ډول مشکلاتو تحمل کولای شی' وایې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سره سم دی واده مې ـ ړونه  نه سره سم دی د هر چا زړونه
زړونه هم هغه ګنه چه لکه غرشی  که بـاندې راشی هزار غمونه

مېړه هغه څوك دی چه د تنګشې او سختۍ په وخت کښې نه بایلی هرې سختۍ نه ځان ونیولای شی نو خوشحال خان وایی:

په جهان کښې که مردان دی هم هغه دی
چه وسختې وته ونیسی ځانونه

مړنی پښتون باید په تولو مشکلاتو کښې زړور وی او په تولو کارو نو او اقداماتو کښې ټینګ عزم ولری، متردد او وسواسی نه وی چه یو کار شروع کړی او بیا په هغه کښې متردد شی او یا د هراس او وېرې له کبله ئې پرېږدی داد مړنی خوی نه دی، نو ځکه خوشحال خان ویلی دی:

ګیدړ بې زړه دی وهم وسواس لری  مزدی زړه وردی کله هراس لری
هغه مزری نه دی هغه ګیدړ نه دی  په کار و بار کښې چه زړه کوز پاس لری

دغم د زغملو د پاره خوشحال خان ډېرې ښې لیارې ښودلی دی خو په آخر کښې د خپل زړه زغم ئې هم ویلی دی:

غم په زړه کښې بد غلیم دی  څو نوا نېږی خوا ره وه ئې
یا غمخوار چېرته پیدا کړه  ورته کښېنه ښکاره وه ئې
یا تېره تو ره را وا خلـه  څو چه وی همو ار ه وه ئې
یا فریاد فریاد ناری کړه  زاړه تـار پـه تـاره وه ئـې

یا خوشحال خان غوندې زړه راوړه
ځای ئـې کـړه انبا ره وه ئـې

## مړنی به له خپله قوله نه اوړي:

مړنی پښتون باید پرخپل قول ټینګ ولاړ وی او له چاسره چه عهدو کړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید هغه عهدترمر که هم بل لکړی، خوشحال خان ترهري ورانی دقول ورانی سخته بولی چه وائي :

و نورچاو ته وران مه وایه خوشحاله
چه په قول، عهد وران شی وران هغه

بد قولی اوبد عهدی دبې شرم نښه بولی :

یوه نخښه د ر ته وایم دبې شرم  په وعده په قول نه وی نرم گرم

اوداد مرد اونامرد ترمنځ لوبه ممیزه گڼی ؛ ځکه چه نامرد په خپل قول بندنه وی، ان یو څه وائی سبا بل څه ، مگر مېړنی داسې نه دی، مېړنی څو ژوندی وی پرخپل قول به ولاړوی ،

خوشحال خان وایی :

مردبه خپله وینا ژغوری څو ژوندی وی  د نامرد وینا نـن شتهٔ، نشتـه سبا

بل ځای دمېړه کربکتر اوشخصیت داسې بیانوی :

مرد هغه چه همت نـاك بر کت نـاك  دعا لمه سره خوږ په زیست وژواك
مخ ئې مخ، قول ئې قول، عهد ئې عهد  نه دروغ ، نه ئې فریب، نه تش تیاك
لږ ویل، ډېر ئې کول په خاموشی کښې  دغنچې غوندې خوله ده که سینه چاك

## دمېړنی لـږ ویـل ډېـر کـول وی :

خوشحال خان دمېړنی یو بل صفت دابولی چه ویل ئې لږ او کول ئې ډېروی داسې نه چه «ډېروابی لږ خېژی» اوس اکثرو پښتنو ته دادخو لـې خبرې وسپږی په خوله هرڅه وابی او خوراغـتی غـتی مسئلې فیصله کـوی اوډېرې لویې لویې نظرئې ور کوی، مگر دعمل په میدان کښې صفروی او دخپلو ویلو زرمه برخه عمل هم نه لری، نورخلك کـار ډېر کو ی خبرې لږې مولږ خبرې ډېرې کوو کـارلږ، نوخوشحال خان وایی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـرد بـه نشي پـه گفتـار  خوپیدا نه کړي کـر دار

خوشحال خان د کس ارنا کس فرق هم په دې خبره کوی چه نا کس گفتار لری کر دار نه :

و گفتار وته ئي مه غړوه ستر گي  په کرده په عمل گوره کس نا کس

بل ځای دمړانې داسې صفت کوی :

مړنی په کرده دېرو بل ئې لږ وی  دنامردو لږ عمل وی دېرئې لاف

## مړنی به خپل پت ساتی :

خوشحال خان پښتنی پت ساتل دمړنی پښتون وظیفه بولی که څه هم په دې لاره کښې ئې سر او مال تول ولاړ شی :

سر دې درومی مال دې درومی پت دې نه ځی  دسړې دچارې کل خوبی په پت ده

مړنی به سخی وی : خو دسخا څخه دامقصد نه دی چه سړی باید اسراف ته ملاوتړی او خپله دنیا په چرسیانو یا بنګیانو یا قمار بازانو وخوری یا ئې په خوشې مېلمستیا گانو خرڅه کړی، داسخانه ده بلکه علاوه پرلودگی لویه گناه هم دی، سخا داده چه سړی دبې وزلو سره مرسته و کړی ، دبو بتیم سرپټ کړی او دیوې کنډې نس موړ کړی او یو غریب ته لاس ورو غځوی ، مگر دېر ځله دبې وزلو سره بې پیسو هم مرسته کېږی ، لـکه یو بې سواد ته چه لیـکل او لوستل ورزده کړی، یو بد کـار له بدې لارې راو گرزوی یا نور ..

نو خوشحال خان مړه پښتون دهغه بازغونډې گمی چه هم ئې په خپله خوری او هم ئې نور ته ور کوی او نامرد سړی هغه مېږی او هغه مېږك بولی چه هر څه په غار کښې ساتی،

چه وهل، خوړل، خورول کـاهغه بازدی پاشا هین دی

چـه ئـې سودې لـره  ورینه یا مېږی دی یا فاره

په تېره بیا دملی مشر یا سردار سره خودا خوی لازم کښې! څنگه چه دی په خپله هم ملی مشرؤ، نو دخپل ځان په باب کښې داسې وایی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه‌ئې وشندی خوشحال په غرور غږو
لا به کله هغه ګنج ور کوې بخته !

بل‌ځای دځوان سره داخوی داسې لازموی :

چه کټل، خررول، بخښل کاځوان هغه
چه تـوره لـری دتـو ری خـان هغـه

خوشحال خان هغه‌سړی نامرد ګڼی چه یوچا ته‌څه ور کړی او بیا هغه وریادوی‌او منت وربانديې زدی‌او یاهر چاته دهغې‌ښېګڼې ذکر کوی، نووایی :

نامردهغه‌دی چه چاته څه‌ور کا  منت دپاسه وربانديې زبر کا
په‌رانځ کښې‌ومره‌هغه‌دارومه‌خوره  چه‌په منت ئې وتا څوك ور کا

مړنی بـه رښتین وی :

مړنی سړی باید تـل رښتین وی اوهیڅ وخت در واغ ترخولې وته باسی خصوصاً پښتون خوبایدهیڅ کله خوله په‌دروغوعادت نه کړی، خوشحال خان داخوی ترهر خوی دمېړه دپاره ضرور ګڼی، بلکه هغه خوله چه دروغ وایی له سره خوله نه‌بولی وایی :

چه دروغ ترخولې وباسی کـله خوله ده
چه رښتیا تر خولې و باسی خـو لـه هـغه

دخوشحال خان په‌نظر کښې دروغ وبل دغولو خوراك دی اودروغ جن هم دسپی په شان یا دوی :

په رښتیا دبل غوږیږی دزده غو نـه  دروغ‌جن‌خوری لکه‌سپی‌دغولوسو نه

په‌رښتیا رښتیا خبرو که هم‌عالم‌دچا دښه‌منیږی‌باید یومېړه پښتون ترروښتیا خبرې تېرنشی دځویسویایو منصب دپاره باید حقیقت ترپښو لاندې نه کړی، په‌در واغو دچاصفت ونه وایی . په چا کښې چه یوصفت نه‌وی دی ئې له‌ځانه پوري ونه تړی، چاپلوسی، غوږه مـلی ، تملق دذې تولـو اساس درواغ دی، یوپښتون باید په هر کـار کښې او دهرچا سره رښتین‌وی، اورښتیا ووایـی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پەدرواغو ځوك ونه غولوی، خوشحال خان د پښتنو الی بوسنبول دی داسې وایی :

چه خوان وم دایم زوره شوم پەرښتیا رښتیا خبرو

عالم دلخان دښمن کړم که داعیب دی هم دې وی

دروغ ویل اکثره لەطمع یاوېرې څخه پیدا کیږی، دروغ جن به یاله چاڅخه وېرېږی چه دروغ وایی او یا به څه طمع لری، خو که څوك خوشحال خان غوندې مېړه پښتون وی هغه به هیڅکله نه لەچا څخه ستر که کوی او نه به ئې چانه ستر کې وی، ځکه چه د پښتانه په ختیه کښې وېره او طمع نشته، څوك که ئې لری هغه اصیل پښتون بلل کیدای نشی، نو ځکه خوشحال خان وایی :

دروغ ویل هغه کاچه ئې د ېره وی یا طمع

خوشحال پەدا اړنه دی حق بەوائی څوئی سرشته

ددروغجن شپه هیڅ کلەنه سبا کیږی، تل به ئې ژوند تیاره وی :

ورځ ئې مالیدلې نەده په درست عمر خدای بەنه کاندی سبا ددروغجن شپه

خوشحال خان دراستی اورشتیالار هغه لاربولی چه هیڅ گمراهی به کښې نشته، او نه رښتینو نه دجهان دبد خو اهی څه خطره وینی، ځکه چه خدای درښتینو ملدی او چاسره چه دخدای نصرت ملوی هغه په هیڅ میدان کښې ترشانه راځی او هروخت او هرځای به سرخ رویه وی، دی وایی :

راستی لار ده باد شاهی پکښې نشته گمراهی

در ښتینو پسروا اشته دجهان په بد خواهی

درښتینو سره مل وی تل نصرت دآلهی

درښتینو ځای جنت دی دقرآن پەگواهی

دروغ ویل د کمذات خوی دی یاد کمزوری او دوزی سړی عادت گرزی لمړی به دخپلې پستی له سببه او دوهم به د کمزوری له جهته اودریم به دطمع پەغرض درواغ وایی. مگر څوك چه صحیح پښتون وی هغه به نه پستی کوی او نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به کمزوری دده قوی روح کمزوری کولای شی او نه به هیڅ وخت چانه طمع کوی ، لوڅکه درواغ هم د صحیح پښتانه له خولې راوتی نه شی ، خوشحال خان وایي:

دروغ دچادی؟ د کمذات دوزی  یاد کمزوری په قسرت لیزی
چه دائي نه وی درواغ به ولي کا  دروغ که کاندی خوزئي به سبزی

که سړی هر څومره ډېر دولت او ثروت ولری او یا ډېرې لحمکې او جایداد ئې وی خو چه دروغ وائی خوشحال خان هغه مختورن ګڼی او دولت نشی کولای چه د دروغجن د دروا غو عیب پټ کړی ، لحکه وایی :

که مختورن دی خو دروغجن دی  رښتنی کله په مخ خیرن دی
سفت ئې مکره دد رو غجنو  که د ګنجونو دولت خښتن دی

بلکه خوشحال خان رښتیا ویل سره زر بولی او لکه په سروزرو چه په هر بازار سودا کېږی او هر څوك ئې قدر لری او خریدار ئې دی رښتیا ویل هم په هر لحای کې لوړ مقام لری او رښتین سړی نه هر لحای د اعتماد او اعتبار په ستر ګه کتل کېږی او د ده خبرې منی ، خوشحال خان د اسره زر داسې ستائی :

غشی چه سم وی ګذار پرې بنه کېږی  چه بنه سم نه وی ګزار پرې نه کېږی
رښتیا په هر څه کښې لکه سره زر دی  په لاس که زر لرې په زر هر څه کېږی

لوڅکه د پښتنو والی په قانون مړنی هغه چا ته ویل کېږی چه د مړانې په نورو اوصافو علاوه رښتنی هم وی او درواغ ئې تر خولې رنه وزی ،

## مړنی یا لوړ همت لری :

د پښتنو والی قانون هغه څوك د پښتانه او مړانې له نیمیته یا سی کوم چه لوړ همت ونه لری ، لوړ همت دادی چه هیڅکله د ژوند مشکلاتو نه ملا نیته او نورو انسانانو ته د احتیاج د پاره سر نیت نه کړی که هر څو سختی او خوا ری ریاندې راشی خو همتناك پښتون به لحان نه بایلی ، خوشحال خان وایی :

چه تنګشه در یاندې درشی که مېړه ئې
په تنګشه کې د خوار په لحان ور مکره

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې چه دخوپیسو دپاره پرخپلو بد خواهانو دښمنانو خپل ژوند خرڅ کړی لکه لحینو بې ننګو او ناپوهو پښتنو چه بووحت پرمغلو، بل وخت په انګریزانو اوورو خپله پښتنواله، خپله پښتنی محکه، خپل غښتلی زلمیان خرڅ کړی وه، یائې خرڅوی ... دې حلکوته مونږ صحیح پښتانه نشوویلی اونه ئې پښتنواله په خپله پا که لمنه کې پرېږدی، لحکه چه مړنی پښتون که له لوږې او خواری مړهم شی پښتنی همت ئې دا نه منی چه دپردو نوکر شی اوباهغوته خپله پښتنی محکه پرېږدی، اویا دهغو دغرض دپاره دخپلو زلمیانو وینې توئې کړی ...

لحکه خوشحال خان دکېدې دپاره د پردی چامنت منل لوبه بې همتی ګڼی چه وائې :

کله منت اخلی دیوې ګېډې دپاره
هرچه همت ناك دی که په کورلری جوینه

دژوندون تولې بنادی او خوښی په عالی همت پورې مربوطې بولی اودنیا تول لکبتونه دبې همتی نتیجه ګڼی چه وائی :

دسړی هر لبره بنا دی ده — چه په زړه کښې ئې همت شته
چه همت د سړی نه وی — مهیا ور ته نکبت شته
سر هاله په ننه ښه دی — که دسر سره عزت شته
دسړی چه عزت نه وی — د ژوندون ئې څه حالت شته

خوشحال خان دهمتناك سړی بوه خاصه ممیزه د ابولی چه دچامنت پرلحان نه وی او که دمنت سره هرڅومره قیمتی اوګرانبها څیزهم ورکول کېږی، هېڅ ئې منلای نه شی، څنګه ښه وایی :

که ئې نه په منت مومې وائې مه خله — که دچا په باغ کې بوټی د کېمیاوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل لحای خپل اور همت دي دپاره چه اورو پښتنو نه بو مثال او نمونه شي، څنګه ښه بیا وایي :

دمنت دارو که مرم په کار مي نه دی  که علاج لره مي راشي مسیحا هم
دفر ښتو آمین منت دی په دعا کښې  لاجرم ورلحیني یته کړم دعا هم

دچاچه همت اوروی هغه تل خپل ابزشي دبل تر دپ شي به ښه ستر که ګوری، خپل وچه دوری ئي دبل تر سالنو تو خوښه وی او خپلي سپېري میرې دبل ترباغو ورباندي ګرانې وی، خپله ژبه دبل تر ژبې ورنه خوږه ا پسی خوشحال خان وایي :

دخپلې خوږې نفس د خمچو  نه چه غمینه د بل په کچو
له اور دخپل نفری دلند وپچو  نه اور دبل نسفری د دوو وچو

همداد اور پښتنی همت اغېزه چه خوشحال خان خپله دشنو بو غر که داورنګ زېب له پاچاهی سره برابره بولی اوتولو پښتنو نه دا توصیه کوی چه ناسې باید خپله آزادی که څه هم دشنوبو دغر کې سره وی په هغې پاچاهی چه دغلامی رنګ واری ورنه کړی، خوشحال خان چه خپله دشنوبو غر که داورنګ زېب تر پاچاهی ښه ګنی علت ئي همدادی چه د شنو بو دغر کې سره آزاد ژوندون شته، وایي :

چه سړي شنو بې چښم په وخت داوری
پاد شاهی داورنګ زېب ده زما غر که

بل لحای خپل پوزی ته داورنګ مقام اولقب ور کوی اوداد پښتنوالی هغه عالی احساسات دی چه هیڅ پښتانه ته ددې خبرې اجازه نه ور کوی چه بل چانه سر تیټ کړی اویا بل چانه دمادی شیانو اوخو پیسو د پاره تسلیم شي لحکه خوشحال وایي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه خوشحال بـا ندې لـاستی کـا
دا پـو زی تـه دی او رنگ دی

همتناك پښتون باید وزې ستر گې وه لری اونه ئې دبل چاپه ستر خـوان کښې ستر گې وی او نه باید د کیتی طمع دپاره خپل حیثیت تیټ کړی اویا خپل شخصیت بایلی خوشحال خان دانکته داسی ښیی :

که درست باغ د مهوو دك ومـا نه کښیږدی
نـر هـمت پـو ری می څـه دی پـو خـړی

خوشحال خان دانسان قدر او منزلت، دانسان لوړ والـی اوتیټ والـی، دانسان اصلوالی او کم اصلوالی پوازې دهغه یه همت پـوری مربـوط گڼی، که څه هم نې طبقاتی امتیازا توته دیمره قائل نه دی، خوبیاهم ترهغه اصیل سړی چه همت نه لری هغه مرګی چه همتناك وی بهتر بولی اوښه ئې ستایی وایی :

که همت او حمیت غیرت پـکښې دی نـر څښـتنه نه بـهتـر گڼـه غـلا م
یه طلب کې که سستی نه وی باور کړه دژوندون اوبه به بیا مومی یه کـام

بیا وایی :

چه همت دسړی څوقدرلې هوتیږه دنمیز پـه تله هر سړی تـاله شی

خوشحال خان دتولو کـامیابو سړیه همت کښې پټ گڼی، اوڅکه وایی :

دهمت یه پال وپر سړی الوزی مرغه پورته الو نه کا یه وزرو

دهمتناك سړی نظر دهغه دهمت یه شان لوړوی، ودو ودو څیزو نـوتـه نه گوری او نه واره واره څیزونـه دی لـه خپله مهم غرض او مطلب څخه گرزولای شی، یه دې میدان کې خوشحال خان خپل ځان نورو پښتنو تـه نمونه کوی، وایی :

لـکه باز یه لوی لوی ښکار زما نظر دی نـه چه گرزی گونگټ نیسی باد خورك یم
چه یه غوښو ئې روز گار هغه زمری یم نه چه ولی، وابنه خوری هغه مزك یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخوشحال خان پهعقیده هغهڅوك چه همت لری هغه هیڅکله دبل د لاس کتې نه نه کوری، دخپلې مټې پهزورژوند کوی دبل لاس نه کتل سپېتا نه بولی، نو وایی :

خسا جو ته مر دار هډونه سپی گیدړ شرمنې کفتار خوری
دمزر یو هنر دا دی چه با صبر یا خپل ښکار خوری

څوك چه همت لری هغهنه یوازې دبل دلاس کتې نه نه گوری بلکه کهتې دلاسه وشی دخپل توان سرهسم دنورو سره کومك او معاونت کوی دامطلب خوشحال داسې ادا کوی :

چهخپل بارپه هیچا نږدی باردبل وړی هم هغه سړی لایق دی دنیا

په آخر کښې خوشحال خان خپل نول نظریات چه داود همت دستایلو دپاره ئې لری پهدې یوه بیت کښې ئې خلاصه کوی او پښتنو ته توصیه کوی چه په هر قیمت چه وی باید همت پرېښږدی نو وائی :-

کهآسمان دې دمزری پهخوله کښې ور کا
دمزری پهخوله کې مه پر ېږ ده همت

داد خوشحال خان هغه وصیتونه وه چه پښتنو ته ئې داود همت پهباب کښې کړی دی او هغه هم دې دپاره چه داود همت ئې دمرانې مهم ر کن بللی دی او مړانه دپښتنوالی ټهنګ اساس دی ، او خوشحال خان خومرنسی او هتناك پښتون غواړی، دالاخه چه دنامرد سړی ملګری ئې هم خوښه نه ده که څه هم دمکې پهسفر کښې وی :

دنامرد سره مکې نه رسید لسی
ښه دمرد سره پهبیدی بید یا ورك

بلکه خوشحال خان تر مرګ وروسته نه غواړی چه حتی قبرئې د نامرد دقبر سره اړخ پهاړخ وی او که دمرد پښو ته پروت وی هم خوشحال دی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



پس له مرګ څه ښېګړه تر قدم ښه یم
ګورمې مه شه د نامرد له ګوره سم

غنیمتلوالی په څه دی ؟ خوشحال خان وایي :

با کشتی دزور ورو سره مکره
با ددوی غوندې بیدا کړه مرونه

یو معنوی غنیمتلو الی دی اوبل ظاهری ، معنوی غنیمتوالی خو په علم او هنر اړه لري چه په دې باب کښې خوشحال خان دمخه د پښتنو سره وزغیده او د علم او هنر ضرورت ئې پښتنو ته ثابت اوخر ګند کړ ، پاته ظاهری قوت شو چه هغه په توره مربوط دی مګر که لږ دقیق شو نو دا به راته ثابته شي چه دا دواړه غنیمتلوالی له روغتیا څخه زېږي او په روغتیا سا تلی کېږي ، که څوك ناروغ وي هغه هیڅکله دروغ سړی په شان ښه فکر نه شي کولای ، ځکه چه ښه فکر په روغ او سالم دماغ کښې پیدا کېږي او څوك چه سالم دماغ نه لري هغه هیڅ وخت په علم او هنر کښې کامیابېدلی نشي او نه د معنوی قوت خاوند کېدلی شي همدا شان د تورد په میدان کې روغ او تندرست زلمی تر نطور او ناروغه او بې سپکه زلمی ښه نوره وهي ؛ روغتیا نه یوازې د توري په میدان کښې په کار ده بلکه د اجتماعی ژوندون د حرکت سته او اساس په همدې نکته ولاړ دی اول ژوی او انسانان ترڅو چه روغ صحت مند او تندرست دی نو ده کامل ژوندی اطلاق یې کېدای شي ، ناروغه انسان علاوه نیم ژوندی دی او د ناروغو انسانانو کارونه تل نیمګړی وي ، ناروغه انسان علاوه پر دې چه د ټولنې او جامعې پر اوږو بار غړی دی او د خپل قوم او ملت په درد (لکه چه ښائي) نه خوري . په خپله هم د خپل ژوند څخه حظ اوخوند اخیستی نه شي ، تل ئې ژوند په ضرر وي . نو د دې خبرو له کبله خوشحال خان پښتانه دې مهم اصل ته متلفت کوي او ورته وایي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه دی روغ صورت دی　　چه بهتر تر سلطنت دی
د دنیا دولت که ښه دی　　د دولت نه ښه عزت دی

لکه چه پښتانه د هر لږ دې خواته ملتفت دي د خپل صحت سره د هر ډول بروائي کوي ، خصوصاً د خپلو ماشومانو او کوچنیانو د روغتیا سره ټینګه علاقه هم نه کوي . زه دانه وایم چه اولادونه ندرست نه وي ، مګر دا به ښکاره ویلی شم چه پښتانه هغه ضروریات چه د روغتیا د ساتلو د پاره لازم دي نه راغونډوي او نه د هغو شیانو څخه چه روغتیا نه مضر دي لحانونه ژغوري . مثال یه تو که یوله هغو شیانو څخه چه د روغتیا د ساتنې د پاره لازم او د هر ضروري دي نظافت او پاکوالي دي چه د انظافت نه پوازې د لاسو پښو ومخ بانور بدن منځل او پاك ساتل دي بلکه د کور پاکوالي ، د کلیو پاکوالي ، د لارو پاکوالي او هر څه چه د انسان ژوندون سره علاقه لري باید پاك اوسي . ي او د پاکوالي حال ئي وسائل شي خوشحال خان په څه خوږو الفاظو د امثلت د پښتنو غوږ ته رسوي چه وایي :

خونه چه پاکه وي پري بر کت اوري
وربانسي هر کله عزت دولت اوري
پاکي چه نه وي په هغه خونه کښي　　وربانسي واړه بلا آفت اوري

مګر له بده مرغه څنې پښتانه وینو چه پر سیره پردي چه د کور ، کالیو او لوښو پاکي او نظافت نه ملتفت ندي او توجه نکوي پښې اولاس د سر او زیري وپښتان ئي هم خیرن اونا پاکوي چه په خپله بد مملو میزي او د نورو د کز کي باعث کیږي

استغفر الله . زه دانه غواړم چه حیل قوم یا د قوم ځینې افراد تحقیر کړم او یا ئي په سپکه یاد کړم ، لکه چه زه په خپله پښتون یم او په پښتنو الله افتخار کوم مګر دلته زه غواړم د خوشحال خان د افکار و ترجمانی و کړم چه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



روغتیا او صحت ته په څه درنه سترګه کتل او دپښتنو د پاره ئې ترڅه اندازې ضروري څیز باله او پښتانه ئې ددې لوی نعمت ساتلو ته په دې رازمتوجه کول چه ورنه وبل به ئې :

چه بهتر نرهر نعمت دی — که نعمت دی روغ صورت دی
چه ئې دا نعمت روزی دی — سر تر پایه عنایت دی
که ئې پیژنې ته قدر — روغ صورت لوی غنیمت دی
ستا د ګوښې لحان پر ازن — ترجهانه زیات قیمت دی
که دی لحان نه وی جهان دی — په عدم ئې اشارت دی
دا جهان لکه معنی شو — ستا وجود ئې عبارت دی
چه په لحای ئې عبارت وی — د معنو هسو نیرهٔ قوت دی
د صورت د خوشحالیه — مدار واره په صحت دی
چه صحت د صورت نه وی — ورته خس مال ودولت دی

خوشحال خان دانسان په هستۍ کښې د صحت خوندا و حلاوت نه ډېر قائل دی دده په نظر کې که صحت نه وی، نور هرڅه چه وی ټول هیڅ دی، او لحکه پښتنو ته داخبره په شعری ژبه بیانوی، ورته وایی : ـ

که ډېر دولت لرې ډېری هستۍ — دواړه دی هیڅ دی بې تندرستۍ
که یې پوهېږې خو تندرستی دی — چه حلاوت لری ستا د هستۍ

نو به دې ترتیب خوشحال خان پښتنو ته د توریالیتوب او مړانې او غښتلوالی توصیه پای ته رسوی چه په دې زمینه کښې دده دمذکورې خلاصه همدا جمله ده چه:

«پښتنو! توریالی، مړنی او غښتلی اوسی !!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان رایی : (٦)

# څنګه ملا؟ څنګه شیخ؟
# څنګه ملک؟ څنګه خان؟

ملائي به د پر تحصیل شي — شاعري ده له حکمته
ملکي څو بادشاهي ده — خاني هم له سلطنته
پیري لالو په پایه ده — ده له ډېره ریاضته
هفت اسمان کښې داواره — پښتانه له جنها لنه
هر سړی ورته ملا دی — چه به یاد کا څو آیته
چه پیر و هغه شاعر دی — قافیه غلطه کښه
هغه ... ورته ملک دی — چه کولمي ودی له محلته
خان هغه چه ار ... پر پوزی — په ز انګو کښې وهی لته
پیر هغه چه پسې دوومی — څو سر تو ری په دا لنه

له کومه وخته چه پښتون قوم دیو اولس په حیث پېژاندل شوی دی تل ئې روحاني او مذهبي مشران در اودل تر اسلام دمخه به داوظیفه « ریشی کانو » چه هم شاعران اوهم مذهبي لارښوونکي ؤ ، اجرا کوله به تر اسلام وروسته طبعاً داوظیفه ملایانو اوشیخانو په غاړه شوه ، مګر وروسته دروسته د ورو قوتونو هم دپښتون قوم په مقدرات کښې لاس پیدا کړ چه هغوی ته «خان» او «ملک» ورویل شو ، که څه هم هغه وخت چه د خلافت لحاظ یو نه حکومتونو رنګول یوه بله قوه هم زیاته شوه چه حکومتي اقتدارو، خو په ملي ډول هغه څلور قوتونه وو، چه دپښتنو هرڅه یعنی لار ښوونه او بدلاری ، اوددوالي اوقیتوالي حتی ژوند اومرګ ددوی لاس ته سپارل شوی ؤ ، چه دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



به هرڅه کول هغه کېدل او چه دوی به هرڅه ویل هغه به قبلېدل. په دې کښې شك نشته چه دې قوتونو ترڅه مودې پورې دقوم دپاره خورا اوډاوې خدمتونه وکړه خصوصاً روحانی او مذهبی قوتونو ، ځکه چه له دې څخه هېڅ پښتون انکار نشی کولای کوم خدمتونه چه ملایانو داسلام دپاره یاداسلام په لاره کښې کړی هغه دهېرولونه دی همداشان هغه لارښوونې چه د دین شیدا یانو خپل بې خبر قوم نه کړی دی اودوی ئې سمې لاری نه چه د دنیا او آخرت گټې په کښې وی رابللی دی ددېرو ستایلو وړ دی خصوصاً په پښتنو کښې دجهاد روح دروشن فکرو عالمانو دوعظونو او لارښوونو او برکت دی او په پښتنو کښې اکثر لوړ اومشهور مجاهدین هم دعلماؤ او روحانیونو له طبقې څخه پیدا شوی دی،مگر دافسوس خبره داده چه ورو ، ورو لحینی داسې کسان پیدا شول چه ځانونه ئې دې مبارکو طبقونه منسوبه ول، مگر خوی ئې هېڅ دوی ته نه پاته کېده اونه حقیقی علما اوروحانیون وو . فقط دوی د صحیحو علماؤ او روحانیونو پاك نومونه اوسپېڅلی مسلکونه و ر لکه داره کول او داپاك مسلکونه چه خدای دانسانانو داخروی اودنیوی سعادت دپاره پیدا کړی وه یوازی دنس دکولو او پیسو پیدا کولو اوخالص مادیت دپاره وسیله کړه او حقیقی لا ره لحنې پاته شوه. خوداسی متقلبینو دخوشحال خان په وختو کښې دېر قوت منډلی ؤ ، اوعلاوه پردې چه حقیقت ئې پرېښی و ، اوخپل پاك مذهب او خپله سپېڅلې طبقه ئې بدنامول خپل قوم ته ئې هم سمه لارنه ښودله اویوازی ئې هغه لاری ورښودلې چه دوی ترېنه استفاده کوله . نوځکه خوشحال خان دا مظاهرة کوونکی ترخپل قضاوت لاندی نیسی اودقلم په څوك ددوی ترتنه او اوغند نه کوی چه موږ دلته دخوشحال خان نظریه اوعقیده دده دوخت ددې څلورو قوتونو په شاو خوا کښې چلاجلا راوړو چه خوشحال خان په څه طریقه داد حقیقی ملایانو او رشتینو شیخانو بدنامو ونسکی پښتنو ته معرفی کوی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځنګه ملا؟

خوشحال خان هغه کسان چه حقیقي ملایان نه وي او په دروغو د ځوییسو د پاره لحا لونه عالمان ښکاره کوي او په دې راز د خدای مخلوق له لاري باسي ، په ظاهره لحان خورا متقي او ښه سړی ښکاره کندوی ، مګر په پټه ئې خلقو نه دام ایښی وي ځنګه ښه په پښتنو پېژني چه وایي :

نادیده چه منیه (۱) اولی — لحان ملا کاندی مشهور
سفله ټول کاڅو در همه — تر خواجګانو شي مغرور
دروغجن ترتو په ور شي — د کابل کاندی مذکور
پټی د کی پیا لي ا خلی — ښکاره نه خوری پوانګور

داسی د علم او علماؤ د ښمنان خوشحال خان دغلو په نامه یادوی- رښتیا هم داسی ناقص کسان د حقیقي ملایانو او علماؤ ، نومونه غلا کوی مګر علم او پوه نه لری دی وایي :

هسی غله را ګډ شول په دا دور آخرین کی
چه پیل له انبالیه پټوی په خپل آستین کی
زردانې تسبیح لری شملې د وروسته پر پښتی
لوی کتاب په لاس کښې بل سپال له ګنی په دین کی

بل ځای وایي .

عالمان دی رهزنان چه غواړی نفادی — عام عالم لره زده کړی خو دلیله

همدا شان هغه څوک چه د علم دعوه کوی ، مګر عمل ئې له ویلو سره برابر نه وی په ښه ستر ګه نه ګوری بلکه د داسی چا په حق کښې وایي :

کتابونه د آسمان د ځمکی اولی — په عمل ئې فرق د ځمکی د آسمان دی
په باطن ئې زړه ګمان سره لړ لی — په ظاهر و بل په ز به مسلمان دی
په خبرو کښې ئې فیض مولده نشی — مذ بذب په قول ، عهد په پیمان دی

(۱) منه دفقه یو کتاب دی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نېره بیا هغه اشخاص ډېر بدستائی چه دنس دپاره قرآن تر پښو لاندې کوي باعمل نه پرې کوی ' نو وایی :

په کاته شم و عالم و نه حیران　　چه دنس دپاره څه کادا نګان
تل قرآن دوراندې اینبی قرآن لولی　　ولی هیڅ عمل ئې نه وی په قرآن
هسی چارې ئې پیدا شی له وجوده　　چه په فکر ذکر نه وی دشیطان
په کوم لوری پسی لحم چېر نه ئې غواړم　　د کېمیاغوندی نایاب شول دانایان

هغه څوك چه لحن ملا بولی او دملا بوږ دعوه کوی باید هیڅکله حق بې نه کړی لحکه چه حقیقی عالمان په ډېرو مهلکو لحایو کښې چه دمرګ خطره وه هم نرحقیقت اوحق ویلو نېرشوی نه دی څه داچه دخرپیسو دپاره به ئې حقیقت نه شا کړي وای ؟ ! خوشحال خان حق بټوونکو ملایانو ته وایی :

په ملا توره تیاره شوه چه حق پوش شو　　که په لاس ئې فتاوی وی سراجی
علم څه دی چه معنی کښې کښینه دی　　کاسه هم و راره بویه خراجی

بل لحای هغه ملانه چه حق ویونکی نه وی داسې ښیږي کوی :

دتحصیل اود ترنیل بلا پېده شه　　چه ملا دحق ګوښه په کار ساکت دی

هغه څوك چه دعلم دعوه لری ' مګر دخولې اوزده لاره ئې سره یوه نه وی که هرڅو ډېر لمونځونه کوی لاهم دخوشحال په نزد بې اودسه دی او کوم عالم چه دزده اوخولې ګفتاراو کردارئې سره یو نه وی دهغه پېباب کی داسی وایی:

کلمرند غوندی ملا داقف درازدی　　د کتاب پېمسئلو زبان درازدی
زه مربی دهغه چایم تری لحار پېزم　　چه دزده سره ئې جوړ دخولې آوازدی
چه ئې رو ' دخولې له زده سره یو نه وی　　که په هر لمانځه اودس کا پېنمازدی

هغو ناقصانو ته چه حقیقی علمانه وی خود علماؤ ' په جامه کې ئې لحانو نه څر ګند کړي وی ' دهیچا به مال صرفه نه کوی ' حتی د کونډې ونډې او یتیم مال هم لانه پرېږدی ' خوشحال خان ددوزخ اواور خوړونکی خطاب ور کوی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل مال به نرس به سرفه به بیم خوري . دبل غم نه کړي که درست که نیم خوري
به کور دکونډۍ رنډۍ دینیم خوري ملا د اولسي اورد جنیم خوري
په پای کښې نولاس دغندني او تر تني څخه اخلي ملانه توصیه کوي چه مغرور
کېږه ۵۰ :

که ډېر والاشي په یار سایې کښې سیال دې څوك نه وي یه ملایې کښې
غافل هیڅ مه شه دنفس لـه مکره بلا پرېږوزي پـه اشنا یـې کښې

دادحقیقي ملایانو اوعلماؤ غندني نه دي ، بلـکه خوشحال خان پښتنو ته
هغه کسان ښیي چـه ملایان نه وي . خو دملایانه په جامه کښې را ونلي وي .
اودحقیقي ملایانو رنګه بدوي ، نوځکه پښتانه بایـد دخوشحال خان خبرونـه
دقیق شي دحقیقي ملا اوغیر حقیقي ملافرق سره و کړي اوهغه څوك عالم وپېژني
چه په حقیقت سره عالم وي ، نه داچه دملانوم پرلخان کښېږدي خو په حقیقت
کښې بـلاري !!

* * *

## څنګه شیخ ؟

دخوشحال خان په زمانه کښې تر ملایانو لاپه شیخانـو او پیرانـو کـې
ډېر داسې کسان وه چه فقرئي شرمولي ؤ، اردیپـو تولولو او خلـکو غولولو
دپاره ئې دا آسانه لار موندلې ده لځکه چه هغه کسان چه علم به ئې نه درلود
اودعلماؤ نومونه به ئې پرلخانو اېښوول او خلق به ئې غولول که څه هم به بدوالی
کښې ئې لهدې ناقصو پیرانو اوشیخانو سره ډېرفرق نه درلود، مګر داهم ثابته
خبره ده چه دهغو کـار دخلـکو دغولولو دپاره ډېر سخت اومشکل ؤ، اوهیڅ
امـکان ئې نه درلود چه هر جاهل اوناپوهې کـارته غاړه ایښې وای، دالځکه
چه لحینې داسې ښځونه به راتله چه د دوی عیبونه به په خپله څر کندېدل
او یا به لحنې داسې لحایونه راغله چه هغوی به امتحان ته کولوته مجبور ېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



تش په زړه پرېښودلو او تسپې اړولو هغه کار تر پایه نه چلېده خو د متقلبو او غولوونکو شېخانو کار ترلومړی دلې ډېر اسان اوبې اشکا له ؤ ، فقط یو چلتار تر لاوېږ اوزد کمیس اغوستل او سر کې چپه چپه کول دېښتنو دغولولو دپاره کافی وه ، نو لکه خو شحال خان مجبور شوی دی ، چه

داډله هم خپل قوم ته معرفی کړی چه دا سی متقلبین و لشی کولای ېښتانه وغړلوی او باد حقیقی شېخانو او دخدای د دوستانو نوم وربد کړی ، هر ا خوشحال خان حقیقی شېخان هم پېژنی تاسې ګواښ ځنګه ښه ئې ستایی :

د درویش نوزده به نه رسی داوا ره  آینه د سکندر که جام د جم
د درویش وته سر کوزی بادشاه ته دی  د آسمان ورمېږ لاهم دی ورته خم
د درویش علم په درس په مکتب نه دی  نل نظر لری په لوح او په قلم
ماونا ؤ ته دیوال شته غاړې غړو نه  په درویش ترشرقه غربه دی پوسم

بل ځای د درویش خوبونه او افعال داسی بیانوی :

درویش هغه دی چه ترس دخدای لری  د نیکو فعل د نیکو رای لری
طمع له چا ، نه کا لقمه حلاله لری  جدا له خلقه دا سو د ګې ځای لری

خو بالعکس هغه کسان چه د شېخی دعوې کوی مګر خوی او کارونه ئې دحقیقی شېخانو نه وی ډېر بد ستا یی او په دې ترتیب ئې پښتنو ته ښیی :

را ښکاره دی ددې دور لنډ لستونی  پردی مالونه او زده لاسونه مونی
که په باغ ئې دیتیم د کوندی ګډ کړې  دا نګورو به خوازه زنګوری چونی
دخو د و مزه پوښتی بزه ئې هېره  ښې خربی لنډی وهی وربانده سونی
کله سر په سینه وهندی سبز کی شی  کله سر موزی د مار لکه سر بونی
په خپل کار لکه شاخوزی خر خوله خوشکه  په بل کور کی لکه آس په راتب پونی

هغه کسان چه په ظاهر لباس ځانونه شېخان او پیران بولی او همدا لباس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې. دخدای د مخلوق دغولواو دیاره سبب .کړی وی خوشحال خان ئې ښه پېژنی او داسی ئې غندی :

که شیخی زاهدی غواړي  په خپل لاس کښې ده لالا !
لکۍ ور دستار په سر کړه  سر و هه په مصلا
بامسواك کښېږ ده په سر کې  یا ئې وتو مبه تر ملا
په تسبیح خو لحره شو نه ده  نور نکی کوي که غلا

ددې راز شیخانو غولواو اوفریب ته هم خوشحال خان ښه ملتفت دی او ددوی په حماقت خندا ورلحی چه دخو بیسو دیاره شنډې ښځې نه په دروغو وایی چه زه به زوی در کړم، یا رنځور نه په نذر صحت ور کوی باسو چه مسلمان دشخصی غرض دیاره په لږ ګړی کافر ولای شی خو خپل ځان ته ئې فکر نشته چه کفر ته نزدې کارونه کوی ، خوشحال خان داسی خلك دطریقت غله بولی اوله خدایه ئې مرګ غواړی، لحکه چه داسې خلق هم طریقت بدنامو ی اوهم دخدای مخلوق له لاری باسی ، نو خوشحال خان وایی :

داچه گرزی، کښېنی، یاخی یا بخې لنډی  شانګی و هی دربلی خربې لنډی
دا همه واره رهزن د طریقت دی  خپلی خونې لره وړی پردیه کنډی
د عالم رخنې تره په سپاڼی مره  خبر نه دی دا کېدی له خپلې انډی
ورنځور ته ور کوه صحت په نذر  ښکلی زوی به دروغ ور کړه دشنډی
چه به ئې خدایه یقین په نور خه کړی  دهغو دایمان بوودې شیطان ونډی
عالم کفر ته وباسه په زمان کښې  دی تر خپل ایمان وتلی لا به ځنډی
لا به کله داسکان وژنې خوشحاله  چه به دا ثواب حاصل کړې پنډی پنډی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ډلې ددروغو پهذکر خوشحال خان افسوس کوی چه دوی ولی دخدای نوم په منا فقت یادوی اودخدای نوم ئې دخوپیسو دپاره وسیله کړی دی . نو لحکه له خدایه دداسې ډلې څخه امان غواړی :

خدایه مه وی هسې ذکر چه ئې خلق سر هوا کا
درو پشان د «لا» په توره همیش لود ما سوا کا
د یود «لا» توره وکښلې پوو دغیلو یا د غوا کا

بل ځای هم ددوی له دا په غفلت لړلی ذکر څخه امان غواړی چه ذکر دلحان د پاره کوی خومنت په نور عالم زدی وایی :

خدایه راخلې هسې ذکر آلو ده په د پر غفلت
خدای د لحان دپاره بولی په عالم کاندی منت
په الله الله و بلو تاخت تاراج کا درست محلت

بل وخت چه دوی وینی په زړه ئې بوه په خوله ئې بله ده، وبل او کول ئې سره برابر نه دی، تسپې پهلاس دبل مالونه خوری، نو وایی :

که هزار لحله څوك سر وهی په مځکه یا په صوم ترشمخه ورولی ناف
څوچه نیت دښه عمل سره جوړ نشی عبادت، طاعت دې واړه دی خلاف
چه دزړې لار یو ه دز ده ئې بله په چاره ئې شه لحیکر شکاف شکاف

بیاورته وایی چه تا په خپل زړه کښې بتان کښېنولی دی او د هغو تابع شوی یې . لوبیا داریابی سجده دچا دپاره ده ؟

لحکه نو پښتانه د داسې غولو ونکو خلقو له پیروی څخه را ګرزوی او اودشریعت څخه مخالف شیخ ته وایی :

تا په زړه کښې سل خدایان دی کښېنولی
راته رایه سر وچانا په زمین زدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغفلت نسپي يـه روح وشپه چـار بـاسـي
خومنت بـه يـه کرام الـکـاتبين زدي

کوم وخت چه دبيسو ديارهٔ کرونه اروی نوپه غوږ و کی کوتـی نيسی
نري تپر پږی او پښتنو نه همدا نرصيه کوی :

کوتی رمنده يـه غوږ وارې تپر پږه
دا کرزرد کرونه کـازده يه درم کښې

باچه پهښکـارهٔ کرونه کوی او پهپټه دخلقومالونه پهدروغواوتيټال خوری
نو خوشحال خان ئې مخ ور نور وی ورته وايی :

در وپشی دا ده که تل حـلال خـوری
که تل حلال خوری بيا دخپل مال خوری

کښېنې وعدې کړې مخ دی خدای تور که
پر دی مالو نـه يـه دا تيټال خوری

څوك چه غوامی حقيقی شيخ شی پايد عالم وی ، جاهل شيخ علاوه پردی
چه څوك لاری نه را وستلای نشی دپر خلق گمراه کوی او پهناروا کـارو
أې اخته کوی ، اوځکه خوشحال خان دجاهل شيخ فساد ترعزازيل نه څه کم
نه بولی ، وايی :

دد ې دور در وپشان خليفه بس دی
اوس خپل لحانلره بل کـار کـاعزازيله
داجاهل شيخان شيخان نه دی شيطان دی
چه فساد ئې پيدا کيږی لـه تهليله
داسی متقلب خلق په خوخو رنـگه لحانونه ښکاره کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان ئی داسی ښیی :

پلار ئې په بند کړ، ور ورئې بند بند کړ
لحان ئې هم شیخ کړ، هم دانشمند کړ

اوس په غزا کې خپل لحان غازی بولی
به خو خورلګ ئې خپل لحان ځر کند کړ

خوشحال خان دې ته حیران دی چه له یوې خوا دا دو مره استغفارو نه اوله بې جوا هونبره ګناه ؟ ! نو لحکه وایی :

آ ه دا هسو نبره استغفار ره — چه ئې نل کړې په اسحار ره
که رشتیا دا استغفار دی — بیا ګناه څه ګناه کار ره !
که دا کار دی په دروغ کړې — شرم و کړه له دې کار ره
هم دروغ کړې هم ګناه کړې — نرس دې نشی له قهار ره

دا حال چه وینی نومجبور یږی چه پښتنو ته توصیه و کړی :

هر چرته چه ګرزی په لاحوله ترې تیر یږه
سل بلا یه زړه کښې سل دانې تسبې یه غاړه

دالحکه چه په همدې جامه کښې دوی د خلقو مالونه ولجه کوی ، نو خوشحال خان وایی :

دا تا راج لکه شیخان کاندی په ملا
افسر یدی نه ذی داهسې تا راجی

صوفی لافې دسلوك کا هم دا لافی
سرا سر ګنه د ده بې منها بجی

دائې سحر دیا بل دمحکې راوړ
چه درست اوښ په کوت کې رمانده حاجی

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفا ئی دزړه پـه کـار ده نـه دز یري
څو په زیـر ه ګر زوي شانـه عـا جی

په آخر کښې د خپل دور دشیخانو څخه بیزاریږی او وا یی :

ددې دور د شیخـا نو حال مې و کوت
چه ساعت ورسره کښېنم تر ي بیزارشم

ځـکه چه خوشحال خان ددری دا تول ذ کرو نه دڅو پیسو او څو درهمو دپـاره بولـی :

ګوتی دمنډه په غوږ و تري نور پېژه
نا کرزر ذ کرونه کـازره په درم کښې

له دې جهته نوخوشحال وچ زاهدان اوناقص شیخان نه غواړی، بلکه دده عارفان په کـار دی، لـکه چه وایی :

زا هدان شیخان وهر اوری نه ډېر دی
دخو شحال ختك په کـار دی عارفان

هغه عارفان غواړی چه هغوی خپلو زړونو نه توجه لرې وی او زړو نـه لې صفاوی دا سې نه چه :

دصفا په لا ري نـه اینبی قدم
همیشه لـه در وپشیږ وهـه دم

هغه کـه شیخ ملا ولی درویش دی
چه نظر په سود وزیان په مدح دم

څنګه ملك ؟ څنګه خـان ؟

دروحانی اومذهبی قوې نه وروسته دوې نوری قوې دپښتنو په مقدراتو لوبی کوی یوه دخانی اوبله دملکی قوه ده. داد داری قوې ښایی چه دملك الطوایفی شوخت نښی وی ، اوددوی مخا کشرا دتقریب اوورانی خواته ګرزیدلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی چه‌هرځای پیدا شوی دی. ملته ظلم، تعدی، تفرقه، بی‌اتفاقی او تجاوز پیدا شوی دی. احتمال لری چه په خانانو یا ملکانو کښی په ښه‌سړی هم پیدا شوی وی او یا به پیدا شی، خو برئی پاورانی بسی روان دی او دتخریب خواته ئی مخه شوی ده

دوی بی‌له لحاظه نور هیچا ته په حق قایل نه‌دی، دوی چه دقوم مشران شی نو خیال کوی چه قوم دهغوی داستقدي او دهغوی د خدمت او دهغوی دظلم دپاره پیدا شوي دی. نو هرڅه چه ئی دلاسه کیږی خپل قوم خوروی او شکوی ئی، ترهغی ئی او حق ئی ناحقه کوی، بدی او رشوت لحینی احلی، نو خوشحال هم دوی په‌دې ستر که کوری چه وایی:

که په کور کښی مال‌دولت لری ستر کیږی ملکان ئی تر خانانو دی مردار
حقه چار به د غریب کا ندی نا حقه که په‌بدی رشوت مرمی بودینا ر

دملکانو سره رشوت خوری تړلی ده. سود خوری اولو رخو خول خر ددری له اصلی وظیفو ښخه کنل کیږی، نو لحکه خوشحال وایی:

د برئی ملکان دی یکښی ښه ملك هغه دی
هرچه بی تنکی کا د چابه ی رشوت خو رینه
کیږی یه مسجد کی د سود ونو کا خوری
یا د خور ، د لور د لور و نود بل کړینه

همداشان دخانانو حال خر کدوی، وایی چه خانی دهرچا کرنه دی او نه خانی دومره اسانه ده چه هرڅوك ئی کولای شی:

و خانی ر و نه و ر لحفله هنر عیش نه
و ما لسم د نه پیدا کیږه د ر دسر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خانی کار د هر چا نه ده د هغه ده

چه سر فه ئی نه په زر وی نه په سر

یکبار ه ئی په نظر کی شرم ننگ و ی

د د نیا په سود و زیان نه و ی خبر

بل ځای د حقیقی او درست خان اوصاف د اسی ښکر کند وی :

خانان هغه د ی چه په خپل نام دی

نه په د نیا د ی نه په خپل کام دی

چه په کوم تو کی دقام ښیکر ه وی

په هغه فکر کی په صبح شام دی

مګر هغه خانان اوملکان چه دخدای مخلوق ز هیروی او دهغو دزړه له درده غافله وی که څه هم زبری ئی سپینی وی، خو بیاهم دخوشحال په نظر د ئی ملکان معلومیږی، دی وایی :

دغافل په سپینه زیره غلط مشه دهلك غوندی ئی لایه خوله کی ئی دی

که هر څوئی بو هوم پری نه بو هیږی

زیست روز گار ورسره مه وشه ځاروی دی

کوم لوی عیب چه خان او ملك نه منسوب دی او دوی ئی نه پوازی دخوشحال په نظر کی بد کړی، بلکه دتولی جامعی او تول اولس نفرت لحینی کیږی هغه پرېږی وزلو اوخوارانو باندی ددوی ظلم دی، ظلم هم نه پوازی دلحان دپاره بلکه دظالمانو د ګټی دپاره، دخو پیسو دپاره خواران په ظالمانو تکوی اووهی اوشکوی ئی، غریب قوم چه دوی دلحان مشران کړی دی، خودوی غریبان دلحان داسی کشران نه بولی چه دهغو دپاره خدمت و کړی اویا ددوی په غریبی ئی زړه وسوځی، بلکه داسی کشران ئی بولی چه له دوی څخه کار واخلی اودوی دمریونو په شان استعمال کړی، د دوی ګټلی لحینی په زور واخلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یائي په خپله وخوری ' یائی نورو ظالمانو ته ور کړی ؛ او خو شحال خان داستمگر ن داسي یادوی :

ستمگر به همیشه په دنیا ته وی  بس له مرگه به لعنت لعنت په ده وی
هسی خوش دظالمی په کار ولاړ دی  نه به وائي مرگ ئي نشته نل به ژوی
ظالمان په نورخه هیڅ راغلی نه دی  خو دنیا و ته ښو ئیښزی لکه روی
چه دخپلی کامرانی په کار راشی  که عالم ته و بالاشی پري ئي زده وی
په گفتار کښي فرښتو سره سیالی کا  په کردار کښي شیطانان تري پوری څه وی
که په سول ئي دنیا مقصود حاصلیږی  دمکي په وره به هم پوري کاسوی
به خپل زوی ' وروری ' ده نه وی نرلی  دخپل پلار و مرگ ته هم موږی ورغوی
به هغه چاره قلم روغ کا قرآن کښي  به هغه چاره له وروره مری سکوی
به رکوع کښي تسبیحات دمال وملك کا
به سجود کښي خپل حشم غواړی که ښه وی

مگر داستمگران سره ددي چه دومره ستم کوی بیاهم خپل ظلم ته ملتفت نه وی او خپلو مظلومانو ته داسي مظاهره کوی چه مونږ خوهیڅ نه دی کړی لکه خوشحال خان چه وایی :

هم ئی هیڅ رانه پري نښو دل هم وایی  چه داده او سه لاهیڅ نه ئی نتلی

دوی باید دمظلو مانو آهونه هیرنه کړی ' د مظلومانو آه به ضرور دظالمانو کو رور ان کړی لکه خوشحال چه وائی :

دمظلوم آهو نه کانی دغره سیلی  ظالمان به آزار ونه چند آخلی

* * *

نتیجه :

خوشحال خان خو یه دي ډول ددي څلور وقواؤ ر نگا رنگ رو لونه چه د پښتنو په مقدر انو او اجتماعي ژوند کي ئي لوبو لي دی راوښودل ' اوس باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ په ډیر دقت دده له افکار ویوه نتیجه وا خلو ، او هغه داده چه دې خلور وقومونه ته یعنی خان ، ملك ، شیخ او ملانه ډیر لحیر شو ، او کوم وخت چه غواړو چه دوی ز موږ په مخ کښی شی نو به انتخاب کښی ئی زښت ډیر دقت و کړو ، او ددې دقت مقصد به داوی چه موږ صحیح او درست مشران ولرو ، نه دا چه هر لاس ته لاس ور کړو او به پټو ستر گو په هر چا پسی روان شو :

ای بسا ابلیس آدم رو که هست  پس به هر دستی نباید داد دست

لحکه چه اوس هم داخلور قومې دینتنو په اجتماعی ژوند کی پوره لاس لری نو پښتانه باید درست انتخاب له ناقښو څخه جلا کړی . دروغجن او متقلب اوخائن اشخاص دصادقو اور ښتینو سړیو سره گډ نه کړی . لحکه چه دې اشتباهاتو دیرقومونه غواولی دی چه وروستهبیا خیلو خطا گانو ته ملتفت شو ، خوهغه وخت کار تر کاره تیر اود دوی افسوس گټه نه ده کړی ، له دې کبله نو باید پښتانه له دې رنگه اشتباهاتو څخه لحان وژغوری او دمشر یا رهنما پهانتخاب کښی تر حد زیات دقت و کړی ، همدا اشان هغو ښاغلیو ته چه غواړی دقوم مشران شی دا فکر په کار دی چه خپل قوم ونه غواړی او دقوم افراد دشخصی فائدې او گټی دپاره استعمال نه کړی ، بلکه لحان د قوم خادم و گڼی او د قوم دلوړ و لی فکر و رسره وی . دقوم له منځه جهل ، ناپوهی نفاق او بی اتفاقی اوقبیلوی فکر ورك کړی ، دیولوی قوی پښتون دجوړولو خیال وساتی ، لحکه چه د پښتنو اکثره مشران د لحان لحانی په بلا اخته دی او هرڅه پرازی د لحان دشخصی دپاره غواړی او دقبیلو ترمنځ دنفاق تخم پاشی اوله هغه نه دلحان دپاره فایده اخلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې ګورئ، له کومه وخته چه داخلور قوتونه، د پښتون قوم دمشر نسوب په کورسې کښېناستلی دی دوی اکثره به دې پرهېزې چه پښتون قوم ناپوه دی، بایددوی پوه کړې شي، مګر پوه دې خبرې نه چه دی اقدام نه دی کړی داحکه چه که پښتانه پوه شي نو خپل مشران به به خپله به دپردقت وتا کی او به هرنا پوه پسې به نه لګي، دنیه مشراوبد مشرتمیز به وګړی، او داخبر ددوی شخصی ګټې ته تاوان رسوی، نو لحکه دوی په خپل قوم کښې نفاق اونا پوهی قایمه ساتی، خبرنه دی چه دژوند لاره دانه ده او خوشحال خان دوی له دې لحان لحانې او قبیلوی ژوند ځخه داسې منع کوی :

چه دې توان رسی په لوی دریاب کښې ګرزه
په بیله کښې دې زوال وینم نهنګه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان رابی :

# (۷)

# کار و کړی ء بدایان شی ء!

که غوټي پسی وهي په لاس به در شی
چاوې داچه په دریاب کښې ګوهر نشته

لاس او پښې او نور دبدن ټول غړی قدرت انسان ته دکار اوفعا لیت دپاره ور کړی دی، که انسان له چپلوغړ بو څخه کاروانه خلی او خپل ځان کاهلی او تنبلی ته وسپاری دی نه بوازی له طبعی قانونه څخه مخالفت کوی، بلکه په اجتماعی ژوند کښې داجتماع داو ژو بار دی دالاخه چه دژوندی نوم پری یادول د ژوندون دپاره عار باله کیږی، لکه چه ژوندون عبارت له حرکت، اوخوځیدو اوفعالیت څخه دی - څوك چه نه خوځی، فعالیت او کار نه کوی دهغه اودمړه په منځ کی څه فرق اوتوپیر نشته نولکه خوشحال خان پښتنو ته دکار توصیه کوی اوبیکاری ورته په بده ستایی دی وایی :

هر ساعت چه پرچاځی هسې بیکار — تر هغه نه زه لاښه کنم بیکار
رنځوران که کاروبار نه کامعذوردی — زرغ سړی به ولی نکاخپل روزګار
که هیڅ کاروبار دی نه وی درته وایم — هسی مه کښینه بیکاره ناپکار

داخودپښتو متل هم دی چه «نربیکاری، بیکاری بنه ده» نومعلومیږی چه په پښتنو کی له پخواڅخه بیکاری بده وه ، مګر په اوس وخت کښې دپښتنو ځینې زلمیان او زاړه شته چه خپل وختو نه په لهولعب تیروي اونا جائزی چاري ئې دځان دپاره کار ګرز ولی دی، نوښایی داسی پښتانه دخوشحال په وختو کې هم ؤ، چه نه ددین وه اونه ددنیا، لکه نوخوشحال خان داسې پښتانه دتولنې بلابولی اومرګ ئې له خدایه غواړي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه نه د دین دی نه د دنیا دی  هغه که کرزی په کار د چا دی
پرېږده چه ومری جهان ترې خلاص شی  په دا جهان کې یوه بلا دی

یا لحینو پښتنو ته چه د حیلو غرو څخه هیڅ رانګه کارنه اخلی ' او اوږدې پښې ئې غلولی د دوی ورځ دوئې سیوری ته او دژمی شپه په کوټو او باندو کی او ورځ ئې پټاوی ته نیږدی ' داسې سپینی خبری کړی :

چه په دواړ وستر ګرځوند په غوږ و کوڼ شوې
لال په حوله غفلت په لاسو پښو هم ټل لړې

که مونږ به دقت سره کائنات وته وګورو سربېره پر اسنا نانو ' نور موجودات هم بې فعالیت اوبې کاره نه دی او هر کار چه د قدرت له خوا ورسپارل شوی دهغه به اجرا بوخت دی ' تول ژوی مجبور دی خو چه ژوندی وی و خوځېږی ' کار و کړی او ځان ته یو آرام ژوند تهیه کړی ؛ که نور آرام ژوندنه وی ' دخپل نس دپاره هم هرزوی مجبور دی ' فعالیت و کړی . د دیاتولو انسانانو چه تر پښتنو پښه ژوند پیدا کړی دا تول د کار او فعالیت نتیجه ده او پښتانه چه دومره وروسته پاته دی ' دا د دوی د بیکارۍ او نایه مهر ثمر دی ' څوك که کار ونکړی ' زحمتو نه ونه باسی او زمشقتونه وبه ګالی ' هغه هیڅ دښه ژوند خاوند کېدلای نشی ' حتی که حیوانات د خپلې ګېډې دپاره حرکت او هڅه ونه کړی ' یقیناً وږی پاتېږی ' لکه نو خوشحال خان پښتانه یه دې راز یوهوی اوورته وایی :

چه مزری خپلې منګلی نه کا کښلې  هو نیږه نه وی خربې غو ښې ورته تلې
مرجونا د درمرجان هاله ولجه کا  چه قبول کا ندی د بحر خونې چلې
عاشقان چه ترسر تېرشی هله کښل کا  د دلبرو پستې خولې لکه بخملې
باز چه والوزی له ځالې هاله ګوری  د کبکانو ښائسته ستر ګې کجلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دا ور بخری باد سر ر فیق شی  بیا ماله کـ یه ملکونو لمبي بلي
چه سیلاب دغره دسره نه روان شی  بیا ماله بیائي بهمنخ دیري خخلي

هو اخوشحال خان دزحمت ایستلو او کار کولو جدی طرفدار دی او دامشهوره خبره چه « بي زحمته راحت نشته » دیر لحایسو نه تکرار وی ، یو لحای وایی :

هرسری چه محنت نه کا هغه کله راحت مومی
راشه راشه رانج قبول کړه که نه گنج غوا دي بنه بند دی

بل لحای همد امفهوم په دي شان بیا نو ی :

چه محنت په لحان قبول کا راحت مومی
رانج و گنج سره دواده دی تړلی

بل لحای وایی :

چه محنت په لحان قبول کا نو راحت شی
چه عارف د مصیبت شی عافیت شی

یا داچه وا بی :

چه جنگیالی دی دولت هغه مومی  چه نمگیالی دی عزت هغه مومی
دا دواده تو که سره تړلی دی  خوك چه محنت کا راحت هغه مومی

همدارنگه د کار کولو او زحمت ایستلو دیری توصیي پښتنو نه کوی په تیره بیاد کرهني او زراعت کار دژوند انه له مهمو کارو څخه بولی اود هقان دحور و میلمه کنی او خوك چه د دهقانی ره ودی خوری د هغه مقام تر ظالم پاچا یو ر نه گنی ، وا بی :

خوك چه ډډی د دهقانی خوری  خواره د حور ودمهمانی خوری
چه ئی په ظلم خوری داده دي زهرشی  که سا لنو نه د سلطانی خوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتیا همداده که څو لکه دهقان اوبز گر مقام ته ملنفت شي به اجتماعي ژوند کې

ډېر لوړ مقام لري ، نا سې لحیر شي

دانسانانو ټولې طبقې که غریبې دي یا بډایې ،

که شیخ دي یا ملا که کافر دي یا مسلمان ، که ښځې دي یا نر ، پاچاهان دي

یا گدایان ، که عاقلان دي یا جاهلان داټول د دهقان اوبز گر لاس ته گوري

او باید دده دزحمتونو ممنون واوسي!! که دهقان کارو نه کړي ددنیاهغه

بدایان چه لحان په طلاتلي اوباهغه شاهان چه مملکتونه ئې په فرمان وي ،

وږي به پاته شي لحکه چه دا ممکنه ده چه انسان کالي وانه غوندي اواخ

ژوندي اوسي او یا موټر کې سپور شي ، پلي خپل ژوندتېر کړي مگر داهیڅ

ممکنه نه ده چه بوانسان په لوږه ژوندو کړي اوباشه ونه خوري او ژوندي

پاته شي ، نولحکه خو شحال خان کرهنې ته ډېر اهمیت ورکوي اوه دهقان او

کاریگر ترهر چاپورته گڼي ، خو شحال خان لیدل چه پښتنا نه ډېر وسیع

دښتو نه او فراخې لحمکې لري ، خو دوی ئې ودانو لونه توجه نه کوله ،

داخولابلا په پسې دوی به ویل چه موږ وس نه لرو ، مگر د پښتنو دې بروابې

له کبله ددوی ودانې لحمکې ورانېدلې ، لحکه چه هغه وخت پښتانه اکثراً په

دهقانۍ شرمېدل ، او اوس هم لاحینې ساد گان شته ، چه دلحمکې آبادول و یا

دخپلې لحمکې زارعت ته توجه کول دلحان بوراز کسرشان بولي او داهغه جنابان

دي چه په دې غریب ملک کې په زړو جریمو مخکې لري ، خود سلوجر بیو

حاصل نه لحینې اخلي ، دالحکه چه لحمکه باندې ډېره ده علاوه پردې چه ددوی

خرڅ پوره کوي ددې ډېرې لحمکې روزل هم ددوی تر طاقت بور نه دي ،

خصوصاً چه روزل ئې لحانته بوراز حقارت هم وگڼي ، نوخوشحال داسې لټو

زمیندار انو ته وایي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخم شته هم لحمکه هم قلبه لري تيار ه
هر اسباب دي جوړ دي ولې نه کړي کارد کر

بل لحای وايي :

پسينه کرله هونبره فا يده نه کا چه به وخت کرله و کا برآخلي
د کر لو وخت آخر شو تخم لېږدي خوارهنه چه ئې له کره لاس ختلي

دخوشحال خان په نظريه کاهلان احمقان دي، که دوی پاچاهان هم وي ژربه له تخته پرېوزي، دين او دنيا دهغوی چه کار کوي، وايي :

کاهلان دي چه احمقان دي دولت به بايلي که پاچاهان دي
دولت ددين دد نيا د چا دي چه هنيياران دي به کارچسيان دي

مگر کار کول هم خپلې لاري اري، خوشحال خان د کرو ديباره درې اساسي لاري تاکلي دي چه حقيقتاً هم ډېرې مهمې او بنيادي لاري دي پوه داچه خوشحال خان وايي، بايدلومړی، د کار يه تاکلو کښې فکراوتأمل وشي:

درته چاوې چه پرې مه پر انز ده غو تسيه
تأمل د هر سړی گر ه کشای دې

درهم وايي چه په کار کښې بايد تراندازی زيات تلوار ونشي، لحکه چه د کار دورانی سبب گرزی :

چه ودانی چا ری ورانی به ساعت کا
چه مې ولیده به چارو کښې تلوار و

خو دلته زردې خبرې ته ملتفت کېږی چه خينې پښتا نه خو خدا ئی هم تنبلان وه داد « نه تلوار » خبره چه هم واوری نو به ښه پښې تنبلان شی او دا خبره به دلحان سند د گرزوی، نوژر بل لحای وايي :

چه دانسته درومی چه آهسته درومی فتح هغه مومی نصرت هغه مومی
چه کاهلی کاپا ډېر تلوار کا نامرد هغه نومی نا کس هغه نومی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بمشی نه به کر کښې دومره تلوارچه ګودان، کار روان شی او نه دومره کاهلی چه بیخی کار بانه شی، هم کار باید وشی، هم تا بد به سنجش وی.

دریمه داخبره کوی، چه مپر دهغه څوك دی چه کار آغاز کړی نو انجام ئې فرض و کښی، بدبختا نه اوس هم داعادت شته چه هر لوی کار به دپر جوش او خروش شروع کوی، خو څه موده وروسته ئې بر بیزدی او پای ته ئې نه رسوی. بیا بل کار ته لاس اچوی. دبیتنو د کارونه ترقی بوهم او لوی علت هم داعادت او فکر دی چه هر سړی مر کار بې فکره او بې سنجشه شروع کوی خو چه د کار دمشکلاتو سره مخامخ شی دمقاومت طاقت ئې نه لری، نو بر نیمه لاره ئې نیمکاره پر بیزدی. خوشحال خان غرلری چه دا بد عادت دبیتنو له مغزه ورك کړی، نو وایی:

مردان هغه دی چه همت ناك وی — دنګ به کر کښې چست وچالاك وی
کارچه آغاز کا انجام ئې فرض کښی — به زده هم پاك وی به خوله هم پاك وی

حتی خوشحال خان دمطلوب به لاره کښې وینی نو بول هم جائز کښی به هر قیمت چه وی باید مطلوب ته خان ورسول شی، نو وایی:

تر مطلوبه پوری شرط درسیدو دی
که نمامه لار پهر بنو شی آلوده

بدایی او زر پیدا کول:

لکه څنګه چه به ژوند کی دلیچو زور او دعلم زور به کار دی همداشان یو بل زور هم شته چه دبر ملتو نه ئی تر خپلې سلطې لاندې راوستلی دی او هم ئې راولی. بلکه به نننۍ دنیا کی څرك چه دازور نه لری هغه ته ژوندی نه وایی او هغه د ثروت او پیسه زور دی، به او سنی عصر کی دهر مملکت، هرې جامعې یا هر فرد سره چه د ازور شته هغه به خپلو هم عصرو او د او هر څوك ورته احتیاج دی، نن ورځ امریکا څه نور سحر، جادو نه لری

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداد پیسو زور دی چه دځمکی نیمه کوره ئی کړو کړې ده او لاغو اړی نو ره دنیا هم د دالرو په زور دځان کړی . نن په پیسو څه کار نه دی چه نه کېږی ؟! څه انسانان اولوی شخصیتونه دی چه د پیسو د پاره لرېې نه کوی ؟! او څه دملتو نو ناحقې دعوې نه دی چه په پیسو د سره نه کېږی ؟؟ په ننی جهان کښې په پیسو هرڅه کېږی که په بده لار صرف شی بدې چارې پرمخ ځی که په ښه لاره ولګېږی ښې نتیجې ښندی. پښتانه چه د اقوت نه لری نو هر چا پانه دی نو خوشحال خان هغه وخت لا د پښتنو دې نقص نه ملتفت و ' او ویل به ئې :

یاد لـچو زور پـه کـار دی یاد زر و
خوار هغه شه چه په دواړو دی کمزوری

په پښتنو کښې ځینې خلق و' چه د پیسو له د پرولو به ئی بدرا تـله او دا تنقید له دې کبله و' چه د پښتنو ځینې بدایان دخپلو پیسو په چل نه پو هېدل او د پیسو څخه به ئی نه د قوم د پاره او نه د ځان د پاره کومه فا ئده اخیستله او پیسې به ئی تر مځکی لاندی ښخو لې ځکه نو خوشحال خان د زرو اهمیت داسې بیا نوی :

خپل پر دی رانه په خوله وایی زر زر — و عالم نه تر هرڅه دی بهتر زر
اوس په دادور ماولیدل خوازه دی — تر پـدر تر بـرا در تر پسر زر
نور وچارو نه څه کوري دا کو ره — چه صاحب د مسلمان کا' کافر زر
فیروزه الماس یاقوت لعل له کـانه — له دریا به نه د کـاږی ګوهر زر
مځکه څه چه د آسمان ښایست په زر دی — ستوری زردی آفتاب زردی' قمر زر

زور ' قوت ' حـرمت هوري درومی چه زروی
د پـاد شاه په سـر څوك کـښېږ دی افسر ؟ زر
ښه ځوانان ئـې لید ل نه مـومـی لـه ورایـه
دنـا مـرد پـه غیږ کـې ور کـا دلـبر زر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګـيد د و نـوم يـه خو اه څه لر ه اخلي
د مزری لـه تنه هم يري ګـاس زر
هر مراد چـه دسـړی وی يـه د نيا ګي
د طلب يـه وخـت ئـي و ر ګا د ز بـر ز ر
نـه بة دی په لبزو زر ونظر و کا
له به پر هوزی وخوشحال ته غرغر زر

بل ځای دزرد ټولول داسي ضروری ګڼی :

زر په بد ه و ر ځ په کـا رشی هـو ښيا ر ځـکه سا تـی ز ر
د ز ر د ا ر بـلا پـه ز ر ر د نـيـا د ا ر بـلا پـه سـر
چه سپر وی کـذ ا ر په سپر شی چه سپر نه وی لا س شی سپر

بل ځای زرداسي ستا ئي :

زر دی چه هر چانه ، ا عجا ز معلو م کـا
معد وم مو جود کا ، مو جو د معدوم کـا
وينځـه مير من کـا ، خادم مخد وم کـا
زر به سندا ن کښيږدی سندان هم موم کـا

خوشحال خان خودزروصفت کوی .مګرزر دار اودولت مندته پهښه ستر کـه نه ګ وری ځکه چه خوشحال خان پهزرو يا تمول اوبدائی کښي نقص نه و يني ، له زر ونه چه څه نقصا ن پيښيږ ی هغه ټول دزر دار اوبدا ی نقصا ن بولی. « دولت پيدا کول» او «دولت ترسرول »دخوشحال خان په نزددوي جلالاري دی ښايی دولت بههر څوك ومومی ،مګرد دولت ترسر ول او پهسمه لار، روا ټول دهر چا کـار نهدی ، ټولځـکه وايی :

يو د و لت تـه ر سيد ل د ی بل د و لت تر سر و ل د ی
دنا د ا ن سـر ه ګـډ و ډ شـی د و ا ړ ه تو که د عا قل د ی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخت خو آس و سړی ورکا گران د آس تهګل ، ساتل دی
دخو شحال په عقیده ، هرمشکل او سخت کار په زړه آسانه کیږی ، دادزړه
هغه خاصیت دی چه انسانان ورته قائل شوی دی ، مګر زړه دار باید پر زړه
ایمان رانه ړوی او په مینه ئې کافرنشی دی وایی :

که هر څو مشکل کارونه درته بېښ شی
فکر مه کړه چه آسان نه په زړه شی
ما چه ولیده خو زړه دی په دنیا کښې
خو سړی دی ئې په مینه کا فرنشی

هغه زړه ارار بهای چه فقط پیسې تولول ئې غرض وی او پیوازی په پیسو ئې
ایمان راوړی وی ، نه ئې په ځان خوری نه ئې ملچانه وز کوی او نه ئې دملت ،
قوم ، کورنۍ او همسایه دفائدې دپاره صرفوی ، خو شحال خان ددې زړه دار
دسړدښمن دی او داسې ورته وایی :

دد نیا د سو د د پاره کوڼ او کوره
څه خو شرم مروت ونه و کوره
په درست عمر هغه ځای ور پسې غواړي
چه دې پر بوزی له پلوه چیر نه توره
په زړه کې باندې دې توره سوی داغ شی
چه دی توره یا پیسه روزی له کوره
دلوی غره کنډې په تا باندې پر بوزی
چه د کوره دی دودی وزی نان کوره
د دنیا مینه په تا باندې در باب شوه
ته په دا درباب کې دوب لاړې هر کوره

بلکه خوشحال خان داسې دولت مند او زړه دار غواړی چه خپل ځان ، خپلې کورنۍ
خپل همسایه ، خپل کلی ، خپل قوم او خپل وطن ته ئې خیر ورسیږی ، او دخپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر ما یې او ثروت څخه په دې لاره کښې کار راځلی ، لسګا وایي چې :

د دولت مند سړی هغه بالمی بو به

چه له سپیده ئې چمتو چا را له سپی

دولت مې دې په هنر په علم مت کا

که هر څو بنایسته مخ دی بیا یې ماله سپی

څوک دنیاوته مړ یو له دی خو ښځالـه

ښاه زلمیو نه د لیو پسو چمغالـه شی

نه داسې متمول اوبدای چه ماڼې په خپله خوږی اوته لې و بل نه زر کوی خو شحال خان وایي :

چه څوک دنیالری په لخان لې نه خوری

د ګورغه (۱) ثوری ساوری نه بو خوری

چه مال لې یا نه شی و بل خر یف نه

چه ئې له خپلو یار امو ښه خبر دی

بل لخای وا یسی :

یه هغه خو د ویښ مشي چه لې نه خوری

سړی هسې په ایدو ور نه سر هیڅ ئې

خو شحال خان داسې ثروت اوزر دسړی دلخان بلا اودزړه غم بولی لکه چه نولول ئې برغم نه خوری ئې بل غم ، ارسا نل ئې دریم غم شی ، بولی شی چهته داسې بدائی چاته نه غواړی ، وایي :

چه زردې غم شی هسې زردا رمه شي

چه زردې هیڅ سړی هغه پیشکار مه شي

په دا لاس راشه ، په دا لاس درو سا

د لیږ د ډیر په حساب په ضرار مه شي

---

(۱) غه مخفف دهغه یا دغه دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکه دخوشحال خان به نظر کې هغه خواره چه څوك دمېلمه سره نه خوري او همېشه دښځو سره ناست وي هم بد ګڼي ' وايي :

هغه ډك طباخ په سپي خوله لې ښه دی

چه ترڅنګه ئې دمور تو پرسو پرو خوري

پوازي ثروت پيدا کول يا زر غونډول کمال نه دی دثروت اوزرو سرفول خان ته هنر لري همدا شان دمال خوړلو او ساتلو لحاظ ته هنر و نه شته چه هر زردار اوثروت مند پرې خبر نه دی ' دادخوشحال فکر دی چه وايي :

لکه ګټنه د مال هنر لري  هسې خوړنه د مال هنر لري

لکه يا ز نه د مال هنر لري  هسې ساتنه د مال هنر لري

خوشحال خان دانسان اوحيوان فرق په دې کې بولي چه انسان خپله سرمايه او ثروت داسانې منافعو دپاره سرفولاي شي اوحيوان په دې نې هېڅ نو لحکه وايي .

که په خره باندې دزر وسندوق بار کړې  خر به هېڅ په دا ښه نشي خرخو خروي

دد نيا مال پوازې ددې وسيله ده چه انسان د نيکو نوم پرې وګټي اويا چاته خير په ور سوي اويادو طن اوقوم د خدمت په لاره کې ئې صرف کړي اوله دې لارې دنيك نامه خاوند شي ' خوشحال ځه ښه وايي :

ددنيا په مال د نيکو نوم حاصل کړه

نل جهان و چاته نه پر ېږ دی ما اونه

خوشحال خان داسې مال غواړي چه لحاي ئې ترزده پور نه وي ' داسې مال نه غواړي چه لحاي ئې تر زده کښته وي ' وايي :

هسې مال رامه کړه چه ئې لحاي دی ترزده کښته

هسې اموال را کړه چه ئې لحاي د زده د پاسه

خوشحال خان دنيا ددې ديارو غواړي چه بل محتاج نه ئې خير ورسېږي '

(c) ketabton.com: The Digital Library



دد ی دیاره ئې نه غواړی چه دمېړی یاموږ ك په شان ئې خپلې سوړې ته بوسي ، دی وایی :

چه و هل خو ږل خو رول کا هغه باز د ی یا شاهین د ی
چه ئې سوړې لره وړ ینه یا مېږ ی دی یا قاز ه

دخوشحال خان لاس نه رسېږ ی که نه ده به تو له د نیا با زلی و ای :

خه کرم لاس و د ست مې نشته قلندر یم
کنه مابه دنیا و یا ز له کله

مګر سره ددې چه لاس ئې تش دی ستر ګې ئې مړې دی چه وایی :

که مې لاس لګه دریاب له در و تش دی
ولی ستر ګې مې دریاب غولدی دی سپړی

په دې ټکه کښې د خوشحال غرض دلخان سفت نه دی ، بلکه غواړی پښتنو نه داوږ همت درس ور کړی او دوی دطمع او حرص دبد و حصلتو نو څخه راو ګرځوی ، نه یوا زې هغه څوك چه محتاج وی له دې بد و خویونو څخه منع کوی بلکه هغه څوك چه پیسې او ثروت لری نو غریب دیر دې اصیحت نه اوری او بدبختانه دخپلو انسانانو چه هر څومره پیسې او ثروت دیر یږی په هم هغه اندازه ئې طمع او حرص هم ور سره زیا تیږی ، نو ځکه خوشحال وایی :

مودهم هغه ګنه چه زده ئې مودوی ستر ګې مړې لری که زور کړه دوی
که دیر دولت لری چه طمع خواست کا د ګدائی و کار ته چو ده ی

نو ځکه خوشحال دغسې بدایی چه له ګدائی سره برابره وی نه غواړی او پښتنو نه خپل ځان نمو نه کوی وایی :

زرزما نر لاسه نه زالحی دیر یږی که هر څومې دلاسه ورسره کیږی
زمالاس ور نه ترا وره هم بنر شو لایه اور کښې ئې بوټ نکسا عت نیږی
زه اوزر سره له ځایه غلمان یو به جهان کښې غلمان سره رغیږی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه غلیم دمړ ئی په نظر کښېوزی  اورئې زده دد ومړ کاوته بې کېږی
پښتانه زلمی به خپل غلیم کاتر لخان وړاندی  وانمرد وته به سل حیلې در پېژی
کانی زر که سره و کوری یورنګ دی  فرق ئې دادی چه په زر وزده رغېږی
هغه زر تر کانی لوتې لا بتر دی  چه ئې ومنډې به لحمکه نه خو لحېږی
چه او به لخای په حصار شی نوری خساشی  سفا ئی ئې هم په داده چه بهېږی

دلته باید دا انتباه ونشی چه خوشحال خان داسې اف یابې لحایه خرڅ طرفدار دی، دده مهم غرض دا دی چه هغه بد ابان چه پیسې تو لول ئې خپله غایه کرزولې ده او پیسې دښخېدو یا پټو لو دپاره غواړی چه په خپل ژوند کې له خپلو پیسو څخه هیڅ راز ګټه نه اخلی او نه بل چاته څه ګټه رسوی، په دې خبره و پوهېږی چه پیسې دښخولو او یا هم داسې بې ګټې پرېښودلو دپاره نه دی، له مړی باید پیسې وچلول شی چه ګټه و کړی او ګټه ئې بیا باید خاص دلحان دپاره صرف نشی دخپلو هېنو ګانو او هموطنانو دپاره هم په کار واچول شی:

خوشحال په دې لحای کښې غواړی چه دیوه اقتصادی معلم په حیث پښتنو مالدارانو ته دا خبره وښیی چه دوی پیسې ښخی نکړی او بې چلولو ئې پرې ږدی، نو لحکه ئې په تېرو اشعارو کښې وویل:

هغه زر تر کانی لوتې نه لا بتر دی  چه ئې ومنډی به لحمکه نه خو لحېږی
چه او به په لحای حصار شی نوری خساشی
سفا ئی ئې هم په داده چه بهېږی

دا چه وائی زه زرو ښخول یم مقصد دادی چه زر باید دومره وزده نه تو نشی چه په مینه ئې سړی کافر شی او یا ئې لحای تر زړه کښته وی، بلکه زر باید ښه ژوند دپاره موجسپله وی، داسې نه چه ژوند د پیسو تولو لو دپاره رسیله شی، که نه وی خوشحال خان زر دسر دارۍ او مشر توب دپاره موهم شی، دا لحکه چه وائی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه زرلری په کور کښې ښه‌ها له شي سردا ری
دوستي ئې بله چـاو ده بله نـه ده زر دا ری

بل ځای وائی :

او س په سپینه زیره زرغوانده خوشحاله که په زړه لري دعوې دسر دری

داچه دی وائی زه زر په خپل لاس کښې نه پر پږدم هم ئې غرض دانه دی چه بې لاري اوبې ځایه باید ثروت پاییسي صرف شي، بلکه خوشحال خان خپل دولت دلوړو دآرامی دپاره غواړی اودا دهر حساس اوبیدار دولتمن وجدانی وظیفه ده، دی وائی :

لا بـه کـله هغه ګنج ور کوې بخته !
چه خوشحال به ئې په پلپو په سپرو خوری

دالحکه ماوو بل چه خوشحال خان داسراف اوبې ځایه خرچ ولر فدار نه دی بلکه چه بې ځایه مصرفونه اکثراً یاد فیشن دپاره وی اوبادبې ځایه عیش وعشرت دپاره، مګر خوشحال له دې دواړو مخالف دی وائی :

ښه دانو دخپل شرم کار و بـار دی
نورئې هر څه له خـاطـره فرا موش دی

د زنـا نـو پـه حساب دی هر ځان مشه
چه لـه زیبه لـه زینته هـم آغوش دی

شړی ورپښتون به سل په ډ کـه بوسی
کشمیرې چه بغر ګشالونه ئې پـه دوش دی

خوشحال خان دبیسوسره هنر اوپوهه غواړی اودبیسو لګن هم باید دپوهې له لاری وی، که دانه وی نو نه دچا مال ته ګوری اونه دچا ذات او حسب ته دی وائی :

چه شرم تنګ ئې نه وی نه هنر لری نه پوهه
به مال ئې نظر مسکړه مه به حسن مه به ذات

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر البته خوشحال خان زړه دولت او بډائي دنېك نامه د پاره غواړي او ددې دپاره ئې په کار دی چه خلقو ته ګټه ورسوی نه ددې دپاره چه ګورته ئې بوسي، اورښتیا هم زړه څه نوره ممتاز ګرځي، بامه دخان، نامه دوطن، د نامه دهمنو عالو دپاره ګرځېږي، دی وائي:

که په ګړ راشي زړه ګو نه — هسې در دمې لوړ په لوړ
خپل روڼ به اوس نور نکرم — که مې نور ګرمېږ مې نور
که د مسا تر لاسه راشي — خزانې ددرست لا هسور
تار به تار به ئې خپرې کړم — لخان به نه کړم د پغور
زړه د نسوم د پاره ښه دی — هېڅ به کار نه دی به کور

حتی خوشحال خان دسخاوت ښه ئې بیان کړی دی چه ترمرګ وروسته خان ته دومره کالی نه غواړي چه مردمشوی ته پاتې شي، وائي:

چه کالی ئې پاتې نشي مردمشوی ته — خدایه ورکړی خوشحال هسې د ملت

بل ځای خپل مرګ داسې له خدایه غواړي:

مرګ دمېړدان دا: په بستر مې مه وژنه — مې سن مې وژنه کافر مې مه وژنه
چه په میراث مې کتاب حساب شي — هسې غو ولی توانګر مې مه وژنه

خو سره له دې تولو بیا هم خوشحال خان دزړو او ثروت له اهمیت څخه منکر نه دی او دژوند دپاره ئې ډېر مهم ګڼي لکه چه وائي:

هېڅ کار نشي بې له زړو — چه پېرې د بې هېڅ زړه
ګرم څه نه دی د اوګرې — که پېرې ویا سې لېمه
چه سپین وسره پرې ورکا — هغه کېل کا سپینه خوله
هم زړه دی که ئې کوري — چه په غړه بیا بې اوبه
که هر څو له تا زړه بد وی — بیا به زړو غېږې زړه
خدای رسول سره خیلېږی — په زړ نسوري چارې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهدي ترتيب سره خوشحال خان د کار اوزر وظيفه اولکښت پاي ته رسوی

نتيجه :

له دي برخي څخه موږ دا نتيجي اخيستلای شو :

١ـ پښتانه بايد کار وکړی خو پيسي پيدا کړی او بيا ايمان شي .

٢ـ چه پيسي ئي پيدا کړي هغه به تر مخکي نه لاندي کوی او نه به ئي لحای بر لحای دروی ، چلوی بهئي خو کته و کړی .

٣ـ کته به ئي هم په خپله خوری ، هم به ئي قوم ته ور کوی او هم به ئي دوطن دودابو لو دپاره سر فوی .

٤ـ پيسو اوبدائي ته به يه بده ستر که نه ګوری ، مګر البته پيسي به وسيله وی نه غايه ، پيسي او بدائي به د ژوند دپاره غواړی ، نه ژوند دپيسو غوښتو دپاره .

٥ـ پيسي اوبدائي بي له زحمت اېستلو اوبي له کار کولو څخه به بل ډول نه پيدا کيږی که پيدا شي ، بقائمه لری ، خو د کار په باب کي پښتنو ته وايي :

که غوښي پيسي وهي په لاس به درشي
چاوي داچه په درياب کي کوهر نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۸)

# د پښتو حق وپېژنئ !

پښتني جونه مې ولیدې په ستر ګو
خوك چه تر کې دخطا ستایي خطادی

خوشحال خان خو دخطاتر تر کو هم پښتني نجوني لوړې ستایي ، مګر ایا تور پښتانه هم په دې عقیده دي ؟؟

ښائي چه پخوانی پښتانه به وو ، مګر او سنیو پښتنو نه چه ګو رو نه پوازې په دې عقیده نه دي ، بلکه پښتنو نجونو او مېرمنو نه پېدېره بله ستر ګه او حقارت پانظر ګوري ، پښتانه ورته دي نه په قاربېږي که دوی خپلو هنو اعمالو او جرأ یسونه نظر و کړي ، چه دوی ددې بې دزلی طبقې په حق کښې مرتکب کېږي ، نو هغه وخت به په خپله تصدیق و کړي چه ددنیا په انسانانو کې یوازې پښتون قوم دی چه به اوسنی عصر کې ددې طبقې مشروع حق پایمال لوی او هغه حق چه قدرت ، انسانیت ، اسلامیت دوی نه قایل شوی دی په خورا سنګدلی له دوی څخه ګرزوي .

پښتنو ! راشیء سر ګریوان ته کړئ ، و ګو رئ چه موږ دخپلو پښتو سره څه وضعیت کوو ؟

ښاغلی یه زیږ پدر خوا بدی کېږد ، چه ښاغلی لږ څه لو یه شوه ( سره دې چه دخدای رسول راته فرمایلی چه « العلم فریضة علی کل مسلم ومسلمة » او علم ئې په هر تر اوښځې فرض بللی ) بیائې هم موږ دیوه او علم لګلاري راګرز وو ، تارا ته بده ښکا دی چه زموږ نجو نې دګا وادی له ښځې څخه اوست ولولی ، او بې غیر تی ئې بولو ، مګر په دې هیڅ غیرت نه راځی چه په نجونو غوا بیاهو او خره پې خر دو ؟ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کارچه‌خدای فرض کړی دی نه کوو، اوهغه چه‌خدای نه‌دی فرض کړی کوو ؟! نجونې موږ علمه‌نا پوهې اددژوند له کارو اواسولو بې خبره لوئې شې، علم لاخه چه‌دخپلو کالو کنبل اوپاك ساتل ئې هم‌زده‌نه‌وی؟ چه پیغلې شې او دمروښې وخت ئې راشی، نوئې دحیوانانو په‌خبرخرخوړ خدای (ج) وایی چه‌په مروښې اوازدواج کښې دنر اوښځې رضاشرط ده‌مګرا کثره پښتانه بې له‌دې چه‌دپیغلې څخه پوښتنه هم‌و کړی اوپاده‌غې خواری راتلونکی ژوند ته‌فکرو کړی پرخپل سر ئې دغوایاخرې په‌شان خرڅوی؟! کا تکې په دې بې‌رضائی کښې هم‌دخپلې خور، لورد راتلونکی ژوندخیال ورسره وی ؟! دهغې خیال‌چېرته‌دی، خو بوازې دخپلې کېډې اوجیب غم‌ورسره‌وی چه‌دخویندو اواوتوپه غوښو لحانو نه‌ماره کړی. دافکر ددوی ستر ګې داسې بندې کړی‌چه نورئې نونه اسلامیت په‌یادوی اونه دانسانیت څه اندښنه‌ورسره‌وی، چه‌پیسې ئې کورته‌راشی، نودخوراس کلو نجلۍ له کوره باسی اودشپېنو کلوبوډا په کور ئې ننه باسی دا خای دی چه خوشحال خان دپښتنو داظلم او دهغو بوډا کانو دا قباحت اونا پوهی چه لحوانې ښځې کوی په‌ډېرېد نظر ګوری اودا چه لحنې نا پوه سپین زیری خیال کوی لحوانې نجونی به دپیسواو ثروت په زوردلحان کړی غلطه ثابتوی، هوازده بوډا ګان دزروپه زورنجنې اخیستلی‌شی مګردلحان کولای ئې نشی، دخوشحال خان په عقیده که‌زوړ سړی یاچا هم‌وی‌خودلحوانۍ پیغلی نه‌ورسره لګی، دی څه‌ښه وایی :

چه‌په سپینه زیره کالحوانی نکاری
په خپل‌لحان باندې‌به‌د کالحنې چاری
که په خوله دزاده یار ترسر چارپزی
به زده نه وی لحوانی هیڅ دزاده یاری

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېك وبد يه داجهان كښې پيدا كېږي

نېك و بدې دزاړه نه دی وېرزاری

خوښه ځوان دځوانی ښځې په غرض وی

که پا دشاه وی دزاړه نه دی ازاری

اوس په خپلو زړو خوش اوسه خوشحاله

دا ددور ځوانی مکره نا په ګاري

هغه بوډا ګان اوسپین زېری چه دپېغلو او ځوانو ښځو دغولولو دپاره زېری په رنګ تورو وی اوپاڼې رنګوی دخوشحال په نظر به لوی احمقان دی، تر دې کار دی زېری خرېل او ګلول ښه ګڼی لکه چه وايی :

د خطاب ځوانی دچاره داحمق د ه

تر دا کله زېره ښه په ښه نائی ده

لنډه داچه خوشحال خان ددی خبرې سخت مخالف دی چه سپین زېری سړی ځوانی وګڼی، دی وايی :

هر څوك چه جن کار په سپینه زېره هر سپین وېښته ئی تیره فرتیره

د هغې جنې دی نر زده وتلی درته مې ووې واوره په ځیره

بل ځای وايی :

سړی چه ځوان وی د نجونو خان دی

زړه ئې به ځنګ کښې لکه سوهان وی

زاړه له ښه کانجونې دې نه کا جن دې هله کا که دی سلطان وی

خوشحال خان چه داوسیتونه کوی په دې وخت کې دی په خپله هم سپین زېری دی او خپل ځان هم له دې قبیح کار څخه داسې منع کوی :

اوس دنجونو هوس مه کوه خوشحاله !

پښتنې نجونه ترهېږی له دوه مو یه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان چه‌زوړشوی دی، دلخوانۍ هوسونه دلخان سره ودنه کنی اودا نه یوازی لخانته وایی، بلکه د هرسپین زیری دپاره دعبرت درس دی چه وایی:

که ښې ښې نجونه که لباسونه دی  که ښه بازوبه که ښه آسونه دی
خوشحاله زوړ شوې اوس دا هوس مکړه
د ښو لخوا نانو د اهوسونه دی

مګر داخو هاله کېږی چه څوك دخوشحال خان خبرونه غوږ کېږدی حال داچه‌لخنې ساده ګان ښېتانه داور اوخورحر خولو په کار کې د خدای او د رسول قول نه غوږنېږدی خوشحال خان اوزه لاخوك یو؟ خوبیاهم ویل دخوشحال وظیفه ده اواور بدل دښېتنو، نوهر څوك به خپله وظیفه ادا کوی.

دښځو په‌سرپو ازې داغم‌نه دی، بیاچه د هېره کورته ورسی لاسل غمونه نور نوی شی، دوه کاله پس دوې ښې پیدا کړی، ځکه چه داخود ښېتنو خصوصاً دبدا یانو ښېتنو یوجنونی هوس دی چه ضرور به‌څلورښځی پوره کوی داهغه لحای‌دی چه دښېتنو خانان اوبدا یان دقر آن په نیم آیت عمل کوی اونیم ئې دسره اوری‌نه‌وایی چه‌خدای څلور ښځی‌راته روا کړی، مګردانه وایی چه دښځو ترمنځ عدالت‌هم‌فرض شوی دی که ښېتانه خانان او بدایان وایی‌چه‌مونږ اعدالت کوو، دانو یوه داسې خبره‌ده چه‌هیڅوك‌ئې‌باور کولای نشی. ایا دښځو دناوې اودأوه کاله د مخې ښځې نه یو شاك یو شان در کوی؟ ایایه برابر توبت دتو او ښځو کور نه ورځی؟ ایا زړه ښځه شرلې غوندې نه کنی؟ ایا دبر بدایان‌داسې نه‌وی چه‌نوې ښځه راولی زړه له کوره باسی؟ ایادیوې ښځې دوړې دبلی ترلاس نه‌وی؟ ایایوه سیاه بخته بله‌سپید بخته نه بولی؟

دالاخره چه‌یه‌ښځې داسې قیدونه زدی چه‌نه‌یوازې به اسلام کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



روانه دی بلکه کفر هم په بده ستر که ورته کوری، د پرمعتبر پښتانه خپله ښځه د ښځې د پلار کره هم نه پریږدي او د دوی خیال داوی چه ښځه له کوره وو نله ضرور فاحشه کیږی حال داچه د ښځی ښه والی او بد والی د کور په وتو پوري څه اړه نه لری، د پرې ښځې دی چه په کورو کښې بد پیږی او د پرې پښتنې کوچیانې دی چه پر د ښتو پالګلمنی دی، خوشحال خان دیا کدامنې ښځې په باب کښې څنګه ښه ویلی دی :

که کله په بازارشی په کوڅه کوڅه چاروزی

دیا کو یا کدا منو ستر جوړ دی ربنا نی

چه یا که یا کدا منه په حیا یه دیس مینه

د مرد په کورکې کښینی مرددی کاندی کامرانی

بالعکس د بدې ښځې په باب کښې وایی چه که په د یوالو نه کښې هم حصار کړه شی بیا به لاهم خپله بدی ښکاره کوی، وائی :

سپی چه سپیمی شی سپی خپل لحان لره پیدا کا

څه سود که بده ښځه په دیوال کړې زندا نی

ښه او بد هم په نارینه او هم په ښځو کی شته نو لکه چه له بوې مخی نو لې ښځې یا نول نر بد کنل غلطدی همدا راز نول نرینه کنل او نو لې ښځې بدې شمېرل ظلم اوله انسانیته لرې خبره ده، پخوانی پښتانه داسې نه ؤ، هغو ښځو نه په خوړا درنه ستر که کنل، د خوندو او اولنو غوښې یعنی واوروته ئې نه خوړل ظلمونه ئې نه باندې کول، حتی د ښځو «پلو» په پخوانیو پښتنو کښې د پر قدر من ؤ، چه د دو و قبیلو به جنګ ؤ کوم وخت چه به د ښځې پلو منځ نه راغی، جنګ ختمیده حتی بد کارو غلولاهم د ښځې احترام ساته، په هغه قافله کښې چه به ښځه وه په هغې نو لې قافلې ئې غرض نه کاوه، نیرو پښتنو ښځه د کور څراغ بلله او د کور بدبختی او نیک بختی ئې ددې په پلو پورې تړلې کنله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لحکه به ئې متل کاوه چه «یانیك پلو یانیك جلو !» دوی به په پښتنی صفاتو متصفه پښتنه مېرمن غوښتله ، چه خوشحال خان داسنګونه داسې بیانوی :

ښځه بویه هسو سنا که، خنده رو په مهر جنه
یا کېزه په زیست روز کار کښې په ښه بوی باندې مینه
دصحبت په رموز پوهه، زړه ئې خلاص له مکره دروهه
کم خورا که، خوش پوشا سکه، همیشه ناسته دننه
له نیکانو همنشینه، له بدانو بیه زړه خو ئې بیزه
له مور والی ئې توبه کا، که ئې موروی درو غجنه
دمېلمه په کار حاضره، په پخوالی بسها دره
حق دچارې په ځای راوړی، په رنځور باندی پوښتنه
یا کېزه ئې د کور صحن، نه په غولی کښې نور لحن
پرستاري ترې خوشنو دې ښه دهر چاپه سنا تنه
که داهسې ځوك پیدا شی، دخوشحال په لاسو راشی
هیڅ تقصیر به ئې ونه کا دبا ری، ئې په یالنه

خوشحال خان خود داسې پښتنو مېرمنو باری پالله ، مګر اوسنی ځنې پښتانه باری لاخه چه که څه هم داسې صحیح مېرمنې ئې په کور کښې وی دسره په وزین تندی لاور ته ګوری هم نه :

خودا پښتانه باید ویښ شی ، دنیانه وګوری ، په اوسنو دنیا کښې ښځې دنرو ملګرې وی اوپه ډېرو کارو کې دنرو سره اوږه په اوږه ولاړی وی کار کوی دانسانانو اجتماعی ژوندنرو او ښځو دواړوته اړدی ښځه اونرلکه نور اوحرارت لازم اومازوم دی هیڅ سره جلا کېدلای نشی که ښځې دنرو سره ملګری ونه کړی نو په هیڅ کار کی کامیا بیدلای نشی همدا سبب دی چه خدای تعالی جل شانه په قرآن کریم کې فرمایلی دی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



« هن لباس لـکم اوانتم لباس لهن » (ښځې ستاسې لباس دی اوتـاسې دښځو لباس یې) لهدې آیته څخه دښځې اوتریو بل نه ضرورت ډېرښه واضح څرګندېږی امید شته چه پښتانه به همدې طبقې ته دقدر په سترګه وګوری ددوی ترقۍ ته به توجه وکړی، علمي سویه به ئې لوړه کړی او په ژوند کښې به ئې دځان ملګرې وګڼی، دلور، خور دخر خواو او په جبر ور کولو څخه به لاس واخلی، او په آخر کې به دښځو هغه مشروع حق ور کړی چه اسلامیت انسانیت او مدنیت ورته قائل شوی دی اونوره به نودا طبقه همداسې مظلومه اوبې وزلې نه پرېږدی، که نه دې هغه خدای به چه ښځو ته ئې حق ور کړی محشر به ورلج له پښتنو څخه ددوی په وجه سخت باز خواست وکړی.

نواې پښتنو! دخوشحال خان خبره ومنی چه وا یی:

« دښځو حق وپېژنیء! »

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال وایی :

# (۹)

# خپله ژبه مه هیروی !

که تازی ژبه هر گوره ښه ده  پارسی هم ډیره په خوند خوږه ده

چائې پاو د جمال وانه خیست  پښتو لا هسی بکره پرته ده

بوخوك چه لحان پښتون گڼی او یاد پښتونولی د عوه کوی، خو د پښتو سره علاقه نه لری دا ډیر دشرم او بیغور ځای دی او که ئی پښتو زده نه وی، دا خو د مرگ او بیت خبره ده. لحکه چه به دنیا کی هر قوم په خپله ژبه پیژاندل کیږی، دیوه انگریز که انگریزی ژبه نه وی زده هغه ته به څوك انگریز ووایی؟ همداشان که د کوم پښتون پښتو زده نه وی او څوك به ورته پښتون ووائی؟ بلکه پښتو واله خو دانسانیت د پرمزا یا او ښیکنی چه دیوه کامل انسان د پاره دی، د پښتو ترعنوان لاندی راولی، او کوم پښتون ته چه د ویل شی ته پښتونه لری، یا ئی پښتو مړی بی ا، گویا له ده څخه دانسانیت ټول اوصاف او مزیا او اخستل شول، دا د پښتو الی قانون دی، نو د کوم چه پښتو زده نه وی، او ره دنیا ورته پښتون ویلای نشی،

لحکه نو خوشحال خان پښتون قوم د پاره دا خبره ډیره ضروری بللی ده چه خپله ژبه به ئی هم زده وی او هم به ئی روزی، دی وایی چه د پښتون خپله پښتو نه وی زده او هغه نا پوه دی چه د بل ژبه زده کوی: ده لحنی پښتانه لیدل چه ډمغلو تراثرلاندی راغلی او غو ښته ئی څو تر کی کلمی زده کړی دی هغوی داسی تنبیه کوی، ورته وایی :

چه په خپله افغانی ژبه نادان دی  په ترکی خبری څه وایی افغان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه‌وخت ځینو پښتنو بیا دعربی ژبې سره دومره مینه اوعلاقه څرګند وله چه پښتونې هم دومره کړې وه حتی سمې خبرې ئې نه‌غوښتلې چه‌یه پښتونې ګړی، خصوصاً خطیبانو صاحبانو اومذهبی مبلغانو چه داد ستورتراوسه هم پدا کشرو ځایو اوجامع ګانو کې جاری دی، البته عربی زمونږه ښې ژبه ده، مګر دیوه مبلغ یا یو خطیب غایه او مقصد خود خلقو پوهول او عامو خلقو نه لار ښودل‌دی، نوعوام خلق خو‌یه‌عربی نه‌پوهیږی کلمات اروی،مګر یه مفهوم ئې خبر نه‌دی‌چه‌خطیب‌صاحب څه‌فرمایی ؟ خوشحال‌خان‌هم‌دې خبرې یه‌تنګ کړی دی، نووایی :

نه چه ما نه عربی خبرې وا یې  د عربو ژبه څه ز ده عجمی ؟

ځینو پښتنو بیا د پارسی ژبه دلحان کړې ده، چه‌حتی یه سلطنتی دربارو کې ئې‌هم اود مقام او د خواوې پښتو ځای نیولی ؤ او د پارسی ژبې یه خدمت دومره لګیاوه چه پښتو‌ځینې بیخی یاته شوې‌وه، خوشحال خان یه عین حال کې‌چه دپارسی یاعربی مخالفت نه کوی اود واده ژبې دیری ښې ستائی، دپښتنو د کم التفاتی څخه‌چه خپلې ژبې نه‌ئې لری شکایت کوی، وایی :

که تازی ژبه هر ګوره ښه ده  پارسی هم‌دیره یه خوند خوږه ده

چائې پلرود جمال وا نه خیست  پښتو لا هسې بسکره پر نه ده

دالحکه چه خوشحال خان پوهیدو،چه نوری ژبې ځانته خدمتګاران لری نولازمه ده چه‌پښتون اومړی دخپلې ژبې خدمت و کړی او ژوندی ئې کړی باید ارس‌نو‌پښتونه موقع‌ور کړشی چه‌دا هم‌دنیاد نورو ژوندیو ژبومرتبې‌او مقام‌ته ورسوله‌شی، خوشحال‌خان هم دا نکته درک کړې‌ده چه وایی :

پارسی شعر مې هم زده سلیقه لرم دد وا رو

پښتو شعر مې خوږ شو هر څوك خپل ګټی ښاغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو ژبه مشکله، ددې بحر مو نه نشي

هم ما لره بو څو بحره په ډېر منېږد راغلي

دانا به پرې پو هېږي دنا پو هو کار پرې نشته

دادر چه دبیان به نار خو شحال خټک پېیلی

کذاب دی که داشعر لکه دپښتو بیان کړ

که هسې ویل اوس شی بابخوا دی چا ویلی

بل ځای په خپلو پښتو اشعارو داسې فخر کوی :

په یا سې ژبه که نور ترما بهتر دی

په پښتو ژبه مې مه غواړه مثال

یا دا چه :

د پښتو ژبې ئې ډېره خوبی ور کړه

چه خوشحال کا په پښتو شعر آغاز

یا دا :

د خوشحال ختک په ژبه بر کت شه

چه ویل کا به پښتو له هره باسه

مګر په عین زمان کې دې پروا پښتنو څخه ډېر کله من دی چه دوی خپلې ژبې نه نو چه نه کوی او په خپله پښتو نه پو هېږی ، دی وا ئی :

که زما ژبه پښتو وه  به پښتو وا یم خبری

پو پښتون را نه ښکار پېژی  چه پرې پوه شی نژدې لری

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خوږ والی کې ئې فرق دی　　نه تر کوډو دی شکری

کېښنه لری مچېنه

د ښکلی لری بسنېری

له یوه دریا به خېژی　　هر غچېچې مړ غلری

نفاوت ئې تر منځ د برد ی　　په قیمت دی سره لری

په دې دول دپښتو خوږ والی پای ته رسوی اوله دی تولو څخه دخوشحال خان غرنی همدا یوه جمله ده چه پښتنو ته وایی :

« خپله ژبه مه هېروی »

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوشحال خان قبر چه په کابل کښې د پښتو ټولنې له خوا د افغانستان د ښکلو ډېرو څخه جوړشوېدی چه دوه کاله دمخه هلته د خوشحالخان پرهدیرې ښودل شوېدی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د «بینوا» نور چاپ شوی آثار:

۱ـ میرویس نیکه: دهوتکو د شهنشاهي دمؤسس دژوند حالات او واقعات ،

۲ـ پښتني مېرمني: د افغانستان دنومیالیو مېرمنو تذکره .

۳ـ ادبي فنون: دالاندی علوم په پښتوبیان شوی او تطبیق شوی دی:
بدیع ،بیان ، معاني ، دلیکنې اصول ، خطابه ، قافیه ، عروض.

٤ـ چند آهنگ ملي: په فارسي ژبه دپښتو څو آهنگونه سره دنوتولو ـ چه
هر آهنگ په نوی عصري اصولو سم ور سره نوټ هم لري ،

٥ـ د غنمو وزی: دا یوه منظومه رساله ده چه د اعلیحضرت احمد شاه بابا
دتاج پوشۍ منظره تصویر شوي ده .

٦ـ ددار مستتر پښتو څېړني: (د حبیبي په مرسته)

۷ـ م گیتان جلي ترجمه: دا کتاب د هند د مشهور فیلسوف ناگور ادبي
کتاب دی چه له اردو ژبي څخه ترجمه شوی او په انیس کی
چاپ شوی دی .

۸ـ دپښتو کلي څلرم ټوك: دا دپښتو برلتس دسلسلي څلرم کتاب دی .

۹ـ دپیر محمد کاکړ ددیوان تدوین ، تصحیح او مقابله .

۱۰ـ درحمن بابا ددیوان تدوین، تصحیح او مقابله .

۱۱ـ نظری په پښتونستان: یوه وده پښتو رساله ده چه په دېر لنډ دول ئی
پښتونستان معرفي کړی دی .

۱۲ـ د اقبال دمسافر ترجمه: دعلامه اقبال دمسافر کتاب په پښتونظم ترجمه
شوی او په انیس کي چاپ شوی دی ،

۱۳ـ پښتونستان د پښتونستان د معرفۍ په باب کی مفصل کتاب دی چه
اوس تر چاپ لاندی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

که توفیق د اتفاق پښتانه مومی
زو رخوشحال به دوباره شی پیدا خوان

« خوشحال خټک »

د پښتو ټولنې له خپرو ترشفه



عمومي لمبر

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**